# هغه څه چې مسلمان ماشومان ترې

# باید بې خبره پاتې نه شي

ما لا يسع أطفال المسلمين جهله - بشتو

بيان الإسلام
Bayan AL-Islam

ح جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات ، ١٤٤٤ هـ

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

الغانم ، يزن

ما لا يسع أطفال المسلمين جهله- بشتو-٢. / يزن الغانم؛

جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات -ط٢. .- الرياض ، ١٤٤٤ هـ

١٤٢ص ؛ ١٤ × ٢١ سم

ردمك: ١-٨٠-٨٤٠٢-٦٠٣-٩٧٨

١- الاسلام - تعليم أ.جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات

(مترجم) ب.العنوان

ديوي ٢١٠,٧ ١٢٤٧٣ / ١٤٤٤

شركاء التنفيذ:

دار الإسلام جمعية الربوة رواد الترجمة المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع

الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.

Tel: +966 50 244 7000

info@islamiccontent.org

Riyadh 13245- 2836

www.islamhouse.com

# هغه څه چې مسلمان ماشومان ترې
# باید بې خبره پاتې نه شي

## مالا يسع أطفال المسلمين جهله

بشتو

**بسم الله الرحمن الرحيم**

## سريـزه

**د الله په مرسته، ټولې د کمال ستاينې خاص الله لره دي، اما بعد:**

4 دا هغه ديني مسائل دي چې مسلمان ماشومان ترې  بايد ناخبره پاتې نه شي، مور او پلار بايد خپلو اولادونو ته دغه مسألې له کوچنيوالي څخه ورزده کړي.

4 دا ډېر آسان  او بشپړ نصاب او منهج دی چې په عقيده، فقهې، سيرت، آدابو، تفسير، حديث، اخلاقو او د اذکارو په برخه کې، د ماشومانو او هر عمر لرونکو او هغه خلکو لپاره چی نوي په اسلام کی داخل شوي وي مناسب دی، دا په کورونو، وړکتونونو او ښوونځيو کې د حفظولو او تدريس په موخه ويشل کيږي، او ما يې (موضوعات) د هنرونو پر اساس ترتيب کړي، او د سوال او جواب په بڼه مې چمتو کړی دی، ځکه دا ذهن تيزوي، او د حفظ لپاره خورا ګټور دی، او روزونکی لدې څخه هغه څه غوره کوي چې د کوچنيانو د عمر سره مناسب وي.

له الله – تعالی – څخه غواړم چې ګټور تمام شي او قبول يې کړي.

د دې خبرې اصلي موخه د الله تعالی دغه وينا ده چی فرمايي:

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ (6).**

(ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو خپل ځانونه او خپلې کورنۍ له داسې اور نه وساتئ چې د هغه د سوند توکي خلک او کاڼي دي، هغه باندې ډېر سخت خويه او ځواکمني ملايکې مقررې دي، چې دوی په هغه څه کې د الله

نافرماني نه کوي چې دوی ته يې حکم کړی وي او دوی هغه څه کوي چې امر يې ورته کيږي). [سورة التحريم: ٦ ].

او د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما حديث چې فرمايلي يې دي: زه يوه ورځ (په سپرلۍ) د رسول الله صلى الله عليه وسلم پسې شاته ناست وم، هغه وفرمايل: **ای هلکه، زه تا ته څو کلمې درښايم: الله په ياد لره، هغه به ستا ساتنه وکړي، الله په ياد لره، هغه به دې په وړاندې ومومې، کله دې چې څه غوښتل نو له الله څخه يې وغواړه، او کله دې چې مرسته مرسته غوښتله، نو له الله نه يې وغواړه، او پوه شه: که دا ټول خلک راغونډ شي تر څو تاته د څه ګټه ورسوي، نو هغوی به تاته هيڅ ګټه و نه رسوي پرته له هغې چې الله درته ليکلې وي، او که دوی راغونډ شي چې تاته يو څه ضرر ورسوي، نو هيڅ ضرر به در ونه رسوي له هغه پرته چې الله تعالى درته ليکلي وي. قلمونه پورته شوي او کاغذونه وچ شوي دي.** ترمذي او احمد روايت کړی دی.

## د کوچنيانو د ښوونې د ارزښت په اړه

4 نو پر انسان لازم دي چې کوچنيانو ته هغه څه ور زده کړي چې په دين کې ورته اړتيا لري، تر څو هغه د اسلام د فطرت له مخې بشپړ انسان او د ايمان په لاره کې ښه موحد وروزل شي.

امام ابن أبي زيد القيرواني – رحمه - الله فرمايي:

**"او دا حکم راغلی چې کوچنيانو ته دې په اووه کلنۍ کې په لمانځه امر وشي، او په لس کلنۍ کې دې پرې ووهل شي، او په خوب ځايونو کې دې د دوی تر منځ**

جلاوالی راوستل شي، همدا رنګه بلوغ ته له رسیدلو وړاندې ورته پکار دي پدې پوه شي چې الله تعالی پر بندګانو له ویناوو او کړنو څخه څه فرض کړي دي، نو پداسې حال کې به بلوغ ته ورسیږي چې دا هر څه به یې زړونو ته کوز شوي وي، زړونو به یې ورته سکون موندلی وي، او هغه څه چې دوی یې کوي اندامونه او د بدن غړي به یې ورسره عادت شوي وي. د ابي زید القیرواني سریزه (٥ مخ).

* * *

## د عقيدې څانګه

### ١. پوښتنه: ستا رب څوک دی؟

**ج – زما رب الله دی؛ هغه ذات دی چې زه او ټول مخلوقات يې په خپلو نعمتونو پاللي يو.**

اودليل: دالله تعالى وينادہ:﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ 2﴾.

ټول (د کمال) صفتونه خاص د الله لپاره دي چې د ټولو عالَمونو ښه پالونکی دی [سورة الفاتحة: 2].

### ٢. پوښتنه: ستا دين څه شی دی؟

**ج– زما دين اسلام دی، او اسلام: الله ته په يوالي، او اطاعت سره تسليمېدل، له شرک او د هغه له پلويانو څخه بېزاري.**

الله تعالى فرمايي: ﴿إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ ...﴾

له شک پرته (معتبر) دين د الله په نزد اسلام دی. [سورة آل عمران: 19].

### ٣. پوښتنه: ستا پيغمبر څوک دی؟

**ج– محمد صلى الله عليه وسلم.**

الله تعالى فرمايي:﴿مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ ٱللَّهِ ...﴾

محمد د الله رسول دی [سورة الفتح: 29].

### ٤. پوښتنه: د توحيد کلمه ذکر کړئ او معنى يې څه ده؟

**ج – د توحيد کلمه " لا إله إلا الله " او معنى يې داده چې: له الله پرته بل حقيقي معبود نشته.**

الله تعالى فرمايي: ﴿فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ ...﴾

نو ته پوه شه چې بيشکه شان دا دی چې د عبادت هېڅ لايق نشته مګر الله دی. [سورة محمد: 19].

## ٥. پوښتنه: لوی او برتر الله چیرته دی؟

ج – الله په آسمان کې پر عرش باندې دی، له ټولو مخلوقاتو پورته دی.

الله تعالی فرمايي:﴿الرَّحْمَنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَى 5﴾

رحمٰن ذات د عرش د پاسه دی(څنګه چې د هغه د شان سره ښايي) [سورة طه: 5].

الله تعالی فرمايي: ﴿وَهُوَ ٱلۡقَاهِرُ فَوۡقَ عِبَادِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡخَبِيرُ 18﴾

او همدی غالب دی، د خپلو بنده ګانو له پاسه دی او همدی ښه حکمت والا، ښه خبردار دی [سورة الأنعام: 18].

## ٦. پوښتنه: د شهادة أنّ محمداً رسول الله معنی څه ده؟

ج – معنی يې دا ده: چې الله تعالی هغه د عالميانو لپاره زيری ورکونکی او ويرونکی رالیږلی دی.

ضرور داده چې:

**١- په هغه څه يې چې امر کړی اطاعت يې وشي.**

**٢- تصديق د هغه څه چې خبر يې پرې ورکړی.**

**٣- د هغه نافرماني نه کول.**

**٤- د الله عبادت نه کول مګر د هغه د شريعت مطابق، او د هغه د سنتو پيروي او د بدعت پرېښودل دي.**

الله تعالی فرمايي:﴿مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ ...﴾

چا چې د رسول اطاعت وکړ، نو يقينًا هغه د الله اطاعت وکړ. [سورة النساء: 80].

او الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى (3) إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى (4)﴾

او دی له خپل خواهش نه خبرې نه کوي. ندی دا (قرآن) مګر وحې چې (ده ته) وحې کيږي. [سورة النجم: 3، 4].

او الله تعالی فرمايي: ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا 21﴾

يقيناً ستاسو لپاره په رسول الله کې ډېره ښه اقتدا ده، د هغه چا لپاره چې د الله او د وروستنۍ ورځې تمه لري او الله ډېر زيات يادوي. [سورة الأحزاب: 21].

## ۷. پوښتنه: الله تعالی موږ ولې پيدا کړي يو؟

ج – موږ يې يوازې خپل عبادت ته پيدا کړي يو، چې هيڅ شريک نلری؛ نه د لهو او لوبو لپاره.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ 56﴾

او ما پېريان او انسانان ندي پيدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي [سورة الذاريات: 56].

## ۸. پوښتنه: عبادت څه شی دی؟

ج- عبادت يو جامع نوم دی د هر هغه څه لپاره چې الله يې خوښوي او پرې راضي کيږی، که هغه ظاهري يا باطني خبره او عمل وي.

ظاهري: لکه د الله يادول په ژبه باندې؛ سبحان الله، الحمدلله، الله اکبر، لمونځ او يا حج.

باطني: لکه: پر الله توکل، ورځخه وېره او ورته اميد ساتل.

## ۹. پوښتنه: زموږ لويه دنده څه ده؟

ج- زموږ تر ټولو لويه دنده: الله تعالی په يووالي سره منل دي.

## ۱۰. پوښتنه: د توحيد ډولونه کوم دي؟

ج-۱- د ربوبيت توحيد: ايمان لرل پر دې چې الله خالق، رازق، مالک او چاره ساز دی، يوازې دی او له ځان سره شريک نلري.

۲- د الوهيت توحيد: يوازې د الله جل جلاله عبادت کول دي، نو له الله تعالی پرته بايد د بل چا عبادت و نه شي.

٣- د اسما او صفاتو توحيد: د الله تعالى په نومونو او صفتونو ايمان لرل دي چې په قرآن او سنت کې ذکر شوي دي، پرته له تمثيل (بيلګې بيانولو)، تشبيه(د مخلوق سره تشبيه ورکولو) او تعطيل(له معنا څخه يې د انکار کولو) څخه.

او د توحيد د درې واړو ډولونو د ثبوت په اړه الله تعالى فرمايي: ﴿رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا فَٱعۡبُدۡهُ وَٱصۡطَبِرۡ لِعِبَٰدَتِهِۦۚ هَلۡ تَعۡلَمُ لَهُۥ سَمِيّٗا 65﴾

(دغه) د آسمانونو او ځمکې رب دى او د هغه څه چې د دغو دواړو په مينځ کې دي، نو ته د ده عبادت کوه او د ده پر عبادت ښه ټينګ اوسه، آيا ته د ده کوم همنام پيژنې! [سورة مريم: 65].

## ١١. پوښتنه: تر ټولو لويه ګناه کومه ده؟

ج – له الله تعالى سره شرک کول.

الله تعالى فرمايي: ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَىٰ إِثْمًا عَظِيمًا 48﴾

بېشکه الله نه بخښي دا چې له هغه سره دې (څوک) شريک کړى شي او هغه بخښي هغه (ګناه) چې له دې (شرک) نه کمه وي د چا لپاره چې وغواړي او څوک چې له الله سره شريک ونيسي، نو يقيناً هغه ډېره لويه ګناه راجوړه کړله. [سورة النساء: 48]

## ١٢. پوښتنه: شرک او ډولونه يې ذکر کړئ؟

ج- شرک: د عبادت په يو ډول سره د غير الله عبادت کول.

د شرک ډولونه:

**لوى شرک:** لکه: د غير الله را بلل، له هغه پرته بل ته سجده کول، يا له الله جل جلاله پرته بل ته قرباني کول.

**کوچنی شرک؛** لکه: له الله تعالی پرته په بل څه قسم خوړل، او تعویذونه - چې د ګټې او ضرر د له منځه وړلو په موخه - ځړول کیږي، او معمولي ځان ښودنه (ریا)؛ لکه د لمانځه ښه ادا کول لدې امله چې خلک يې ګوري.

### ۱۳. پوښتنه: آیا له الله تعالی پرته بل څوک په غیبو پوهیږي؟

ج – یوازې الله تعالی په غیبو پوهیږي.

الله تعالی فرمايي: ﴿قُل لَّا يَعۡلَمُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلۡغَيۡبَ إِلَّا ٱللَّهُۚ وَمَا يَشۡعُرُونَ أَيَّانَ يُبۡعَثُونَ 65﴾

ته (دوی ته) ووايه: هر هغه څوک چې په آسمانونو او ځمکه کې دي په غیبو نه پوهیږي غیر له الله نه او دوی نه پوهیږي چې کله به دوی بیا ژوندي کولی شي.

[سورة النمل: 65].

### ۱۴. پوښتنه: د ایمان بنسټونه وشمیرئ؟

ج- ۱- په الله تعالی،

۲- د هغه په پرښتو،

۳- د هغه په کتابونو،

٤- د هغه په پیغمبرانو،

٥- د آخرت په ورځ

٦- او د خیرا وشر په تقدیرایمان درلودل دي.

دلیل يې په مسلم کې د جبرائیل مشهور حدیث دی چې جبرائیل - علیه السلام - رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وفرمایل: "بیا د ایمان په اړه راته ووایه، هغه وويل: **په الله، د هغه په ملایکو، د هغه په کتابونو، د هغه په**

رسولانو، د قیامت په ورځ،او د خیر او شر په اندازه ایمان لرل دي( چې ټول د الله له طرفه دي)."

### ١٥. پوښتنه: دایمان ارکان تشریح کړئ؟

### ج- په الله تعالی ایمان لرل؛

دا باور لرل چې الله هغه ذات دی چې تاسو یې پیدا کړي یاست او تاسو ته یې روزي درکړې، او دا چې هغه یوازې د ټولو مخلوقاتو مالک او کار ساز دی.

او هغه معبود دی او له هغه پرته بل څوک د عبادت لایق نشته.

او هغه عظیم، لوی او بشپړ ذات دی، او ټوله ستاینه هغه لره ده، او د هغه لپاره ډېر ښایسته نومونه او لوړ صفتونه دي، د هغه سره هیڅ شی برابر نه دی او د هغه پاک ذات سره هیڅ شی ورته والی نه لري.

### پر ملائکو ایمان لرل:

دوی مخلوقات دي؛ الله تعالی له رڼا څخه پیدا کړي دي، او د خپل عبادت او په بشپړه توګه یې خپل امر ته د غاړې ایښودلو لپاره یې پیدا کړي دي.

او د هغوی له جملې څخه جبرائیل علیه السلام دی چې پر پیغمبرانو وحې نازلوي.

### په کتابونو ایمان:

دا هغه کتابونه دي چې الله تعالی پر خپلو رسولانو نازل کړي دي.

لکه قرآن: پر محمد صلی الله علیه وسلم.

انجیل: پر عیسی علیه السلام.

تورات: پر موسی علیه السلام.

زبور: پر داود علیه السلام.

د ابراهیم او موسی صحیفې: پر ابراهیم او موسی علیهما السلام.

## پر پیغمبرانو ایمان:

او دا هغه کسان دي چې الله تعالی خپلو بندګانو ته د دې لپاره رالیږلي چې دوی ته تعلیم ورکړي، دوی ته د نیکۍ او جنت زیری ورکړي، او دوی ته د بدۍ او اور څخه خبرداری ورکړي.

- له هغوی څخه اولو العزم دي، او هغوی دا دي:

نوح علیه السلام،

ابراهیم علیه السلام،

موسی علیه السلام،

عیسی علیه السلام او

محمد صلی الله علیه وسلم .

## د آخرت په ورځ ایمان:

دا هغه څه دي چې په قبر کې له مرګ څخه وروسته وي، او د قیامت ورځ، او بیرته د ژوندی کیدو او حساب ورځ، چېرته به چې جنتیان خپلو کورونو او د دوزخیان خپلو کورونو کې میشت شي.

## د خیر او شر په اندازه ایمان لرل (تقدیر)

تقدیر: دا عقیده لرل چې هر څه چې په کایناتو کې پیښیږي الله تعالی هغه باندې پوهیږي، او هغه دا په لوح محفوظ کې لیکلي، او د هغه د شتون او پیدا کولو اراده یې کړې.

الله تعالی فرمایلي: ﴿إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ 49﴾

بېشکه مونږ هر شي په اندازې سره پیدا کړی دی. [سورة القمر ٤٩].

تقدیر څلور مرتبې لري:

لــومـړی : د الله تعالی پوهه، د هغه له جملې څخه دا چی له هر څه نه مخکې پوه دی، وړاندې او وروسته له پېښيدو څخه.

دليل يې د الله تعالى دغه وينا ده: ﴿إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ 34﴾

بېشکه، خاص الله سره د قيامت علم دی؛ هغه باران ورروي او هغه (په يقيني طريقه، بې له وسايلو) پوهېږي په هر هغه څه چې په رحمونو کې دي او هېڅ يونفس نه پوهېږي چې هغه به سبا ته څه کار کوي او هېڅ يو نفس نه پوهېږي چې په کومه ځمکه (سيمه) کې به مري، بېشکه الله ښه عالم، ښه خبردار دی. [سورة لقمان: 34].

د ويـم : الله پاک هغه په لوح محفوظ کې ليکلي دي، نو هر څه چې پېښ شوي او پېښيږي هغه سره په کتاب کې ليکل شوي دي.

دليل يې د الله تعالى دغه وينا ده: ﴿وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ 59﴾

او خاص له الله سره د غيبو کونجياني دي، يوازې هغه پر دغو عالم دی او هغه عالم دی په هر هغه څه چې په وچه او سمندر کې دي، او هېڅ يوه پاڼه نه غورځېږي مګر هغه پرې عالم دی او د زمکې په تيارو کې نه يوه دانه (پرېوځي) او نه لوند څيز او نه وچ مګر (دا ټول) په ښکاره کتاب (لوح محفوظ) کې دي. [سورة الأنعام: 59].

د ريـم : دا چې هر څه د الله تعالى په ارادې سره کيږي او د هغه يا د هغه له مخلوق څخه هيڅ شی د هغه له ارادې پرته نه پيښيږي.

دليل يې د الله تعالی دغه وينا ده: ﴿لِمَنْ شَاءَ مِنْكُمْ أَنْ يَسْتَقِيمَ 28 وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ 29﴾

د هغه چا لپاره چې په تاسو کې غواړي چې دی نيغ برابر شي (28) او تاسو د ( سمې لارې) اراده نشئ کولی مګر دا چې الله رب العالمين يې اراده وکړي (29) [سورة التكوير: 28، 29].

څلورم: دا عقيده لرل چې ټول مخلوقات د الله تعالی له خوا پيدا شوي مخلوقات دي او د دوی نفسونه، صفات، حرکات او هر څه يې پيدا کړي دي.

دليل يې د الله تعالی دغه وينا ده: ﴿وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ 96﴾

حال دا چې الله تاسو او هغه عملونه چې تاسو يې کوئ، پيدا کړي دي [سورة الصافات: 96].

## ۱۶. پوښتنه: د قرآن تعريف څه دی؟

ج – دا د الله تعالی کلام دی، او مخلوق نه دی.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَإِنْ أَحَدٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّى يَسْمَعَ كَلَامَ اللَّهِ ...﴾

او که په مشرکانو کې يو تن له تا نه امان (پناه) وغواړي، نو هغه ته امان ورکړه تر هغه پورې چې هغه د الله کلام واوري. [سورة التوبة: 6].

## ۱۷. پوښتنه: سنت څه شی دی؟

ج- دا د رسول الله صلی الله عليه وسلم هر قول، عمل، تقرير، اخلاق او يا پيدايشي صفت دی.

## ۱۸. پوښتنه: بدعت (په دين کې نوی کار عقيده يا عمل پيدا کول) څه شی دی؟ ايا موږ يې منو؟

ج- هر هغه څه چې خلکو په دين کې رامنځ ته کړي وي او د رسول الله صلی الله عليه وسلم او د هغه د اصحابو په وخت کې نه وي

4 موږ يې نه منو، بلکې رد کوو يې .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې خبرې پر اساس چی فرمايي: **"هر بدعت ګمراهي ده"** ابوداود روايت کړی.

د بېلګې په توګه : په عبادت کې زياتوالی، لکه څلورم ځل په اودس کې د يو (غړي) وينځل او يا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ميلاد لمانځل، حال دا چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه له صحابه کرامو څخه ندي نقل شوي.

## 19. پوښتنه: د ولاء او براء (د الله لپاره د دوستی او دښمنی) عقيده بيان کړئ؟

### ج- ولاء (دوستي) : دمؤمنانوسره مينه اوملاتړدی.

الله تعالی فرمايي:﴿وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ...﴾

او مومن سړي او مومني ښځې، دوی ځينې د ځينو نورو دوستان دي [سورة التوبة: 71].

### براء (دښمني) : د کافرانو سره بغض او دښمني.

الله تعالی فرمايي: ﴿قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَآءُ مِنْكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاءُ أَبَدًا حَتَّى تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ﴾

يقينًا ستاسو لپاره يوه ښکلې طريقه په ابراهيم او په هغو کسانو کې ده چې له هغه سره ملګري وو کله چې هغوی خپل قوم ته وويل: بېشکه موږ له تاسو نه او له هغو څيزونو نه چې تاسو يې له الله نه غير عبادت کوئ، سخت بېزاره (او جدا) يو، موږ پر تاسو باندې منکران شوي يو او زموږ په مينځ او ستاسو په مينځ کې عداوت (دښمني) او بغض د تل لپاره ښکاره (او واقع) شوی دی، تر

هغه پورې چې تاسو په الله باندې ايمان راوړئ چې هغه يوازې دی. [سورة الممتحنة: 4].

## ٢٠. پوښتنه: آيا الله تعالى له اسلام پرته بل دين مني؟

ج – الله تعالى له اسلام پرته بل څه نه مني.

الله تعالى فرمايي: ﴿وَمَن يَبتَغِ غَيرَ ٱلإِسلَٰمِ دِينا فَلَن يُقبَلَ مِنهُ وَهُوَ فِى ٱلـَٔاخِرَةِ مِنَ ٱلخَٰسِرِينَ 85﴾

او څوك چې له اسلام نه غير (بل) دين غواړي، نو هېڅکله به هم له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په آخرت کې له تاوانيانو څخه دی. [سورة آل عمران ٨٥].

## ٢١. پوښتنه: كفر په وينا، عمل او عقيده كې وي، مثال يې ذكر كړئ ؟

ج – د ويلو بېلګه : الله پاک او رسول – صلى الله عليه وسلم – ته سپکې سپورې وييل.

د عمل بېلګه: قرآن ته سپکاوی يا د الله تعالى پرته بل چا ته سجده کول.

د عقيدې بېلګه : داسې عقيده لرل چې له الله تعالى پرته بل څوک د عبادت وړ دی، يا دا چې د الله تعالى سره بل خالق هم شتون لري.

## ٢٢. پوښتنه: نفاق څه شی دی او ډولونه كوم دي؟

ج-١- تر ټولو لوی نفاق: د کفر پټول او د ايمان ځرګندول دي.

له اسلام څخه ويستل کوي او هغه له لوی کفر څخه دی.

الله تعالى فرمايي: ﴿إِنَّ ٱلمُنَٰفِقِينَ فِى ٱلدَّركِ ٱلأَسفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُم نَصِيرًا 145﴾

بېشکه منافقان د اور تر ټولو لاندینۍ طبقه کې دي او ته به کله هم د هغوی لپاره څوک مرسته کوونکی ونه مومې. [سورة النساء ١٤٥].

## ٢- کوچنی نفاق:

**لکه: درواغ ویل، وعده ماتول او د امانت خیانت.**

(انسان) له اسلام څخه نه باسي ، او هغه له ګناهونو څخه دی او خاوند يې د سزا ور دی.

- رسول الله (ﷺ) فرمایلي دي: "**منافق درې نخښې لري: کله چې خبرې کوي دروغ وايي، کله چې وعده وکړي؛ وفا پرې نه کوي، او کله چې امانت وروسپارل شي خیانت کوي.**" بخاري او مسلم روایت کړی دی.

## ٢٣. پوښتنه: د انبیاوو او رسولانو وروستی څوک دی؟

**ج- هغه محمد صلی الله علیه وسلم دی.**

الله تعالی فرمايي: ﴿مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَۗ...﴾

محمد ((ﷺ)) ستاسو په سړیو کې د هیچا پلار ندی، مګر د الله رسول او د نبیانو (د لړی) ختموونکی دی. [سورة الأحزاب ٤٠].

- رسول الله (ﷺ) فرمایلي دي: "**زه د أنبیاوو د لړۍ پای ته رسوونکی یم، زما څخه وروسته بل پیغمبر نشته**". ابو داود، ترمذي او نورو روایت کړی دی.

## ٢۴. پوښتنه: معجزه څه شی دی؟

**ج- ټول هغه څه چې الله تعالی خپلو انبیاوو ته له خارق العاده(د عادت خلاف کارونه) کړنو څخه د دوی په رښتینولۍ د دلالت لپاره ورکړي دي معجزه بلل کیږي لکه:**

- د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره د سپوږمۍ دوه ټوټې کیدل.

- او د موسى عليه السلام لپاره د سمندر جدا کيدل او د فرعون او د هغه د لښکرو ډوبيدل.

**۲۵. پوښتنه: صحابه کرام څوک دي؟ او آيا زه بايد له هغوی سره مينه ولرم؟**

ج- صحابي: هغه څوک دی چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يې ليدلي وي، پر هغه يې ايمان راوړی وي او په اسلام مړ شوی وي.

-موږ له دوی سره مينه لرو، په لاره يې ځو او دوی له پيغمبرانو څخه وروسته ښه او غوره خلک دي.

او تر ټولو غوره يې: څلور خلفاء دي:

1- ابوبکر (رضي الله عنه)،

2- عمر (رضي الله عنه)،

3- عثمان (رضي الله عنه)،

4- علی (رضي الله عنه).

**۲۶. پوښتنه: د مؤمنانو ميندې څوک دي؟**

ج – د مؤمنانو ميندې د رسول الله صلی الله عليه وسلم مېرمنې دي.

الله تعالی فرمايي: ﴿ٱلنَّبِيُّ أَوۡلَىٰ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ مِنۡ أَنفُسِهِمۡۖ وَأَزۡوَٰجُهُۥٓ أُمَّهَٰتُهُمۡۗ﴾

نبي (محمد(ﷺ)) په مومنانو باندې د دوی له ځانونو نه زيات حقدار دی او د ده ښځې د دوی ميندې دي. [سورة الأحزاب: ٦ ].

**۲۷. پوښتنه: پر موږ باندې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د کورنۍ څه حق دی؟**

ج – موږ له دوی سره مينه لرو او دوستي ورسره کوو او له هغو کسانو څخه کرکه لرو چې له دوی څخه کرکه لري او په دوی کې له حده نه تېرېږو، او دوی (ال بيت النبی) د هغه مېرمنې، اولادونه، د هاشم او د المطلب مومنان اولادونه دي.

۲۸. پوښتنه: د مسلمانانو د حاکمانو په وړاندې زموږ دنده څه ده؟

ج- زموږ دنده: د هغوی احترام کول، هغوی ته غوږ نیول او پیروي یې کول خو د ګناه په کار کې نه، د هغوی په وړاندې بغاوت نه کول، او په پټه هغوی ته دعا کول او د هغوی خیر خواهي لټول.

۲۹. پوښتنه: د مؤمنانو کور څه دی؟

ج - جنت دی، الله تعالی فرمایي: ﴿إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ...﴾

بېشکه الله به هغه کسان چې ایمان یې راوړی او نیک عملونه یې کړي دي، داسې جنتونو ته ننباسي چې لاندې ترې ویالې بهېږي ... [سورة محمد: 12].

۳۰. پوښتنه: د کافرانو کور څه دی؟

ج- اور دی، الله تعالی فرمایي: ﴿فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ 24﴾

نو له هغه اور نه ځان وساتئ چې خس یې انسانان او تیږې دي، د کافرانو لپاره تیار کړی شوی دی. [سورة البقرة: 24].

۳۱. پوښتنه: ویره څه شی دی؟ او هلیه څه شی دی؟ او ثبوت یې څه دی؟

ج- ویره: له الله او د هغه له عذابه ویریدل.

هیله: د الله د ثواب، بخښنې او رحمت هیله لرل.

دلیل: د الله تعالی دغه وینا ده: ﴿أُولَئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَى رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُورًا 57﴾

دغه خلق چې دوی یې بلي، هغه خلق دي چې خپل رب ته وسیله(نزدیکت) لټوي چې په دوی کې کوم یو زیات نږدې دی، او د هغه د رحمت امېد لري او د هغه له عذابه وېرېږي، بېشکه د عذاب د رب ستا څخه بیره کیدی شي. [سورة الإسراء: 57].

الله تعالی فرمايي: ﴿نَبِّئْ عِبَادِي أَنِّي أَنَا الْغَفُورُ الرَّحِيمُ 49 وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ الْعَذَابُ الْأَلِيمُ 50﴾

زما بنده ګانو ته خبر ورکړه چې بېشکه زه، همدا زه ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی یم. او دا چې بېشکه زما عذاب، هم هغه ډېر دردوونکی عذاب دی. [سورة الحجر: 49، 50]

### ۳۲. پوښتنه: دالله تعالی څو نومونه او صفتونه یاد کړئ؟

ج- (الله) معبود، (رب) څښتن، (الرحمن) ډېر بخښونکی، (السمیع) د هر څه شبه اورېدونکی، (البصیر) د هر څه شبه لیدونکی، (العلیم) په هر څه شبه پوه، (الرزاق) شبه روزي ورکوونکی، (الحي) تل ژوندی، (العظیم) لوی... او داسې نور ښکلي نومونه او لوړ صفتونه.

### ۳۳. پوښتنه: دا نومونه تشریح کړئ؟

ج- الله: **دا د اله یعني معبود معنی ده چې په حقه سره یې عبادت کیږي، یوازې پرته له (کوم)شریک څخه.**

**(الرب)** پیداکوونکی او واکدار رزق ورکوونکی تدبیر کوونکی په دې ټولو کې یوازې دی د شریک څخه پاک دی.

(السمیع) هغه ذات چې پراخه دی د اوریدلو طاقت د هغه هر شي ته،ټول اوازونه اوري.

(البصیر) **:** هغه ذات چې هر شی ګوري،هر شی که غټ دی که وړوکی الله یې ګوري.

**(العلیم) :** هغه ذات چې هر شی یې په خپل علم کې راګیر کړی که پخوا و که اوس دي او که په راتلونکي زمانه کې دي.

( الــرحـمـن) : د هغه ذات رحمت هر مخلوق او ژوندي ته پراخ شوی ،او ټول بنده ګان او مخلوق د هغه تر رحمت لاندې دي.

( الــرزاق) : ښه روزي ورکوونکی: هغه ذات چې د ټولو مخلوقاتو روزي پرې ده ؛ له انسانانو، پېريانو او ټولو ژونديو مخلوقاتو څخه.

( الــحي) : ژوندی: هغه ژوندی چې نه مړ کيږي او ټول مخلوقات مړه کيږي.

( الـعظيـم ) : هغه ذات چې پوره کمال هغه لره دی، او ټوله لويي د هغه په نومونو، صفتونو او افعالو کې ده.

## ۳۴. پـوښـتـنـه: د مسـلـمـانـو علـمـاوو پـر ورانـدې زمـوږ دنـده څه ده؟

**موږ له دوی سره مينه لرو او په چارو او شرعي مسألو او نوازلو کې ورته ورګرځو او له نيکۍ پرته يې په بل څه نه يادوو او چا چې پرته لدې په نورو بدو سره ياد کړل نو هغه په سمه لار ندی.**

الله تعالی فرمايي: ﴿يَرۡفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا مِنكُمۡ وَٱلَّذِينَ أُوتُوا ٱلۡعِلۡمَ دَرَجَٰتٖۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِير 11﴾

اوچت به کړي الله تعالی هغه کسان چې مؤمنان دي په تاسو کې او هغه کسان چې علم ورکړل شوی په ډيرو درجو او الله په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ ښه خبر دی. [سورة المجادلة ١١].

## ۳۵. پـوښـتـنـه: د الله تـعـالـى دوسـتـان (اولـيـاء) څـوک دي؟

**ج- هغوی پرهيزګاره مؤمنان دي.**

الله تعالی فرمايي: ﴿أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ 62 الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ 63﴾

خبر شئ! بېشکه د الله دوستان چې دي؛ پر هغوی باندې نه څه وېره شته او نه دوی ته غم رسېږي. هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي او ځان ساتي. [سورة یونس: 62، 63].

### ۳۶. پوښتنه: آیا ایمان قول او عمل دی؟

ج- ایمان قول، عمل او باور دی.

### ۳۷. پوښتنه: ایمان زیاتیږي او کمیږي؟

ج – په طاعت سره ایمان زیاتیږي او په نافرمانۍ سره کمیږي.

الله تعالی فرمايي: ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ 2﴾

بېشکه مومنان هغه خلک دي، چې کله الله یاد کړی شي، نو د دوی زړونه ووېرېږي او کله چې دوی ته د هغه (الله) آیتونه تلاوت کړی شي، (نو) دغه (آیتونه) دوی ته ایمان ورزیات کړي او خاص په خپل رب باندې دوی توکل کوي. [سورة الأنفال: 2].

### ۳۸. پوښتنه: احسان څه شی دی؟

ج- د الله داسې عبادت کول چې ته یې وینې، او که ته یې نه وینې؛ هغه تا ويني.

### ۳۹. پوښتنه: د الله پاک په نزد عملونه کله قبلیږي؟

ج- په دوو شرطونو سره:

۱- کله چې خالص د الله تعالی د رضا لپاره وي.

۲- کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو مطابق وي.

### ۴۰. پوښتنه: پر الله تعالی توکل څه شی دی؟

ج – د اسبابو په اخستلو سره د ګټو په راجلبولو او د ضرر په دفع کولو کې په الله تعالی باور او اعتماد کول

الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ ...﴾

او هغه څوک چې په الله توکل وکړي، نو همغه د ده لپاره بسنه کوي (او کافی) دی ... [سورة الطلاق: 3].

﴿حَسْبُهُ﴾: یعنی کافي او بس دی.

### ۴۱. پوښتنه: (آمر بالمعروف و النهي عن المنكر) په نیکی امر کول او له بدیو منع کول څه دي؟

ج – معروف: د الله پاک په ټولو پېرويو باندی امر کول دي، او منکر: د الله تعالی د هر ډول نافرمانيو څخه ممانعت دی.

الله تعالی فرمايي: ﴿كُنتُمۡ خَيۡرَ أُمَّةٍ أُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ تَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَتَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَتُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِۗ ...﴾

تاسو غوره امت یاست ایستل شوي یاست د خلکو د فایدې د پاره، تاسوپه نېکۍ امر کوئ او له بدی څخه منع کوئ او په الله باندې ایمان راوړئ ... [سورة آل عمران ۱۱۰].

### ۴۲. پوښتنه: اهل سنت او جماعت څوک دي؟

ج – دوی هغه کسان دي چې په قول، عمل او عقيده کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د اصحابو په شان وي.

دوی اهل سنت نومول شوي دي: ځکه دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو پیروان او د بدعت پرېښودونکي دي.

دوی په جماعت نومول شوي دي: ځکه چې دوی په حق باندې راټول شوي او په اړه يې سره ندي جلا شوي.

* * *

## د فقهي څانګه

### ۱. پوښتنه: طهارت تعریف کړئ؟

ج- طهارت (پاکوالی): د ناپاکۍ لرې کول، او د پلیتۍ له منځه وړل دي.

د نجاست پاکي: د مسلمان لپاره لازم دي چې هر هغه نجاست چې د هغه په بدن، جامو، یا د لمانځه په ځای کې وي، هغه لرې کړي.

د نجاست پاکوالی: دا په اودس یا غسل، په پاکو اوبو یا تیمم سره کیږي، د هغه چا لپاره چې اوبو ته لاسرسی و نه لري او یا یې استعمالولی نه شي.

### ۲. پوښتنه: هغه څه چې نجاست ورته رسیدلی وي څنګه پاکوي؟

ج- په اوبو سره په مینځلو تر هغه چې پاک شي.

- او هغه څه چې سپي څټلی وي؛ اووه ځلې باید ومینځل شي لومړی ځل په خاورو سره.

### ۳. پوښتنه: د اودس فضیلت څه دی؟

ج- رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: **"کله چې یو مسلمان بنده " – یا "مؤمن" –اودس کوي –نو کله چې– " خپل مخ ومینځي؛ هره ګناه یې چې په سترګو کړې وي له اوبو سره د هغه له مخ څخه وځي" – یا " د اوبو په وروستي څاڅکي سره" – " او هر کله چې خپل لاسونه ومینځي، د هغه له لاسونو څخه هره هغه ګناه یې چې لاسونو سره کړې وي په اوبو سره د هغه له لاسونو څخه وځي" – یا "د اوبو په وروستي څاڅکي سره" – کله چې هغه خپلې پښې ومینځی؛ هره ګناه ته یې چې په پښو سره ورتګ کړی وي د اوبو سره د هغه له پښو څخه وځي " – یا "د اوبو له وروستي څاڅکي سره" – "تر هغه چې هغه له ګناهونو پاک شي."** مسلم روایت کړی.

### ۴. پوښتنه: اودس څنګه کوې؟

ج- درې ځلې لاسونه مينځل.

درې ځلې مضمضه **(خولې ته اوبه اچول)**، استنشاق **(پوزې ته اوبه اچول)** او استنثار کول **(له پوزې څخه بيرته د اوبو سونګول)**.

مضمضه ، د خولې مينځل : په خوله کې اوبه اچول، او د هغې اړول راړول او بېرته توی کول.

استنشاق ، په ښي لاس سره پزې ته د هوا په کش کولو سره اوبه اچول.

استنثار ، له پزې څخه اوبه ايستل: د استنشاق نه وروسته په چپ لاس له پزې څخه د اوبو ايستل دي.

بيا درې ځلې مخ پرېمينځل.

بيا لاسونه سره د څنګلو درې ځلې پرېمينځل.

بيا سر مسح کول ، په لاسونو دې چې مخکې او وروسته يې کش کړې، او غوږونه ورسره مسح کړې.

بيا درې ځلې خپلې پښې سره د ښنګرو مينځل.

دا بشپړ اودس دی، او دا له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه په بخاري او مسلم کې په احاديثو ثابت دی چې له عثمان، عبدالله بن زيد او نورو څخه روايت شوی دی. او د هغه څخه په بخاري او نورو کې هم ثابت دي چې: **رسول الله صلی الله عليه وسلم يو يو ځل اودس وکړ، او دوه دوه ځله يې اودس وکړ، يعنې: د اودس هر غړی يې يو يا دوه ځلې ومينځه.**

### ۵. پوښتنه: د اودس فرضونه کوم او څو دي؟

ج – د اوداسه فرضونه هغه څه دي چې که يو يې پاتې شي نو پرته له هغې د مسلمان اودس نه صحيح کيږي.

۱- د مخ مينځل، سره له مضمضې او استنشاق،

۲- د لاسونو مينځل تر څنګلو پورې،

۳- د غوږونو په شمول د سر مسح کول،

٤- د پښو مينځل تر ښنګرو پورې،

٥- د غړو تر مينځ ترتيب مراعاتول، لکه د مخ مينځل، بيا لاسونه، بيا د سر مسح، او بيا د پښو مينځل،

٦. موالات: يعنى په دوامداره توګه اودس کول، پرته له وقفې څخه تر څو مخکنى غړى وچ نه شي.(يعنې مخکې لدې چې مخکې غړى وچ شي بايد ورپسې نور غړي ژر ومينځل شي)

– لکه دا چې نيم اودس وکړي او نيم يې بل وخت پوره کړي، نو په دې شکل يې اودس صحيح نه دى.

## ٦. پوښتنه: په اودس کې څو سنتونه دي بيان يې کړئ؟

ج – د اودس سنتونه: هغه کارونه دي که يې وکړل؛ اضافي اجر او ثواب لري، او که چېرته يې پرېښودل نو ګناه پرې نشته، او اودس يې صحيح دى.

۱- تسميه: بسم الله ويل،

۲- مسواک وهل،

۳- د لاسونو مينځل،

٤- د ګوتو خلالول،

٥- د اعضاوو دوه او درې ځلې مينځل،

٦- له ښي خوا پيل کول،

٧- له اودس څخه وروسته دا دعا وييل: «أشهد أن لا إله إلا الله، وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله». "زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته، هغه يوازې دی او شريک نه لري، او شاهدي ورکوم چې محمد – صلى الله عليه وسلم د هغه بنده او رسول دی" ٨- له هغه وروسته دوه رکعته لمونځ کول،

٨- له هغه وروسته دوه رکعته لمونځ کول.

### ٧. پوښتنه: د اودس ماتوونکي وشميرئ؟

ج- اودس ماتوونکي هغه څه دي چې له دوو لارو؛ شرمګاه او مقعد څخه راوځي، لکه ، ډکې، تشې متيازې، باد او داسې نور لکه:

خوب، ليونتوب، يا بې هوښي،

د اوښ غوښه خوړل،

پرته له پردې څخه لاس سره د شرمګاه يا مقعد لمس کول.

### ٨. پوښتنه: تيمم څه شی دی؟

ج- تيمم : د خاورې او د زمکې د نورو برخو استعمال ته تيمم وايي، کله چې اوبه شتون و نه لري او يا د عذر له امله يې استعمالولی نه شي.

### ٩. پوښتنه: تيمم څنګه کوې؟

ج- په ورغوو سره يو ځل د زمکې وهل، او د مخ او لاسونو شاګاني پرې يو ځل مسح کول

### ١٠. پوښتنه: د تيمم ماتوونکي کوم دي؟

ج- ټول هغه څه چې اودس ماتوي.

کله چې اوبه وموندل شي.

### ١١. پوښتنه: موزې او جرابې څه شی دي؟ آيا هغې دواړو باندې مسح کيږي؟

ج- موزې (خفین) : هغه څرمنیزو موزو ته وایې چې پښو ته وراغوستل کیږي.

جرابې : هغه څه چې له څرمن پرته په پښو کیږي.

د پښو مینځلو پر ځای پرې مسح کول روا دي.

**۱۲. پوښتنه: په ماسیو (خفین) د مسحې کولو حکمت ذکر کړئ؟**

ج – پر بنده ګانو آساني او د تکلیف کمول، په ځانګړې توګه د یخنۍ ژمي او سفر په وخت کې، کله یې چې لرې کول ستونزمن وي.

**۱۳. پوښتنه: پر ماسیو (خفین) د مسحې کولو شرطونه کوم دي؟**

ج- ۱- د موزو (خفینو) اغوستل د پاکوالي په حالت کې، یعني له اودس نه وروسته.

۲- موزې باید پاکې وي، په ناپاکو موزو مسح کول روا ندي.

۳- موزو باید هغه ځای پټ کړی وي چې په اودس کې یې وینځل لازم دي.

٤- مسح باید په ټاکلې موده کې وي، د مقیم او غیر مسافر لپاره: یوه شپه او ورځ، او د مسافر لپاره: درې ورځې او شپې.

**۱۴. پوښتنه: پر موزو د مسحې کولو طریقه څرنګه ده؟**

ج- د مسحې کولو طریقه دا ده: د لاسونو لمدې ګوتې به د پښو په ګوتو کېږدي بیا دې پورته تر لینګي پورې کش کړي، ښۍ پښه په ښي لاس او چپه پښه دې په چپ لاس مسح کړي، او د مسحې په وخت کی به خپلې ګوتې پرانیزي او تکرار به نه کوي.

**۱۵. پوښتنه: څه شی پر جرابو مسح کول ماتوي؟**

ج ١- د مسحې لپاره د ټاكلې مودې ختمېدل، د شريعت د ټاكلې مودې له تېرېدو وروسته په موزو باندې مسح كول روا ندي، د مقيم لپاره يوه ورځ او يوه شپه، او درې ورځې او شپې د مسافر لپاره.

٢- د موزو ويستل، كه څوک له مسحې كولو وروسته د دواړو پښو موزې يا يو له هغو څخه وباسي نو مسح يې باطل ده.

### ١٦. پوښتنه: د لمانځه معنى؟

ج- لمونځ: په خاصو ويناوو او كړنو سره د الله جل جلاله عبادت دى، په تكبير سره پيل او په سلام سره پاى ته رسول دي.

### ١٧. پوښتنه: د لمانځه حكم؟

ج- لمونځ په هر مسلمان فرض دى.

الله تعالى فرمايي: ﴿إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَوْقُوتًا 103﴾

بېشكه لمونځ په مومنانو باندې په (معلومو) وختونو كې فرض كړى شوى دى. [سورة النساء: 103].

### ١٨. پوښتنه: د لمونځ نه كولو حكم څه دى؟

ج- لمونځ پرېښودل كفر دى، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "زموږ او د دوى تر منځ تړون لمونځ دى، نو چا چې دا پرېښود، هغه كافر شو." د احمد او ترمذي او نورو روايت دى.

### ١٩. پوښتنه: پر مسلمان په ورځ او شپه كې څو لمونځونه واجب دي؟ د هر لمانځه لپاره څو ركعتونه دي؟

ج- په ورځ او شپه كې پنځه وخته لمونځ فرض دى، د سهار لمونځ: دوه ركعته، د ماپښين لمونځ: څلور ركعته، د مازيګر لمونځ: څلور ركعته، د ماښام لمونځ: درې ركعته، او د ماخستن لمونځ: څلور ركعته دي.

### ٢٠. پوښتنه: د لمانځه شرطونه وشميرئ؟

ج- ١- اسلام؛ نو د کافر لمونځ صحیح ندی،

٢- عقل؛ نو د لیوني لمونځ صحیح ندی،

٣. تمیز؛ نو د کوچني ماشوم چی توپیر نشي کولای د هغه لمونځ صحیح ندی،

٤- نیت،

٥- د وخت داخلیدل،

٦- پاکوالی او د بې اودسی لرې کول،

٧- له نجاست نه پاکوالی،

٨- د عورت پټول،

٩ – قبلې ته مخامخ کېدل،

## ٢١. پوښتنه: د لمانځه رکونونه وشمېرئ؟

ج- لمونځ څوارلس رکنونه لري، چې په لاندې ډول دي:

یو له هغو څخه: **هغه څوک چی د دریدلو توان لري باید په فرض لمانځه کې ودریږي.**

تکبیر تحریمه: **«الله اکبر»،**

**د فاتحې سورت لوستل،**

رکوع کول، **خپله شا باید د سر سره یو برابر کړي،**

**له رکوع څخه پورته کیدل،**

**برابر دریدل،**

سجده کول، او د سجدې ځای باندی خپل تندی، پوزه، لاسونه، زنګنونه او د پښو د ګوتو څوکې لګول،

**د سجدې څخه پورته کیدل،**

**د دوو سجدو تر منځ کیناستل،**

سنت دا دي چې: **چپه پښه وغځول شي او هغې باندې کېني، ښۍ پښه دې قبلې خوا ته ولاړه وساتي،**

اطمینان او آرامتیا، **او هغه په هر فعلی رکن کی باید خپله آرامتیا وساتي،**

**ورروستی تشهد،**

**تشهد ته کښیناستل.**

دواړو خواوو ته سلام ګرځول **او هغه دا چې هر لوري ته مخ اړولو سره ووایي: "السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته."**

د رکنونو ترتیب - **لکه څرنګه چې مو یادونه وکړه - د مثال په توګه، که هغه په قصدي توګه له رکوع څخه مخکې سجده وکړه؛ لمونځ یې باطل شو؛ او که یې په سهوه کې وکړه وروباندې لازم دي چې رکوع وکړي او بیا سجده وکړي.**

## ۲۲. پوښتنه: د لمانځه واجبات ذکر کړئ؟

ج- د لمانځه واجبات اته دي، او په لاندې ډول دي:

**۱- له تحریمه تکبیر پرته نور تکبیرونه،**

**۲- د (سمع الله لمن حمده) وییل، د امام او منفرد لپاره،**

**۳- د (ربنا و لک الحمد) وییل،**

**٤- د (سبحان ربي العظیم) وییل، په رکوع کې یو ځل،**

**٥- د (سبحان ربي الأعلی) وییل، یو ځل په سجده کې.**

**٦- د (رب اغفر لی) وییل، د دوو سجدو په مینځ کې،**

**۷- لومړی تشهد،**

**۸- د لومړي تشهد لپاره کیناستل.**

## ٢٣. پوښتنه: د لمانځه سنتونه څو او کوم دي؟

ج- د لمانځه سنتونه يوولس دي، چې په لاندې ډول دي:

**١- د تكبير تحريمې له ويلو څخه وروسته بايد ووايې: « سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَ بِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلَا اِلَهَ غَيْرُكَ.**

اى الله! پاكي او ستاينه يوازې تا لره ده او نوم دې مبارک دی،شان دې لوړدی او له تا پرته بل معبود نشته. دې ته د استفتاح دعا ويل كيږي.

**٢. تعوذ: اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَنِ الرَّجِيْمِ .**

**٣. بسم الله پوره ويل(بسم الله الرحمن الرحيم)**

**٤- د آمين وييل.**

**٥- له فاتحې وروسته د سورت لوستل.**

**٦- (په جهري لمانځه كې)**

**د امام لپاره په لوړ آواز قراءت كول.**

- له سمع الله لمن حمده څخه وروسته: **"ملء السَّمٰوات، وملء الأرض، وملء ما شئت من شيء بعد".** وييل : يعني ؛ حمد او ثنا دې وي تا لره د آسمانونو په اندازه، د زمكې په اندازه، او د هر هغه څه په اندازه چې ته يې غواړې،

**٨- په ركوع كې له يو ځل څخه زيات تسبيح وييل: يعني: دويم او دريم ځل تسبيح او يا له دې څخه ډير،**

**٩- په سجده كې له يو ځل څخه زياد د تسبيحاتو وييل،**

**١٠- هغه څه چې د دوو سجدو په منځ كې يې له يو ځل څخه زيات ووايې: رب اغفرلي، يعنى اى ربه ما وبخښه.**

۱۱- په وروستي تشهد کې پر هغه د هغه پر کورنۍ او د الله په نيکو بنده ګانو باندې درود او سلام ويېل او وروسته ورڅخه دعا کول،

څلورم: فعلی سنتونه، او هيئات بلل کيږي:

۱- تحريمه تكبير سره د لاسونو پورته کول،

۲- او د رکوع پر مهال،

۳- د رکوع څخه د پورته کيدو پر مهال،

٤- او له هغه وروسته يې ښکته کول،

٥- ښي لاس په چپ لاس باندی ايښودل،

٦- د سجدې ځای ته کتل،

۷- د ودريدلو پر مهال د پښو جلا کول،

۸- په خپلو لاسونو يې زنګونونه کلک نيول، په داسی حال کی چې ګوتې يې په رکوع کې پرانستې وي،او ملا يې هواره اوږده کړې وي او سر يې هم د ملا سره برابر نيولی وي.(نه کښته وي او نه پورته)،

۹- د سجدې غړي بايد زمکې باندې د سجدې پر ځای ونښلوي،

۱۰- متې له تشو (څنګونو) څخه جلا کول، او خيټه له ورنونو څخه او ورنونه له پنډيو څخه، او د پنډيو او دزنګونونو تر مينځ جداوالی،او د پښو نيغ درول، د پښو د ګوتو لاندې برخه په ځمکه کېښودل پداسې حال کې چې سره جلا وي، او لاسونه د اوږو برابر اېښودل په داسې حال کې چې ګوتې يو له بل سره نښتې وي،

۱۱- د دوو سجدو تر منځ غوړیدلی کیناستل، او په لومړي تشهد کې هم او په دویم تشهد کې تورک کول.(چپه پښه د ښۍ پښې لاندې کول او ښۍ پښه نیغه ودرول او په چپ کوناټي کښیناستل. دې ته تورک وايي)

۱۲- د دواړو سجدو په منځ کې لاسونه په غځیدلی شکل باندی په ورنونو ایښودل، او د دو سجدو په منځ کې هم چې ګوتې باید یو له بل سره نښتې وي، او همدا رنګه په تشهد کې هم، مګر دا چې د ښي لاس سلطانۍ او خچې (څلورمه او پنځمه) ګوتې ونیول شي، غټه او منځنۍ ګوتې سره حلقه کړای شی، او د الله د ذکر په وخت کې د شهادت ګوتی سره اشاره وشي.

۱۳- د سلام په وخت کې ښي او چپ لوري ته مخ کول.

## ۲۴. پوښتنه: د لمانځه باطلوونکي کوم دي؟

ج- (۱) د لمانځه د یو رکن او یا له شرطونو څخه د یو شرط پرېښودل،

(۲) قصداً خبرې کول،

(۳) خوړل او څښل،

(4) ډیر پرله پسي حرکتونه،

(٥) د لمانځه د واجباتو څخه یو واجب په قصدي توګه پرېښودل،

## ۲۵. پوښتنه: مسلمان به څنګه لمونځ کوي؟

ج- د لمانځه طریقه:

۱- په ټول بدن سره قبلې ته مخامخ کېدل، پرته له انحراف او یو خوا او بل خوا کتلو څخه.

۲- بیا به په زړه کې پرته له تلفظ کولو څخه د هغه لمانځه نیت کوي چې د کولو اراده يې لري.

٣- بیا تکبیر تحریمه: الله اکبر وایي او د تکبیر د ویلو پر مهال خپل لاسونه تر اوږو پورې پورته کوي.

٤- بیا د سینې ډله پاسه د ښي لاس ورغوی د چپ لاس په شا باندی ږدي.

٥- بیا شروع کوي او وایي: اللّٰهُمَّ باعد بيني وبين خطاياي كما باعدت بين المشرق والمغرب، اللّٰهُمَّ نقني من خطاياي كما يُنقى الثوب الأبيض من الدنس، اللّٰهُمَّ اغسلني من خطاياي بالماء والثلج والبرد». ای الله ما له ګناهونو څخه داسې جلا کړه لکه څنګه چې تا ختيځ له لويديځ څخه لرې کړی، ای الله ما له ګناهونو څخه داسې پاک کړه لکه سپينه جامه چې له کثافاتو څخه پاکيږي، ای الله ما له ګناهونو څخه په اوبو، واورو او ګلۍ سره پاک کړه.

یا وایي: سُبْحَانَکَ اللَّهُمَّ وَ بِحَمْدِکَ وَتَبارَکَ اسْمُکَ ،وَ تَعَالَی جَدُّکَ وَلَا اِلَهَ غَیْرُکَ. ای الله! پاکي او ستاینې یوازې تالره دي او نوم دې مبارک دی، شان دې لوړدی او له تا پرته بل معبود نشته .

٦- بیا تعوذ وایي: اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطَنِ الرَّجِیْمِ . زه الله ته پناه وروړم له رټلي شیطان څخه.

٧- بیا بسم الله او د فاتحې سورت لولي، نو وایې: ﴿بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ (1)

د الله په نامه سره (شروع کوم) چې ډېر زیات مهربان، همیشه رحم کوونکی دی.

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ (2). ټول (د کمال) صفتونه خاص د الله لپاره دي چې د ټولو عالَمونو ښه پالونکی دی.

ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ (3). ډېر زیات مهربان، همیشه رحم کوونکی دی.

مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ (4). د بَدلې د ورځې مالك دی.

إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ (5). مونږ خاص ستا عبادت کوو او خاص له تا نه مدد غواړو.

اهدِنَــــا الصِرّاطَ المُستَقِيمَ (6). ته مونږ ته سَمَه (نېغه) لاره وښَيه.

صِرَاطَ الَّذِينَ أَنعَمتَ عَلَيهِمْ غَيرِ المَغضُوبِ عَلَيهِمْ وَلاَ الضَّالِّينَ (7). د هغو خلکو لاره چې تا پر هغوی باندې انعام کړی دی؛ چې نه غضب کړای شوي او نه ګمراهان دي. [سورة الفاتحة:1-7].

بیا وایي: (آمین) یعني: اې الله قبول یې کړه.

٨- بیا دې هغه قران ولولي چې ورته اسان وي او د سهار په لمانځه کې دې تلاوت اوږدوي.

٩- بیا رکوع کوي، یعني: د الله د تعظیم لپاره سر ښکته کوی ، او د رکوع په وخت کې تکبیر وایي، او لاسونه د اوږو پورې پورته کوي. او سنت دا دي چې: خپله شا اوږده کړي(همواره)، او خپل سر ور سره برابر کړي، او لاسونه پر زنګنونو کېږدي پداسي حال کې چې ~~او~~ ګوتې یې جلا سره وي.

١٠- په رکوع کې درې ځلې: «سُبْحَانَ اللّهِ الْعَظِيْمِ» وایي او که دا ووایي: « سبحانك اللّٰهُمَّ وبحمدك، اللّٰهُمَّ اغفر لي(١). نو غوره ده .اې الله! پاکي او ستاینې یوازې تالره دي، یا الله ما ته بخښنه و کړه.

١١- بیا خپل سر له رکوع څخه پورته کوي او وایي: سمع الله لمن حمده " الله د ثنا ویونکو ستاینه واورېده." بیا لاسونه پورته کوي تر اوږو پورې، او مقتدي دا نه وایي: " سمع الله لمن حمده " بلکه وایي: ربنا ولك الحمد ، "زموږ ربه ستاینه خاص تا لره ده."

۱۲- بیا له پورته کیدو وروسته وايي: : «ربنا ولك الحمد، ملء السماوات والأرض، وملء ما شئت من شيء بعد». "زموږ ربه ستا ستاینه ده، د آسمانونو او ځمکې د ډکوالي په اندازه او د هغه څه د ډکوالي په اندازه چې تاسو يې غواړئ."

۱۳- بیا لومړۍ سجده کوي، او د سجدې پر مهال وايي: الله أکبر"الله لوی دی" او په اوو غړو سجده کوي: تندی سره د پزې، لاسونه، زنګنونه، د پښو سرونه، او خپلې متې به له اړخونو څخه لرې ساتي، څنګلي به په ځمکه نه خپروي، او د ګوتو سرونه به قبلې ته مخامخ کوي.

۱٤- په سجده کې درې ځلې: " سبحان ربي الأعلى "وايي او که يې دا الفاظ ورزيات کړل: "«سبحانك اللّٰهُمَّ ربنا وبحمدك، اللّٰهُمَّ اغفر لي " نو غوره ده. اې الله! پاکي او ستاينې يوازې تالره دي، يا الله ما ته بخښنه و کړه.

۱۵- بیا له سجدې څخه سر پورته کوي او وايي: الله أکبر (الله لوی دی).

۱٦- بیا د دواړو سجدو په مینځ کې په چپه پښه کښيني، ښۍ پښه ودروي، خپل ښی لاس د خپلې ښۍ پښې په ورون زنګون ته نږدې ږدي، او د ښي لاس سلطانۍ او خچه (څلورمه او پنځمه) ګوته کلکې نيسی، غټه او منځنۍ ګوتې سره حلقه کوي، او د دعا په وخت کې د شهادت ګوتې سره اشاره کوي، او خپل کيڼ لاس د ګوتو په خپرولو سره په چپ ورون ږدي په هغه ځای کې چې زنګون ته نږدی دی.

۱۷- د دوو سجدو تر منځ د ناستې په وخت کې وايي: «رب اغفر لي، وارحمني، واهدني، وارزقني، واجبرني، وعافني». " ای ربه، ما ته بخښنه وکړه، پر ما رحم وکړه، ما ته لارښوونه وکړه، ما ته روزي راکړه، زما په زړه پټۍ ولګوه، او زما حفاظت وکړېوکړه."

١٨- بيا لكه د لومړۍ سجدې به ځېر دويمه سجده كوي، او د سجدې پر مهال تكبير وايي.
١٩- بيا له دويمې سجدې څخه پاڅيږي او وايي: الله أكبر «الله لوى دى» او دويم ركعت لكه د لومړي ركعت په ځير اداء كوي، مګر دا چې په هغه كې استفتاحيه دعا نه وايي.
٢٠- بيا د دويم ركعت له پاى ته رسيدو وروسته كښيني او وايي: الله اكبر، «الله لوى دى» او كښيني څرنګه چې د دوو سجدو په منځ كې ناست و.
٢١ - په دې ناسته كې تشهد ويل كيږي او وايي: «التحيات لله والصلوات والطيبات، السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته، السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين، أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، اللَّهُمَّ صلِّ على محمد وعلى آل محمد، كما صليت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم، إنك حميد مجيد، وبارك على محمد وعلى آل محمد، كما باركت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم، إنك حميد مجيد. أعوذ بالله من عذاب جهنم، ومن عذاب القبر، ومن فتنة المحيا والممات، ومن فتنة المسيح الدجال».
«ثناء، ستاينه او پاكي الله لره دي، اى نبي! پرتا دې سلام، د الله رحمت او بركتونه دې وي، پرمونږ او د الله پر نيكو بندګانو دې سلام وي، شاهدي وركوم چې يې له الله پرته بل لايق د عبادت نشته او شاهدي وركوم چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله بنده او رسول دى. يا الله! پر محمد صلى الله عليه وسلم او دهغه پركورنۍ رحمت ووروه، لكه پر ابراهيم عليه السلام او د هغه پركورنۍ دې چې لورولې ، بېشكه ته ستايل شوى او لوى يې .اى الله !پر محمد او د هغه پر كورنۍ بركتونه ووروه، لكه پر ابراهيم عليه السلام او د هغه پركورنۍ دې چې ورولې يې

~~و~~و، بېشکه ته ستايل شوى او لوى يې . زه د دوزخ له عذابه، د قبر له عذابه، د ژوند او مرګ له فتنو او د دجال له فتنو څخه په الله پناه غواړم.» بيا له خپل رب څخه د دنيا او آخرت د خير غوښتنه کوي.

۲۲- بيا ~~ښي اړخ ته سلام اړوي وايي~~ په: السلام عليكم ورحمة الله وبركاته) وييلو سره ښي او چپ لور ته سلام اړوي. ~~او چپ طرف ته هم همداسې.~~

۲۳ – که لمونځ درې يا څلور رکعتي وي ~~ى~~، د لومړي تشهد په پاى کې «أشهد أن لا إله إلا الله، و أشهد أن محمداً عبده ورسوله». وايي

يعنى زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته او شاهدي ورکوم چې محمد د هغه بنده او رسول دى» او توقف کوي.

۲٤- بيا پاځيږي او وايي: الله أكبر «الله لوى دى» او په دې وخت کې د اوږو پورى لاسونه پورته کوي.

۲٥- بيا خپل پاتې لمونځ لکه د دويم رکعت په څېر ادا کوي، خو د فاتحې په ويلو بسنه کوي.

۲٦ – بيا په متورک شکل ~~کينى~~ کيني ~~نو~~ داسې چې خپله ~~ښى~~ ښى پښه ودروي ~~-~~ او چپه پښه به ~~له~~ د ښى پښې د ساق لاندې ~~تيروى~~ تيروي او خپل مقعد به په ځمکه ~~نښلوي~~نښلوي، او لاسونه به په ورنو ~~کې~~ ږدى په هغه طريقه لکه څنکه يې چې په تشهد اول کې ايښي وو.

۲۷ – په دې ناسته کې ټول تشهد ويل کيږي.

۲۸- بيا ~~ښي~~ ښې لورې ته سلام اړوي او وايي: «السلام عليكم ورحمة الله وبركاته» او چپ طرف ته هم.

**۲٦. پوښتنه: د لمانځه څخه له سلام اړولو وروسته کوم اذکار وايې؟**

ج- أَسْــتَـغْـفِـرُ اللهَ، "زه د الله څخه بخښنه غواړم". (درې ځله).

- «الـلّـهُـمَّ أَنْــتَ الـسَّلامُ، وَمِــنْـكَ الـسَّلام، تَـبـارَكْـتَ يـا ذا الـجَـلالِ وَالإكْــرام». - "اې الله، ته سلام يې، او ستا د طرفه سلامتيا ده، ته برکت ورکولو والا ذات يې، اى د عظمت او عزت خاونده."

- «لا إلـهَ إلاّ اللّهُ وحدَهُ لا شريكَ لـهُ، لـهُ الـمُـلْكُ ولـهُ الـحَمْد، وهوَ على كلّ شَيءٍ قَـدير، الـلّـهُـمَّ لا مـانِعَ لِـما أَعْطَـيْت، وَلا مُعْطِـيَ لِـما مَـنَـعْت، وَلا يَـنْفَـعُ ذا الـجَـدِّ مِـنْـكَ الـجَـد». - له الله پرته بل معبود نشته، ~~يوازيي~~وازي، بې شريکه دى، هغه لره پاچاهي ده او هغه لره ستاينه ده او هغه پر هر څه قادر دى، اى الله! هر څه چې ورکوې څوک يې مخه نشي نيولى، او هر څه چې له چا څخه منع کوې څوک يې نشي ور کولى.فايده نه شي ورکولاى خاوند د شرافت او مرتبې ته ستا د عذاب په مقابل کې شرافت او مرتبه د هغه.

- «لا إلـهَ إلاّ الله، وحدَهُ لا شريـكَ لـهُ، لـهُ الـملكُ ولـهُ الـحَمد، وهوَ على كلّ شيءٍ قـديـر، لا حَـوْلَ وَلا قـوَّةَ إلاّ بِـالله، لا إلـهَ إلاّ الله، وَلا نَـعْـبُـدُ إلاّ إيّـاه، لَـهُ الـنِّعْـمَةُ وَلَـهُ الـفَضل وَلَـهُ الـثَّـنـاءُ الـحَـسَن، لا إلـهَ إلاّ الله مخْلِصـينَ لَـهُ الـدِّيـنَ وَلَـوْ كَـرِهَ الـكـافِـرون». "له الله پرته بل معبود نشته، يوازينى، بې شريکه دى، پاچايي د هغه ده او ستاينه همغه لره ده، او هغه په هر څه قادر دى، ~~د الله~~ نشته له بدى اړول او ~~په~~ د نيکۍ توفيق ورکول مګر د الله په ~~مدد~~ مرسته، ~~د~~ له الله پرته بل معبود نشته، او موږ د بل چا عبادت نه کوو

مګر د لوی الله، الله لره لورينه او غوره والی او ~~نيکه~~ نېکه ستاينه ده، نشته بل معبود پرته د لوی الله څخه، هغه ته په دين کې مخلص يو، که څه هم کافران يې بد ګڼي.

- «سُبْحانَ اللهِ» (دري ځلې ځلي).

«الحَمْدُ لله» (دري ځلې ځلي).

«اللهُ أكْبَر» (دري ځلې ځلي).

بيا د سل پوره کولو لپاره وايي: «لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد، وهو على كل شيء قدير». **"له الله پرته بل معبود نشته هغه يو دی شريک نه لري، د هغه لپاره پاچاهي ده او د هغه لپاره ستاينه ده، او هغه په هر څه قادر دی."**

د اِلاخلاص سورت او معوذات (١) تلاوت کوي. درې ځلې د سهار او ماښام له لمانځه وروسته او يو ځل له نورو لمونځونو څخه وروسته.

- يو ځل آيت الکرسي وايي.

٢١. پوښتنه: سنت (١) لمونځونه کوم دي؟ او فضيلت يې څه دي؟

ج – دوه رکعته مخکې ~~له~~ د سهارد لمانځه ~~نه~~ څخه.

څلور رکعته له ماسپښين نه مخکې.

دوه رکعته له ماسپښين نه وروسته.

دوه رکعته د ماښام د لمانځه نه وروسته.

دوه رکعته د ماخستن د لمانځه نه وروسته.

فضيلت يې: رسول الله (ﷺ) فرمايلي دي: **چا چې په شپه او ورځ کې دولس رکعته نفل(١) لمونځ ادا کړ، الله تعالی به ورته په جنت کې کور جوړ کړي.** مسلم، احمد او نورو روايت کړی.

## ۲۸. پوښتنه: د اونۍ غوره ورځې کومې دي؟

ج- د جمعې ورځ~~ې~~؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي: **په ورځو کې غوره ورځ ستاسو ~~د~~ لپاره جمعه ده، پدې کې آدم پیدا شوی او په همدې کې وفات شوی، په همدې ورځ صور(شپیلۍ) غږول کیږي او په همدې ورځ به عمومي مرګ وي(قیامت)، نو پر ما باندې زیات درود ووایئ، ځکه چې ستاسو درود ما ته وړاندې کیږي.**

~~هغه وایي~~ وایي: هغوی وویل: **ای د الله رسوله، زموږ درود څنګه تاته وړاندې کیږي، حال دا چې ته خاورې شوی یې؟ - ~~وایي خاورې شوی یې~~- هغه وویل: "الله جل جلاله پر ځمکه د پیغمبرانو جسدونه حرام کړي دي."** ابو داود او نورو روایت کړی.

## ۲۹. پوښتنه: د جمعې د لمانځه حکم څه دی؟

ج- په هر بالغ، عاقل او مقیم، نارینه مسلمان باندې فرض عین دی.

الله تعالی فرمایي: **﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوۡمِ ٱلۡجُمُعَةِ فَٱسۡعَوۡاْ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَذَرُواْ ٱلۡبَيۡعَۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ 9﴾**

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! کله چې د جمعې د ورځې د لمانځه لپاره اذان وویلی شي، نو تاسو د الله د ذکر (لمونځ) اهتمام وکړئ او اخیستل خرخول پریږدئ، دا ستاسو لپاره ډېر غوره دي که تاسو پوهیږئ [سورة الجمعة۹].

## ۳۰. پوښتنه: د جمعې لمونځ څو رکعته دي؟

ج – د جمعې د لمانځه د رکعتونو شمېر دوه رکعته دی چې امام پکې په جهر سره قراءت کوي، هغه (لمونځ) چې ورځخه وړاندې دوه مشهورې خطبې وي.

## ۳۱. پوښتنه: آیا د جمعې د لمانځه څخه پاتې کیدل او نه ادا کول یې جواز لري؟

ج – له شرعي عذر پرته د جمعې له لمانځه څخه تخلف او نه ادا کول يې جواز نلري، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: **"څوک چې درې جمعې د سستۍ او تنبلۍ له امله پرېږدي؛ الله د هغه په زړه باندې مهر لګوی.** ابو داود او نورو روايت کړی.

## ۳۲. پوښتنه: د جمعې د ورځې سنتونه ذکر کړی؟

ج-۱- غسل کول.

۲- خوشبويي استعمالول.

۳- غوره جامې اغوستل.

٤- جومات ته وختي تلل.

٥- پر رسول الله صلى الله عليه وسلم ډېر درود ويل.

٦- د سورت الکهف تلاوت کول.

٧- جومات ته پياده تلل.

٨- د دعا د قبليدلو لپاره د قبليدو د وخت پلټنه.

## ۳۳. پوښتنه: د جماعت د لمانځه فضيلت بيان کړئ؟

ج – له عبدالله بن عمر (رضي الله عنهما) څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: **"د جماعت لمونځ له يوازي لمانځه څخه اوه ويشت درجې غوره دی."** مسلم روايت کړی.

## ۳۴. پوښتنه: په لمانځه کې خشوع او عاجزي څه شی دی؟

ج – په لمانځه کې د زړه حضور او د غړو سکون.

الله تعالى فرمايي: ﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ (1) الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ (2)

يقينًا مومنان كامياب شول، هغه چې هغوی په خپلو لمونځونو کې خشوع کوونکي دي [سورة المؤمنون: 1، 2].

## ۳۵. پوښتنه: زکات تعريف کړئ؟

**ج – په ځانګړي مال کې، ځانګړی حق دی په ځانګړي وخت کې د ځانګړو خلکو لپاره.**

- دا د اسلام له ارکانو څخه يو رکن دی، او فرضي صدقه ده چې له شتمنو څخه اخيستل کيږي او غريبانو ته ورکول کيږي.

الله تعالى فرمايي: ﴿وَآتُوا الزَّكَاةَ﴾ او زکات ورکړئ [سورة البقرة: 43].

## ۳۶. پوښتنه: مستحب صدقه څه شی دی؟

**ج – هغه پرته له زکات څخه وي لکه خيرات کول په هر يو شی چې وي د خير په کارونو کی او په هر وخت کې چې وي.**

الله تعالى فرمايي: ﴿وَأَنْفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ﴾ او د الله په لاره کې خرڅ کوئ [سورة البقرة: 195].

## ۳۷. پوښتنه: روژه تعريف کړئ ؟

**ج– الله جل جلاله ته د عبادت کولو په موخه له سهاره تر لمر لوېدو پورې د نيت سره د روژې د ماتونکو څيزونو څخه لاس نيول دي، او هغه په دوه ډوله ده:**

فرضي روژه: لکه د رمضان د مياشتې روژه چې د اسلام له ارکانو څخه ده.

الله تعالى فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ 183﴾

ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! پر تاسو باندې روژه فرض کړی شوې ده لکه چې فرض کړی شوې وه پر هغو کسانو چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو متقيان شئ. [سورة البقرة: 183].

او غیر فرضي روژې: لکه د هرې اونۍ څخه د دوشنبې او پنجشنبې روژه، او د هرې میاشتې د ایام البیض درې ورځې روژه نیول دي، چې غوره یې د هرې قمري میاشتې (١٣، ١٤، ١٥) ورځې دي.

## ۳۸. پوښتنه: د رمضان میاشتې د روژې فضیلت بیان کړئ؟

ج- له ابوهریره (رضي الله عنه) څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **څوک چې د رمضان روژه په ایمان او د ثواب په نیت ونیسي؛ د هغه مخکني ګناهونه بخښل کیږي.»** متفق علیه.

## ۳۹. پوښتنه: له رمضان پرته په بل وخت کې د نفلي روژې فضیلت بیان کړئ؟

ج – له ابو سعید الخدري (رضي الله عنه) څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **"هیڅ بنده نشته چې د الله په لاره کې یوه ورځ روژه ونیسي، مګر دا چې په دې ورځ به الله د هغه مخ د اویا کلونو په اندازه له اور څخه لرې کړي."** متفق علیه.

– د "سبعون خریفا" معنا ؛: اویا مني ( کلونه).(١)

## ۴۰. پوښتنه: د روژې ځینو فاسدوونکو نومونه واخلئ؟

ج-١- په قصد سره خوړل او څښل.

٢- قصداً کانګې (استفراق)کول.

٣- له اسلام څخه وتل (ارتداد).

## ۴۱. پوښتنه: د روژې سنتونه کوم دي؟

ج-١- روژه ماتي کې چټکی.(١)

٢- پیشلمی (سحری) او د هغې ځنډ.(١)

۳- ښېګڼو او عبادتونو کی زياتوالی.

٤- کله چې روژه نيونکي ته کنځل وشي،ورته دې ووايي چی: زه روژه يم.

٥- د روژه ماتي په وخت کې دعا.(١)

٦- په تازه خرما(رطب) يا کجوري سره روژه ماتول، که ونه موندل شي؛ په اوبو باندی بايد روژه ماته شي.

## ۴۲. پوښتنه: حج تعريف کړئ ؟

ج – حج: د الله تعالی عبادت دی چې د هغه د سپېڅلي کور ته د تللو په نيت په ټاکلي وخت کې د ځانګړو اعمالو لپاره ترسره کيږي.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ (97)﴾

او خاص د الله لپاره په خلکو باندې د (هغه د) کور زيارت کول فرض دي، په هغه چا باندې چې هغه د لارې وس ولري او څوك چې کافر شو، نو بېشکه الله له مخلوقاتو نه بېخي بې پروا دی. [سورة آل عمران: 97].

## ۴۳. پوښتنه: د حج ارکان وشمېرئ ؟

ج-١- احرام.

٢- په عرفات دريدل.

۳- طواف افاضه (د حج طواف)

٤- د صفا او مروه تر مينځ سعی.

## ۴۴. پوښتنه: د حج فضيلت څه دی؟

ج – له ابوهريره (رضي الله عنه) څخه روايت دی وايي: ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې ويل يې: "**څوک چې حج د الله لپاره وکړي،**

**فحشا او بد اخلاق و نه کړي، هغه د هغې ورځې په څېر بیرته (له ګناه څخه ) راستنیږی چې مور زیږیدلی و.** بخاري او نورو روایت کړی.

- **"لکه څنګه چې د هغه مور په هماغه ورځ زیږولی وي":** یعني له ګناه څخه پاک .

## ۴۵. پوښتنه: عمره تعریف کړئ ؟

ج- عمره : د الله تعالی عبادت دی چې د هغه د سپیڅلي کور په نیت په هر وخت کې د ځانګړو اعمالو لپاره ترسره کیږي.

## ۴۶. پوښتنه: د عمرې رکنونه وشمېرئ ؟

ج-۱- احرام.

۲- د کعبې طواف.

۳- د صفا او مروه تر منځ سعی.

## ۴۷. پوښتنه: د الله په لاره کې جهاد څه دی؟

ج – د اسلام د خپراوي لپاره کوښښ او هلې ځلې کول، د هغه او د هغه له اهل څخه دفاع کول، او یا د اسلام او د هغه د اهل له دښمن سره جګړه کول دي.

الله تعالی فرمایي: ﴿وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ (41)﴾

په مالونو او ځانونو سره د الله په لار کې جهاد کوئ، دا ستاسو لپاره ډېر غوره دی، که تاسو پوهېږئ. [سورة التوبة: 41].

* * *

## د سیرت النبي څانګه

**۱. پوښتنه: زموږ د پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم نسب څه دی؟**

ج – هغه محمد د عبدالله زوی د عبدالمطلب لمسی او عبد المطلب د هاشم زوی دی، او هاشم له قریشو څخه دی، قریش له عربو څخه دی او عرب د اسماعیل علیه السلام له اولادې څخه دي او اسماعیل د ابراهیم علیهما السلام زوی دی، پر هغه او زموږ پر پیغمبر صلی الله علیه وسلم دې تر ټولو غوره درود او سلام وي.

**۲. پوښتنه: زموږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د مور نوم څه دی؟**

ج- نوم یې آمنه د وهب لور ده.

**۳. پوښتنه: پلار یې کله مړ شو؟**

ج- پلار یې په مدینه منوره کې په داسې حال کې مړ شو او هغه (محمد -صلی الله علیه و سلم-) د مور په خیټه وو لا زیږیدلی نه وو.

**۴. پوښتنه: رسول الله صلی الله علیه وسلم کله پیدا شو؟**

ج- د فیل پر کال، د ربیع الأول د میاشتې په دولسمه نیټه د دوشنبې په ورځ.

**۵. پوښتنه: هغه په کوم ښار کې زیږیدلی؟**

ج- په مکه کې.

**۶. پوښتنه: له مور پرته یې شیدې ورکونکې او پالونکې څوک دي؟**

– د خپل پلار آزاده شوې وینځه (مولاة أبيه)، ام ایمن.

– د خپل تره ابولهب آزاده شوې وینځه (مولاة عمه أبي لهب)، ثویبه.

– حلیمه سعدیه.

۷. پوښتنه: مور يې کله مړه شوه؟

ج – مور يې چې کله وفات شوه هغه شپږ کلن وو، او نيکه؛ عبدالمطلب يې پالنه وکړه.

۸. پوښتنه: د خپل نيکه عبد المطلب له مرګه وروسته چا د هغه پالنه وکړه؟

ج- هغه د اتو کلونو و چې نيکه يې عبدالمطلب وفات شو، او تره يې ابو طالب د هغه پالنه کوله.

۹. پوښتنه: کله يې له خپل تره سره شام ته سفر وکړ؟

ج – هغه د دولسو کلونو په عمر کې له خپل تره سره شام ته سفر وکړ.

۱۰. پوښتنه: دويم سفر يې کله و؟

ج – دويم سفر يې د خديجې (رضي الله عنها) په پيسو تجارت کې و، ، او کله چې بيرته راستون شو، نو د پنځه ويشت کلنۍ په عمر يې له هغې سره واده وکړ.

۱۱. پوښتنه: قريشو کله کعبه بيا جوړه کړه؟

ج – قريشو کعبه بيا هغه مهال جوړه کړه چې هغه(۱) پنځه دېرش کلن و.

او کله چې قريشو د دې په اړه اختلاف وکړ، چې حجر الاسود بايد څوک کيږدي، هغه يې د قضاوت لپاره غوره کړ، نو هغه په ټوټه (تکه)کې کېښودله او هرې قبيلې ته يې امر وکړ چې د څادر يوه څنډه ونيسي، او دوی څلور قبيلې وې، او کله چې يې خپل ځای ته پورته کړه، نو هغه - صلى الله عليه وسلم - په خپلو لاسونو کېښووده.

۱۲. پوښتنه: کله چې هغه په پيغمبرۍ ولېږل شو عمر يې څو کاله و؟ او چا ته لېږل شوی؟

ج – هغه څلوېښت کلن و، او ټولو خلکو ته زيری ورکوونکی او وېروونکی ولېږل شو.

۱۳. پوښتنه: د وحي پيل په څه باندی وشو؟

ج – ريښتيني خوبونه ليدل، نو هغه به خوب نه ليده مگر دا چې د سهار په څېر به روښانه ريښتيا کېده.

۱۴. پوښتنه: د وحي نه مخکې د هغه حالت څنګه و؟ او په هغه باندې لومړی وحي کله نازل شوه؟

ج – په غار حرا کې به يې د الله عبادت کاوه او ځان سره به يې توخه وړله.

او په هغه باندې وحي نازل شوه، په داسې حال کې چې هغه په غار کې عبادت کاوه.

۱۵. پوښتنه: د قران څخه لمړی هغه څه وو چې په هغه نازل شول؟

ج- د الله تعالی دا وينا: ﴿ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ (1). **ته د خپل هغه رب په نامه سره ولوله چې پيدا کړي يې دي (ټول مخلوقات).**

**خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ (2). انسان يې له پرنډ شوې (ټوټې) وينې نه پيدا کړی دی.**

ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ (3). ته ولوله، په داسې حال کې چې ستا رب ډېر عرتمند دی.

ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ (4). هغه چې په قلم سره يې ښوونه کړې ده.

**عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ (5)﴾. انسان ته يې هغه څه ښودلي دي چې دی پرې نه پوهېده.**

[سورة العلق: 1 – 5].

۱۶. پوښتنه: لومړی څوک و چې د هغه په رسالت يې ايمان راوړ؟

ج – په نارينه و کی: ابوبکر صديق (رضي الله عنه)، په ښځينه و کی: خديجه بنت خويلد، په هلکانو کی: علی بن ابی طالب، په موالي(ازاد شوي غلامانو) کی: زيد بن حارثه او په غلامانو کی: بلال الحبشی (رضي الله عنهما)، او داسی نور.

۱۷. پوښتنه: اسلام ته دعوت څنګه و؟

ج – دعوت درپ کاله پټ و، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته امر وشو بلنه ښکاره کړي.

۱۸. پوښتنه: د دعوت له ډاګیز کېدلو وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم او پر هغه د ایمان راوړونکو حالت څنګه و؟

ج – مشرکانو هغه او مسلمانان ډېر زورول، تر دې چې هغه مؤمنانو ته اجازه ورکړه چې نجاشي ته په حبشه کې هجرت وکړي.

مشرکانو په یوه خوله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د ضرر رسولو او د هغه د وژلو موافقه وکړه، مګر الله تعالی د هغه ساتنه وکړه او هغه یې د خپل تره ابو طالب د حمایت لاندې راوسته ترڅو هغه له دوی څخه وساتي.

۱۹. پوښتنه: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعثت په لسم کال کې څوک وفات شو؟

ج- د هغه تره ابو طالب او مېرمن یې خدیجه (رضي الله عنها) وفات شوي دي.

۲۰. پوښتنه: اسراء او معراج کله وو؟

ج- هغه د پنځوسو کالو و، پنځه وخته لمونځونه پرې فرض شول.

اسراء: له مسجد الحرام څخه مسجد الاقصی ته.

معراج: له مسجد الاقصی څخه تر آسمانه تر سدرة المنتهی پورې وه.

۲۱. پوښتنه: رسول الله صلی الله علیه وسلم له مکې نه بهر خلکو ته څنګه دعوت کاوه؟

ج – د طائف خلکو ته به یې بلنه ورکوله او د حج په موسمونو او د خلکو مجلسونو کې به یې ځان پر خلکو پیش کاوه(چې زه پیغمبر یم په ما ایمان راوړئ) تر دې چې د مدینې خلک له انصارو راغلل او پر رسول الله صلی الله علیه وسلم یې ایمان راوړ او له هغه سره یې د ملاتړ بیعت وکړ.

۲۲. پوښتنه: رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکه مکرمه کې ددعوت لپاره څو کاله پاتې شو؟

ج – ديارلس كاله پاتي شو.

۲۳. پوښتنه: رسول الله صلى الله عليه وسلم كوم ځای ته هجرت وكړ؟

ج- له مكې څخه مدينې ته.

۲۴. پوښتنه: څومره وخت په مدينه كې پاتې شو؟

ج- لس كاله.

۲۵. پوښتنه: په مدينه منوره كې د اسلام كوم احكام پر هغه فرض شوي دي؟

ج – زكات، روژه، حج، جهاد، اذان او د اسلام نور احكام پرې فرض شوي دي.

۲۶. پوښتنه: د رسول الله صلى الله عليه وسلم تر ټولو مهمې غزاګانې كومې دي؟

ج- د بدر لويه غزا.

د احد غزا.

د احزاب غزا.

د مكې د فتحې غزا.

۲۷. پوښتنه: له قرآن كريم څخه وروستي څه نازل شوي دي؟

ج- د الله تعالى دغه وينا: ﴿ وَٱتَّقُوا۟ يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى ٱللَّهِ ۖ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ 281﴾

او تاسو له هغې ورځې نه ووېرېږئ چې په هغې كې به تاسو الله ته بېرته وركرځول كېږئ، بيا به هر نفس ته پوره پوره وركړى شي بدل د هغه عمل چې ده كړى دى، او پر دوى به ظلم ونه كړى شي. [سورة البقرة: 281].

۲۸. پوښتنه: رسول الله صلى الله عليه وسلم كله وفات شو؟ او څو كلن و؟

ج- د هجرت په یوولسم کال د ربیع الاول په میاشت کې د درې شپیته کالو په عمر وفات شو.

**۲۹. پوښتنه: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مېرمنو نومونه ذکر کړئ؟**

ج-۱- خدیجه بنت خویلد (رضي الله عنها).

۲- سوده بنت زمعه (رضي الله عنها).

۳- عائشه (رضي الله عنها) د ابو بکر صدیق لور.

٤- حفصة د عمر -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهما- لور

٥- زینب د خزیمة لور (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا).

٦- أم سلمة هند بنت أبي أمية (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا).هند د سلمه مور د ابي امیه لور

۷- أم حبيبة رملة بنت أبي سفيان (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا).د حبیبه مور رمله د ابوسفیان لور

۸- جويرية بنت الحارث (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا) جویریه د حارث لور

۹- ميمونة بنت الحارث (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا). میمونه د حارث لور.

۱۰- صفية بنت حيي (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا). صفیه د حيي لور

۱۱- زینب بنت جحش (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا). زینب د جحش لور.

**۳۰. پوښتنه: د هغه (ﷺ) اولادونه څوک دي؟**

ج- درې نارینه دي:

- القاسم او په هغه باندې ملقب و.
- او عبدالله.
- او ابراهیم.
- له ښځینه و څخه:
- فاطمة

- 4 رقية.
- 4 أم كلثوم.
- 4 زينب.

د هغه ټول اولادونه له خديجې (رضي الله عنها) څخه وو، پرته له ابراهيم څخه، او هغوی ټول له هغه څخه مخکې وفات شول، پرته له فاطمې څخه چې شپږ میاشتې وروسته له هغه څخه وفات شوه .

### ٣١. پوښتنه: د رسول الله صلی الله علیه وسلم ځینې پیدایشی ځانګړنې بیان کړئ؟

ج – هغه په سړيو کی متوسط قامت درلود، نه لنډ او نه اوږد و، بلکې منځمهالی و، هغه سپين رنګه سوروالي ته نږدې و، غټه ږيره او پراخې سترګې يې درلودې، غټه خوله، وېښتان يې ډېر تور و، غټې اوږې، ښه بوی او د هغه (ﷺ) داسې نورې ښکلې ځانګړتياوې.

### ٣٢. پوښتنه: رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل امت پر څه پرېښودی دی؟

ج- هغه (ﷺ) خپل امت په سپينې طريقې پريښودی، چې شپه يې د ورځې په څېر ده، يوازې هلاک شوی کس له هغه څخه منحرف کيږي، هيڅ نيکي يې نه ده پريښې مګر دا چې د خپل امت يې هغه ته لارښونه کړې، او هيڅ شر يې نه دی پريښی مګر دا چې خپل امت يې له هغه څخه ويرولی.

* * *

## ١. پوښتنه: فاتحه ولولئ او تفسیر یې کړئ؟

ج- د فاتحې سورت او تفسیر یې:

﴿بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ (1). پیل کوم د الله په نوم چې ډیر زیات مهربان او همیشه رحم والا دی.

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (2). ټول (د کمال) صفتونه خاص د الله لپاره دي چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی.

الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ (3). ډېر زیات مهربان،رحم کوونکی دی.

مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ (4). د بدلې د ورځې مالك دی.

إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ (5). مونږ خاص ستا عبادت کوو او خاص له تا نه مرسته غواړو.

اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ (6). ته مونږ ته سَمَه (نېغه) لاره وښَیَه.

صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ (7)﴾. د هغو خلکو لار چې تا پر هغوی باندې انعام کړی دی؛ نه پر هغوی چې غضب کړای شوي او نه ګمراهان.[سورة الفاتحة: 1 - 7].

تفسیر:

څکه ورته فاتحه وییل کیږي چې د الله تعالی کتاب پرې پیل شوی دی.

1- ﴿بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرحيم﴾ : د الله په نامه د قرآن تلاوت پیلوم او د هغه د نوم په تبرک سره له هغه څخه مرسته غواړم.

﴿الله﴾ یعني: لایق د عبادت، عبادت د هغه حق دی او په(الله) بل څوک نه نومول کیږي، دا اسم خاص د الله دی.

﴿الرَّحْمَن﴾ یعنی د پراخه رحمت خاوند چې هر شي ته یې رحمت رسیدلی دی

﴿الرَّحِيم﴾ يعنی: خاوند د مهربانۍ په مومنانو(۱).

2- ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (2)﴾ يعنې: هر ډول ستاينه او كمال يوازې الله ته دی.

3- ﴿الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ (3)﴾ يعنی د پراخ رحمت خاوند چې رحمت يې هر شي ته رسيدلی دی او د هغه رحمت خاوند چې په پرلپسې توګه مؤمنانو ته رسيږي.

4- ﴿مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ 4﴾: دقيامت دورځې مالک.

5- ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ (5)﴾ يعني موږ يوازې ستا عبادت كوو او يوازې له تا څخه مرسته غواړو.

6- ﴿اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ (6)﴾: وښايه مونږ ته لاره برابره.

7- ﴿صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ (7)﴾. لار د هغو كسانو چې تا پرې لورينه كړې ده؛ نه د هغو كسانو چې غضب پرې شوی او نه لار د ګمراهانو. (۱)

له لوستلو وروسته **«آمين»** ويل سنت دي، چې مانا يې دا ده، يا الله قبول يې كړه.

## ۲. پوښتنه: زلزله سورت ولولئ او تفسير يې كړئ؟

### ج- زلزله سورت او تفسير يې:

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ. د الله په نام سره (پيل كوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم كوونكی دی.

﴿إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا (1)﴾. كله چې ځمكه وخوځولی شي په خپلو سختو خوځولو سره.

وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا (2). او ځمكه خپل درانه پېټي بهر راوباسي.

وَقَالَ الْإِنْسَانُ مَا لَهَا (3). او انسان به ووايي چې په دې څه شوي دي.

**يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا (4).** په دغې ورځې کې به دا ځمکه خپلې خبرې (حالات) بیانوي.

**بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَى لَهَا (5).** په دې سبب چې ستا رب به دې ته وحي وکړي.

**يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ (6).** په دغې ورځ کې را وبه وځي خلک ډلې ډلې، د دې لپاره چې دوی ته خپل عملونه وښودل شي.

**فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ (7).** نو هغه څوك چې د يوې ذرې په اندازه نېك عمل وکړي (،نو) دی به هغه ووینې.

**وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ (8)﴾.** او هغه څوك چې د يوې ذرې په اندازه د شر (او بدی) عمل کوي (نو) دی به هغه ووینې. [سورة الزلزلة: 1 - 8].

تـفـسـيـر:

1- **﴿إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا (1)﴾:** کله چې ځمکه وخوځېږي په سختو خوځېدلو سره، هغه څه چې د قیامت په ورځ به ورته پېښېږي.

2- **﴿وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا (2)﴾:** او ځمکه به راوباسي هغه څه چې د هغې په خېټه کې دي د مړو او نورو شیانو څخه.

3- **﴿وَقَالَ الْإِنْسَانُ مَا لَهَا (3)﴾:** انسان به په حیرانتیا ووایي: د ځمکې خوځښت او ګډوډي د څه لپاره ده؟!

4- **﴿يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا (4)﴾:** په هغه لویه ورځ به ځمکه د هغه د ښو او بدو څخه خبر ورکړي چې په هغې تر سره شوي دي.

5- **﴿بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَى لَهَا (5)﴾:** ځکه چې الله هغې ته پوهه ورکړې او امر يې ورته کړی دی.

6- ﴿يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ (6)﴾: په هغه لويه ورځ چې په ځمکه کې زلزله وشي، خلک به د حساب له ځای نه ډلې ډلې راووځي ترڅو وګوري چې دوی په دې دنيا کې څه کړي و.

7- ﴿فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ (7)﴾: چا چې د يو کوچني مېږي په اندازه نيک او صالح عمل کړي وي؛ هغه به خپل وړاندې وګوري.

8- ﴿وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ (8)﴾: او چا چې د هغې په اندازه شر او بد کار کړی وي؛ هغه به په خپل مخ کې وګورئ.

## ۳. پوښتنه: د العاديات سورت ولولئ او تفسير يې کړئ.

### ج- العاديات سورت او تفسير يې:

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ . پيل کوم په نوم د الله چې ډير زيات مهربان تل رحم والا دی.

﴿وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا (1). قسم دی په تېزو ځغلېدونکو آسونو، چې له سينو او ګېډو نه اواز ايستونکي دي.

فَالْمُورِيَاتِ قَدْحًا (2). پس (قسم دی) په هغو آسونو چې په خپلو سُمانو سره تيرېږي وهي او اور را ايستونکي دي.

فَالْمُغِيرَاتِ صُبْحًا (3). پس (قسم دی) په هغو آسونو چې د سبا په وخت کې حمله کوونکي دي.

فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعًا (4). نو په دغه وخت کې دغه (آسونه) ګرد پورته کوي.

فَوَسَطْنَ بِهِ جَمْعًا (5). پس پدغه وخت کې د لويې ډلې په مينځ کې ننوځي.

إِنَّ الْإِنْسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ (6) . چې بيشکه انسان د خپل رب ډير ناشکره دی.

**وَإِنَّهُ عَلَى ذَلِكَ لَشَهِيدٌ (7).** او بېشکه دی په دې خبره یقینًا ښه خبردار (او ګواه) دی.

**وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ (8).** او بېشکه دی د مال په مینه کې یقینًا ډېر سخت دی.

**أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ (9).** آیا نو دی نه پوهېږي کله چې هغه (مړي) راوښکل شي چې په قبرونو کې دي؟

**وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ (10).** او هغه څه راښکاره کړی شي چې په سینو کې دي.

**إِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَخَبِيرٌ (11)﴾** بېشکه د دوی رب په دغې ورځ کې په دوی باندې یقینًا ښه خبردار دی [سورة العادیات: ١ – ١١].

تـفـسـيـر:

١– **﴿وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا (1)﴾:** الله قسم یاد کړی په اسونو چې منډې وهي تر څو د منډو له شدت څخه د هغوی د ساګانو آواز واریدل شي.

**٢- ﴿فَالْمُورِيَاتِ قَدْحًا (2)﴾: الله قسم یاد کړی په هغه آسونو چې کله د هغوی پښې ډېرو باندې ولګیږي او اور بلوي ، کله یې چې پښې په ډیره تېزی سره په تیږو ولګیږي.**

٣– **﴿فَالْمُغِيرَاتِ صُبْحًا (3)﴾:** الله قسم یاد کړی په هغه آسونو چې کله سهار په دښمنانو حمله کوي.

٤– **﴿فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعًا (4)﴾:** نو د دوی د منډو په واسطه دوړې خورې شوې.

٥– **﴿فَوَسَطْنَ بِهِ جَمْعًا (5)﴾:** اسونه سره د شاسوارانو د دښمن د ټولګي په منځ کی ورننوتل.

٦– **﴿إِنَّ الْإِنْسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ (6)﴾:** بیشکه انسان خورا منع کوونکی دی د هغه خیر څخه چی الله تعالی یې ورنه غواړي.

٧– **﴿وَإِنَّهُ عَلَى ذَلِكَ لَشَهِيدٌ (7)﴾:** او یقینا انسان خاماخا ګواهي ورکوونکی دی پخپل ممانعت باندې له خیر څخه، دا خبره ډاکیزه ده انکار ورڅخه نه شي کیدلای.

۸- ﴿وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ (8)﴾: او بیشکه انسان د مال په محبت کې اوج ته رسیدلی دی بخیلي پرې کوي.

۹- ﴿أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ (9)﴾: نو آیا دا انسان چې د دنیا په ژوند باندې دوکه شوی دی په دې نه پوهیږي چې کله الله مړي له قبرونو څخه بیرته را ژوندي کړي او له ځمکې څخه یې د حساب او جزا لپاره راوباسي، نو دا خبره هغسې نه وه لکه ده چې ګمان کاوه؟!

۱۰- ﴿وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ (10)﴾: هغه څه چې په زړونو کې د عقیدې او نیتونو او داسې نورو شیانو په اړه دي په ډاګه او روښانه کړې.

۱۱- ﴿إِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَخَبِيرٌ (11)﴾: د دوی رب په دې ورځ پر هغو پوه دی، او د بندګانو هیڅ شی له هغه څخه پټ نه دی، او هغه به دوی ته د دې بدله ورکړي.

## ۴. پوښتنه: القارعه سورت ولوله او تفسیر یې کړه؟

### ج- القارعه سورت او تفسیر یې:

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ. پیل کوم په نوم د الله چې خورا زیات مهربان او همیشه رحم کوونکی دی.

﴿الْقَارِعَةُ (1). هغه ورځ ټکوونکی (قیامت) د دې درځ هیبت الله بیانوي.

مَا الْقَارِعَةُ (2). (د زړونو) ټکوونکی څه شی دی؟

وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ (3). او ته څه شي پوه کړې چې (د زړونو) ټکوونکی څه شی دی؟ یعنې هغه ډیره سخته ورځ ده که تا ته یې بیان هم وشي ستا زړه کې به واقع نه شي.

يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ (4). شي به خلک په دغه ورځ خواره واره په شان د پتنګانو(۱).

**وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ (5).** او غرونه به د ډانډس کړی شوي رنګینې وړی په شان شي.

**فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ (6).** نو هر چې هغه څوك دی چې د هغه تلې(د نیکیو) درندې شي.

**فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ (7).** نو دی به په ډېر ښه ژوندون کې وي.

**وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ (8).** او هر چې هغه څوک دی چې سپکې شي تلې د نیکیو د هغه.

**فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ (9).** نو د ده استوګنځی هاویه ده.

**وَمَا أَدْرَاكَ مَا هِيَهْ (10).** او ته څه شي پوه کړې چې دغه (هاویه) څه شی دی؟

**نَارٌ حَامِيَةٌ (11)﴾.** (دغه) ډېر ګرم اور دی.

[القارعة سورت : ١ - ١١].

تـفـسـيـر :

١- **﴿الْقَارِعَةُ (1)﴾:** دا د قیامت ورځ ده چې د ډیر هیبت له امله به د خلکو زړونه ټنګوي.

٢- **﴿مَا الْقَارِعَةُ (2)﴾:** دا قیامت څه شی دی چې د ډیر هیبت له وجې د خلکو زړونه ټنګوي؟!

٣- **﴿وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ (3)﴾:** او ته څه شي پوه کړې - ای رسوله - دا څه ساعت دی چې د خپل هیبت له امله د خلکو زړونه ټکوي؟! دا د قیامت ورځ ده.

٤- **﴿يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ (4)﴾:** په کومه ورځ چې د خلکو زړونه وټکول شي، دوی به داسې وي لکه خواره واره تیتو پرک پتنګان هر طرف ته.

٥- ﴿وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ (5)﴾: او غرونه به د ډانډس کړی شوې رنګینې وړی په شان شي په سپکوالي او حرکت او تللو کې.

٦- ﴿فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ (6)﴾: او هغه کسان چې ښه عملونه يې په بدو عملونو دراندہ شي.

٧- ﴿فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ (7)﴾: هغه ته به په جنت کې غوره ژوند ورکړل شي.

٨- ﴿وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ (8)﴾: او د هغو کسانو چې بد عملونه يې په ښو عملونو دراندہ شي.

٩- ﴿فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ (9)﴾: د قيامت په ورځ يې د اوسېدو ځای او استقرار جهنم دی.

١٠- ﴿وَمَا أَدْرَاكَ مَا هِيَهْ (10)﴾: او ته څه شي پوه کړې – ای رسوله - چې هغه څه دي؟!

١١- ﴿نَارٌ حَامِيَةٌ (11)﴾: هغه يو ډېر ګرم اور دی.

## ٥. پوښتنه: التکاثر سورت ولولئ او تفسير يې کړئ؟

### ج- التکاثر سورت او تفسير يې:

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ.** په مدد د نوم د الله چې بې حده او هميشه مهربان دی شروع کوم (١).

**﴿أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ (1).** غافل کړي وئ تاسو ډېروالي د مال په خپل مينځ کې.(١)

**حَتَّى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ (2).** تر هغه پورې چې تاسو هديرو ته ورشئ(تر مرګه پورې).

**كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ (3).** داسې نده په کار، ژر ده چې تاسو به پوه شئ.

**ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ (4).** بيا بيخي داسې نه ده، ژر ده چې تاسو به پوه شئ.

**كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ (5).** داسې نه ده، که تاسو په علم اليقين سره پوهيدلی(١).

**لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ (6).** تاسو به خامخا ضرور دوزخ وينئ (دا خطاب ټول انسانيت او پيريانو ته دی: وان منكم الا واردها، كه څوک يې لایق وو هغه به ورداخل شي او كه څوک يې لایق نه وو هغه به پرې ورتير شي).

**ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ (7).** بیا به تاسو خامخا ضرور دغه (دوزخ) د يقين په سترګو وينئ (۱).

**ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ﴾.** بیا به په دغې ورځ کې له تاسو نه خامخا ضرور د نعمتونو په باره کې تپوس کېږي. [التکاثر سورت: ۱ - ۸].

تفسير:

۱- ﴿أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ (1)﴾: ای خلکو! تاسو د الله تعالی د پیروۍ پر ځای په خپلو مالونو او اولادونو ویاړ کولو بوخت کړې یاست.

۲- ﴿حَتَّى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ (2)﴾: تر څو چې تاسو مړه شوئ او خپلو قبرونو ته ننوتلئ.

۳- ﴿كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ (3)﴾: تاسو ته پکار نه وه چې په هغو شیانو ویاړ کول مو د الله تعالی له اطاعت څخه بوخت کړي، نو ژر دی چې تاسو به د دې بوختیا پر پایله پوه شئ.

٤- ﴿ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ (4)﴾: بیا به د هغه په پایله باندی پوه شئ.

٥- ﴿كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ (5)﴾: په حقیقت کې، که تاسو په یقین سره پوهیدئ چې ستاسو ورتګ الله ته دی، او هغه به تاسو ته ستاسو د عملونو بدله درکوي، نو تاسو به د پیسو او اولادونو په فخر کولو کې بوخت نه اوسیدی.

٦- ﴿لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ (6)﴾: قسم په الله چی تاسو به د قیامت په ورځ اور وینئ.

۷- ﴿ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ (7)﴾: بیا به یې تاسو بې له شکه په یقیني توګه وګورئ.

٨- ﴿ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ﴾: بيا به الله تعالى په هغه ورځ له تاسو څخه پوښتنه وکړي، د روغتيا، مال او نورو شيانو په برخه کې چې تاته يې درکړي دي؟.

## ٩. پوښتنه: د العصر سورت ولولئ او تفسير يې کړئ؟

### ج- د العصر سورت او تفسير يې:

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ. پيل کوم په نوم د الله چې ډير زيات مهربان هميشه رحم کوونکی دی.

﴿وَالْعَصْرِ (1). قسم دی په عصر (مازيګر، يا زمانه).

إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ (2). چې ببشکه يقينًا انسان په زيان (او تاوان) کې دی.

إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ (3)﴾. پرته له هغو کسانو نه چې ايمان يې راوړی دی او نيك عملونه يې کړې دي او يو بل ته يې د حق (دين) وصيت کړی دی، او يو بل ته يې د صبر وصيت کړی دی. [العصر سورت: 1 - 3].

### تفسير:

1- ﴿وَالْعَصْرِ (1)﴾: الله تعالی په زمانه قسم کړی دی.

2- ﴿إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ (2)﴾: يعني: ټول انسانان په زيان او هلاکت کې دي .

3- ﴿إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ (3)﴾: پرته له هغو کسانو چې ايمان يې راوړی او نيک عملونه يې کړي، خو دې سره هم حق ته يې دعوت کړی وي او صبر يې کړی وی، ځکه نو همدا خلک له تاوان څخه ژغورل شوی دي.

## ٧. پوښتنه: د همزه سورت ولولئ او تفسير يې کړئ؟

### د الهُمزة سورت او تفسير يې:

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمن الرحيم:** پيل کوم په نوم د الله چې ډېر زيات مهربان هميشه رحم کوونکی دی.

**﴿وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ (1)** هلاکت دی د هر ډېر غيبت کوونکي، ډېر عيبت لګوونکي لپاره(۱).

**الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ (2).** هغه چې مال يې جمع کړی دی او دغه يې بيا بيا شمېرلی (او ذخيره کړی) دی.

**يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ (3).** دی ګمان کوي چې بېشکه د ده مال به دی تل ژوندی وساتي؟

**كَلَّا لَيُنْبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ (4).** داسې هيڅکله نشي کېدی، دی به خامخا ضرور په حطمه (ماتوونکي او سوځوونکي دوزخ) کې وغورځول شي.

**وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحُطَمَةُ (5).** او ته څه شي پوه کړې چې حطمه څه شی دی؟

**نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ (6).** د الله هغه بل کړی شوی اور دی.

الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ (7). هغه چې په زړونو راخېژي (او غالب کېږي).

**إِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُؤْصَدَةٌ (8).** بېشکه دغه (اور) به په دوی باندې (له هره جانبه) رابند کړی شوی وي.

**فِي عَمَدٍ مُمَدَّدَةٍ 9﴾.** په اوږدو (رابنګلی شويو) ستنو کې [سورة الهمزة: ۱ - ۹].

تـفـسـيـر:

۱- **﴿وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ (1)﴾:** ناوړه عاقبت او سخت عذاب دی د خلکو ډېر غيبت کوونکو او عيب پلټونکو ته.

۲- **﴿الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ (2)﴾:** خوک چې د پيسو راټولولو او شميرلو ته پام کوي، او د بل څه انديښنه ورسره نه وي.

٣- ﴿يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ (3)﴾: هغه فکر کوي چې راټولې شوې پیسې به يې له مرګه وژغوري، نو په دې دنيا کې به تل پاتې وي.

٤- ﴿كَلَّا لَيُنْبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ (4)﴾: داسې نده لکه څنګه چې دغه جاهل فکر کوي، دوی به د دوزخ اور ته واچول شي چې د هغې د عذاب د سختوالي له امله هر هغه څه چې ورته اچول کيږي ټکوي او ماتوي يې.

٥- ﴿وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحُطَمَةُ (5)﴾: او ته څه پوهيږې - ای رسوله - دا اور څه شی دی چې هر څه په کې اچول کيږي او ماتوي يې.؟!

٦- ﴿نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ (6)﴾: دا د الله جل جلاله بل کړی شوی اور دی.

٧- ﴿الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ (7)﴾: کوم چې د خلکو له بدن څخه د دوی زړونو ته تيريږي.

٨- ﴿إِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُؤْصَدَةٌ (8)﴾: دا پر هغه خلکو چې پکې عذابولای شي په هغوی - وربند شوی دی (يعنې هغوی پکې ايسار دي).

٩- ﴿فِي عَمَدٍ مُمَدَّدَةٍ (9)﴾: په اوږدو (راښکلې شويو) ستنو کې، ترڅو له دې څخه را ونه وځي.

## ٨ پوښتنه: د الفيل سورت ولوله او تفسير يې کړه؟

ج- د الفيل سورت او تفسير يې:

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ. پيل کوم په نوم د الله چې ډير زيات مهربان هميشه رحم کوونکی دی.

﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ (1)﴾. آيا ته نه يې خبر شوی چې ستا رب له فيل والاو سره څنګه کار کړی و؟

**أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ (2).** آيا د هغوی چل (او مکر) يې په زيان کې نه و کړځولی؟

**وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ(3).** او په دوی باندې يې ډلې ډلې مرغان راخوشې کړل.

**تَرْمِيهِمْ بِحِجَارَةٍ مِنْ سِجِّيلٍ (4).** چې دغو (مرغانو) به دوی لره په داسې کاڼو ويشتل چې له خټو نه جوړ، په اور پاخه شوي وو.

**فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَأْكُولٍ (5)﴾.** نو دغه (خلق) يې د خوړل شويو وښو په شان وګرځول [سورة الفيل: ١ – ٥].

تفسير:

١– **﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ (1)﴾:** آيا ته نه پوهېږې – اې پيغمبره – ستا پروردګار له ابرهه او د هغه له ملګرو سره، چې د فيلانو له خاوندانو سره يې د کعبې د ړنګولو اراده وکړه، څه ډول چلند وکړ؟!

٢– **﴿أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ (2)﴾:** الله د دوی ناوړه پلان چې د ويجاړولو لپاره جوړ کړی و، نو دوی د کعبې څخه د خلکو د اړولو په هدف کې هغه څه ترلاسه نه کړل چې دوی غوښتل، او کعبې ته يې هيڅ ضرر و نشو رسولای.

٣– **﴿وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ (3)﴾:** او هغه په دوی باندې مرغان واستول، او دوی ته په ډلو ډلو راغلل.

٤– **﴿تَرْمِيهِمْ بِحِجَارَةٍ مِنْ سِجِّيلٍ (4)﴾:**او مرغانو به دوی په داسې کاڼو ويشتل چې له خټو نه جوړ و، هغه خټه چې تېره ګرځيدلې وه.

٥– **﴿فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَأْكُولٍ (5)﴾:** الله دوی د کښت د پاڼو په څير وګرځول چې د څارويو لخوا خوړل شوي او تر پښو لاندې شوي.

## ٩. پوښتنه: د قريش سورت ولولئ او تفسير يې کړئ؟

## ج- د قریش سورت او تفسیر یې:

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ.** پیل کوم په نوم د الله چې ډېر زيات مهربان بې حده رحم کوونکی دی.

**﴿لإِيلَافِ قُرَيْشٍ (1).** د قریشو د محبت له امله(١).

**إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ (2).** محبت د دوی د ژمي او د دوبي د سفر سره.

**فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ (3).** نو لازم دي چې دوی د دې کور د رب عبادت وکړي.

**الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ (4)﴾** هغه (رب) چې دوی ته يې له لوږې نه (د بچ کولو لپاره) طعام ورکړی دی او دوی ته يې له وېرې نه (د ساتلو لپاره) امن (او بې خوفي) ورکړې ده.

[سورة قريش: ١ - ٤].

## تفسیر:

١- **﴿لإِيلَافِ قُرَيْشٍ (1)﴾:** په دې سره مراد هغه څه دي چې دوی ورسره الفت لرلو چې هغه سفر د اوړي او د ژمي و.

٢- **﴿إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ (2)﴾:** یمن ته په ژمی کې سفر او په اوړي کې سفر شام ته په امن و امان.

٣- **﴿فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ (3)﴾:** نو دوی دې یوازې د دې بيت الحرام څښتن الله ته عبادت وکړي، چې دوی ته يې دا سفر آسانه کړی، او بل څوک دې ورسره شريک نه کړي.

4- **﴿الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ (4)﴾:** هغه ذات چې دوی ته يې له لوږې څخه خواړه ورکړل او له ويرې څخه يې خوندي کړل، په هغه څه چې د عربو په زړونو کې د حرم او د هغه د اوسيدونکو تعظيم ځای پر ځای کړي.

## س۱۰ پوښتنه: د ماعون سورت ولولئ او تفسير يې کړئ؟

ج: د ماعون سوره او تفسير يې:

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ.** په مدد د نوم د الله چې بې حده او هميشه مهربان دی.

**﴿أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ (1).** آيا تا هغه کس ليدلی چې د بدلې ورځ (قيامت) دروغ ګڼي(۱). **فَذَلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ (2).** نو همدغه هغه کس دی چې يتيم ته ډيکې ورکوي.

**وَلَا يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ (3).** او مسکين ته په طعام ورکولو ترغيب نه ورکوي.

**فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّينَ (4).** نو هلاکت دی لمونځ کوونکو لره.

**الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ (5).** هغه کسان چې دوی له خپلو لمونځونو نه غافله وي.(۱)

**الَّذِينَ هُمْ يُرَاءُونَ (6).** هغه کسان چې دوی ريا کاري کوي.

**وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ (7)﴾.** او دوی ماعون (د استعمال عام خيزونه هم له يو بل نه) منع کوي.

[سورة الماعون: ۱ - ۷].

تفسير:

۱- **﴿أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ (1)﴾:** آيا ته پيژني هغه څوک چې د سزاء او د جزاء ورځ نه مني؟!

۲- **﴿فَذَلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ (2)﴾:** دا هغه څوک دی چې يتيم په سختۍ سره شړي او د هغه اړتياوې نه پوره کوي.

٣- ﴿وَلَا يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ (3)﴾: نه خپل ځان هڅوي او نه نور د مسکینانو د خوراک لپاره هڅوي.

٤- ﴿فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّينَ (4)﴾:لمونځ کوونکو لپاره هلاکت او عذاب دی.

٥- ﴿الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ (5)﴾: هغه لمونځ کونکي چې د خپلو لمونځونو په اړه بې غوري کوي، د لمونځ پروا نه کوي تر څو چې وخت يې تېر شي.

٦- ﴿الَّذِينَ هُمْ يُرَاءُونَ (6)﴾: هغه کسان چې دوی لمونځونه او عملونه د خلکو د کتلو لپاره ترسره کوي، په اخلاص سره د الله لپاره عمل نه کوي.

٧- ﴿وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ (7)﴾: او دوی نورو ته د مرستې ورکولو مخه نيسي، په هغه شيانو چې د هغې په واسطه د خلکو مرسته کولو کې وده ته هيڅ ضرر نشته.

## ١١. پوښتنه: د کوثر سورت ولولئ او تفسير يې کړئ؟

### ج: د کوثر سورت او تفسير يې:

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ.** د الله په نوم سره (پيل کوم) چې ډېر زيات مهربان، او هميشه رحم کوونکی دی

﴿إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ (1). بېشکه مونږ تا ته ډير خير(١) درکړی دی.

فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ (2). نو ته د خپل رب لپاره لمونځ کوه او قرباني کوه.

إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ (3)﴾. بېشکه ستا دښمن هم هغه بې بنياده (او لاولده) دی.

[سورة الكوثر: ١- ٣].

### تفسير:

١- ﴿إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ (1)﴾: مونږ تاته ډېر خير درکړی – ای رسوله - او له هغه څخه په جنت کي د کوثر نهر دی.

٢- ﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ (2)﴾: نو پدې نعمت باندې د الله شکر ادا کړه، او يوازې د هغه لپاره لمونځ او ذبح وکړه، برعکس د هغه څه چې مشرکين يې په ذبح کولو سره خپلو بتانو ته د نږدې کيدلو لپاره ترسره کوی.

٣- ﴿إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ (3)﴾: هغه څوک چې له تاسو څخه کرکه لري هغه څوک دی چې هير شوي دی او د ټولو نيکيو څخه ليرې دی، او که چيرته يادونه يې وشي په بدی سره يادیږي.

## ١٢. پوښتنه: د الکافرون سورت ولولئ او تفسير يې کړئ؟

### الف: د کافرون سورت او د هغه تفسير:

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ. د الله په نوم سره (پيل کوم) چې ډېر زيات مهربان، هميشه رحم کوونکی دی

﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ (1). (ای نبي!) ته (دوی ته) ووايه: ای کافرانو!(١).

لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ (2). زه د هغو (شيانو) عبادت نه کوم چې تاسو يې عبادت کوئ.

وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ (3). او نه تاسو د هغه ذات خالص عبادت کوونکي يئ چې زه يې عبادت کوم.

وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَا عَبَدْتُمْ (4). او نه زه د هغه شي عبادت کوونکی يم چې تاسو يې عبادت کړی دی.

وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ (5). او نه تاسو عبادت کوونکي يئ د هغه ذات چې زه يې عبادت کوم(١).

لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ (6)﴾ تاسو لپاره ستاسو دين دی او زما لپاره زما دين دی.

[سورة الكافرون: ١ - ٦].

تـفـسـيـر :

١- ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ (1)﴾: ووايه - اى رسوله - اى هغو كسانو چې په الله كفر كوي.

٢- ﴿لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ (2)﴾: زه نه اوس او نه په راتلونكي كې د كومو بتانو عبادت كوم چې تاسو يې عبادت كوئ.

٣- ﴿وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ (3)﴾: او نه تاسو د هغه څه عبادت كوئ چې زه يې عبادت كوم او هغه يوازې الله دى.

٤- ﴿وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَا عَبَدْتُمْ (4)﴾: او نه زه د بتانو عبادت كوونكى يم كوم چې تاسو يې عبادت كوئ.

٥- ﴿وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ (5)﴾: او نه تاسو د هغه څه عبادت كوئ چې زه يې عبادت كوم او هغه يوازې الله دى.

٦- ﴿لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ (6)﴾: تاسو ته هغه دين چې تاسو د ځان لپاره جوړ كړى او زما لپاره هغه دين دى چې الله ماته وحې كړى دى.

## ١٣. پوښتنه: د النصر سورت ولولئ او تفسير يې كړئ؟

ج: د النصر سورت او د هغه تفسير:

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ. د الله په نوم سره (پيل كوم) چې ډېر زيات مهربان، هميشه رحم كوونكى دى

﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ (1). كله چې د الله مرسته راشي او فتح.

وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا (2). او ته خلق ووينې چې د الله په دين كې ډلې ډلې داخلېږي(١).

﴿فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا (3)﴾. نو ته پاكي بيانوه د خپل رب له ستاينې سره او له ده نه مغفرت غواړه، بېشكه دى تل ښه توبه قبلوونكى دى [سورة النصر: ١ - ٣].

تفسير:

١- ﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ (1)﴾: كه د الله مرسته او فتح ستا په دين كې راشي - اې رسوله- او د هغه عزت او شرف ورته راشي، او د مكې فتحه ترسره شي.

٢- ﴿وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا (2)﴾: او ته به خلك ووينې چې د اسلام په دين كې ډلې يوه له بلې پسې داخلېږي.

٣- ﴿فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا (3)﴾: نو پوه شه چې دا د هغه مسوليت د پاى ته رسيدو د نزديوالى نښه ده چې ته پرې ليږل شوى يې، پس پاكي بيان كړه سره د ثنا د رب خپل هغه لره د شكر كولو له امله د هغه نعمت په مقابل كې چې غلبه او كاميابي يې دركړه ، او له هغه څخه بخښنه وغواړه، ځكه چې هغه د توبې قبلونكى دى، او د خپلو بندګانو توبه قبلوي، او بخښنه ورته كوى.

## ١٤. پوښتنه: د المسد سورت ولولئ او تفسير يې كړئ؟

ج: د المسد سورت او د هغه تفسير:

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ. د الله په نوم سره (پيل كوم) چې ډېر زيات مهربان، هميشه رحم كوونكى دى

﴿تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ (1)﴾. د ابو لهب دواړه لاسونه دې هلاك شي او دى هلاك شو.

مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ (2). د ده هيڅ په كار رانغلل، نه د ده مال او (نه) هغه څه چې ده ګټلي وو.

**سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ (3).** ژر ده چې دی به لمبې وهونکي اور ته داخل شي.

**وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ (4).** او د ده ښځه هم، (زه د دغې) د لرګو اوچتوونکې (مذمت کوم).

**فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِنْ مَسَدٍ (5)﴾.** د دې په غاړه کې د کجورې د پټ مضبوطه رسۍ ده.

[سورة المسد: ١ – ٥].

تـفـسـيـر:

١– **﴿تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ (1)﴾:** د رسول الله صلى الله عليه وسلم د تره ابو لهب بن عبد المطلب لاسونه زيانمن شول، ځکه چې هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته زيان رسولی و او کوششونه يې ناکام شو.

٢– **﴿مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ (2)﴾:** څه شي هغه ته ګټه ورسوله، شتمنۍ او زوی يې؟ نه يې عذاب ورڅخه دفع کړ، او نه يې ورباندې څه زړه خوګی وکړ.

٣– **﴿سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ (3)﴾:** د قيامت په ورځ به هغه اور ته ننوځي چې لمبې وهونکی به وي او تودوالی به يې زغمي.

٤– **﴿وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ (4)﴾:** او د هغه مېرمن ام جميل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته به يې ضرر رساوه، د هغه په لاره کې به يې اغزي اچول هغه به هم اور ته داخليږي.

٥– **﴿فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِنْ مَسَدٍ (5)﴾:** د هغې په غاړه کې به يوه ټينګه اوبدل شوې رسۍ وي چې هغه يې پرې اور ته ليږدوله کيږي.

## ١٥. پوښتنه: د اخلاص سوره ولولئ او تفسير يې کړئ؟

ج– د اخلاص سوره او د هغه تفسير:

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ.** د الله په نوم سره (پيل کوم) چې ډېر زيات مهربان، هميشه رحم کوونکی دی.

﴿**قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (1).** (ای نبي!) ته (دوی ته) ووايه: شان دا دی چی الله يو دی(١).

**اللَّهُ الصَّمَدُ (2).** هم دا الله بې نياز (بې حاجته) دی.

**لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (3).** نه يې (څوك) زېږولی دی او نه دی (له چا) زېږول شوی دی.

**وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ (4)﴾.** او د ده هيڅوك سيال (او) برابر نشته(١). [سورة الإخلاص: 1 – 4].

تـفـسيـر:

1– ﴿**قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (1)﴾:** ووايه – ای رسوله – هغه الله دی، له هغه پرته بل معبود نشته.

2- ﴿**اللَّهُ الصَّمَدُ (2)﴾:** يعنې: د مخلوق اړتياوې ورته پورته کېږي.

3- ﴿**لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (3)﴾:** هغه پاک ذات نه بچی لري، او نه پلار.

4– ﴿**وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ (4)﴾:** او په مخلوق کې د ده هيڅوک سيال برابر نشته.

## ١٦. پـوښـتـنـه: د الـفـلـق سورت ولـولـئ او تـفـسير يـې کـړئ؟

### ج– د الـفـلـق سورت او د هغه تـفـسيـر:

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ.** د الله په نوم سره (پيل کوم) چې ډېر زيات مهربان، هميشه رحم کوونکی دی.

﴿**قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ (1).** (ای نبي) ته ووايه: زه په رب د سبا پورې پناه نيسم.

**مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ (2).** د هر هغه شي له شر نه چې ده پيدا کړی دی.

**وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ (3).** او د تيارې شپې له شر نه کله چې تکه توره (او خوره) شي.

**وَمِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ (4).** او له شر د هغو (جادوګرو) ښځو چې په غوټو کې پوکې وهونکې دي **وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ 5﴾** او د حسد کوونکي له شر نه کله چې دی حسد (شروع او ښکاره) کړي. [سورة الفلق: 1 - 5].

تفسير:

1- ﴿**قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ (1)**﴾: ووايه - اى رسوله - زه د سهار په رب پناه نيسم، او ځان ورسپارم.

2- ﴿**مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ (2)**﴾: د هغه مخلوقاتو له شر څخه چې ضرر رسوي.

3- ﴿**وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ (3)**﴾: او زه الله تعالى ته پناه ورم له هغو شرونو څخه چې د شپې له خوا د جاندارانو او غلو څخه څرګندیږي.

4- ﴿**وَمِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ (4)**﴾: زه د هغو (جادوګرو) له شره څخه چې په غوټو کې پوکې وهونکې دي پناه غواړم.

5- ﴿**وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ (5)**﴾: او د هغه حسد کوونکي له شر څخه چې له خلکو سره دښمني کوي، د هغو نعمتونو په خاطر چې الله ورته ورکړي حسد کوي، غواړي چې دغه نعمتونه له دوی څخه لرې شي او دوی ته زيان ورسيږي.

## ١٧. پوښتنه: د الناس سورت ولولئ او تفسير يې کړئ؟

ج- د الناس سورت او تفسير يې:

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ.** د الله په نوم سره (پيل کوم) چې ډېر زيات مهربان،هميشه رحم کوونکی دی

﴿**قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ (1).** (اى نبي) ته ووايه: زه د خلقو په رب پورې پناه نيسم.

**مَلِكِ النَّاسِ (2).** چې د خلقو بادشاه دی.

**إِلَٰهِ النَّاسِ (3).** د خلقو (حقیقي) معبود دی.

**مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ (4).** له شره د وسوسې اچوونکي، تنبتېدونکي(۱).

**الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ (5).** هغه چې د خلقو په سینو کې وسوسې اچوي.

**مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ (6)﴾.** چې (دغه وسوسې اچوونکي) له پیریانو او انسانانو څخه دي.

[سورة الناس: 1 – 6].

تـفـسيـر :

1- **﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ (1)﴾:** ووایه ای رسوله - زه د خلکو په رب ځان ساتم او هغه ته پناه ورم

2- **﴿مَلِكِ النَّاسِ (2)﴾:** هر څنګه چې وغواړي پر هغوی تصرف کوي، او دوی ته پرته له هغه بل مالک نشته.

3- **﴿إِلَٰهِ النَّاسِ (3)﴾:** په حق سره هغه د دوی معبود دی، په حق سره د دوی لپاره هیڅ بل معبود نشته.

4- **﴿مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ (4)﴾:** د شیطان له شر څخه چې په خلکو کې خپل وسوسه اچوي.

5- **﴿الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ (5)﴾:** هغه چې د خلکو په زړونو کې وسوسه اچوي.

6- **﴿مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ (6).** یعنې وسوسه اچوونکی له انسانانو څخه هم وي او له پیریانو څخه هم وي.

* * *

## د حديث څانګه

4 لومړی حديث:

**١. پوښتنه: دا حديث بشپړ کړئ: "إنما الأعمال بالنيات..." او ځينې ګټې يې ذکر کړئ؟**

ج – د اميرالمؤمنين ابو حفص عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) څخه روايت دی چې فرمايي: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايلي دي: «إنما الأعمال بالنيات، وإنما لكل امرئ ما نوى، فمن كانت هجرته إلى الله ورسوله؛ فهجرته إلى الله ورسوله، ومن كانت هجرته لدنيا يصيبها، أو امرأة ينكحها؛ فهجرته إلى ما هاجر إليه» بيشکه صحت د عملونو په نيتونو پورې دی او هر انسان ته به هغه څه حاصل شي چې نيت يې کړی وي، نو چا چې د الله او د هغه د رسول لپاره هجرت کړی وي؛ د هغه هجرت د الله او د هغه د رسول لپاره دی، او چا چې هجرت د دنيا لپاره او يا د يوې ښځې سره د واده کولو لپاره، کړی وي نو د هغه هجرت د هغه څه لپاره دی چې هغه ورته هجرت کړی وی. بخاري او مسلم روايت کړی دی.

د حديث ځينې فايدې:

١- هر عمل بايد ضرور د هغې د پاره نيت وي، لکه لمونځ، روژه، حج او داسې نور عملونه.

٢- په نيت کې بايد د الله تعالى لپاره اخلاص موجود وي.

4 دويم حديث:

**٢. پوښتنه: دا حديث «من أحدث في أمرنا هذا ...»، پوره کړئ او ځينې ګټې يې وواياست؟**

ج- د مؤمنانو د مور ام عبدالله عايشه (رضي الله عنها) څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "چا چې زموږ په دين کې نوي شيان

راپیدا کړل چې له هغې څخه نه وي، هغه مردود دي." بخاري او مسلم روایت کړی دی.

د حدیث ځینې فایدې:

**١- په دین کې د بدعت د پیداکولو څخه منع.**

**٢- نوي له ځانه جوړ شوي عملونه مردود دي او نه قبلیږي.**

4 دریم حدیث:

### ٣. پوښتنه: دا حدیث (بینما نحن جلوس عند رسول الله (ﷺ) ...)، بشپړ کړئ او ځینې ګټې یې بیان کړئ؟

له عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) څخه روایت دی، هغه فرمايي: موږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو، یوه ورځ یو سړی را ښکاره شو چې سپیني جامې یې په تن وې. ډېر تور ویښتان یې و، د سفر کومه نښه په کې نه لیدل کېده، او له موږ څخه هیچا هم نه پېژنده، تر دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته کېناست، نو خپل زنګنونه یې د هغه زنګنونو ته ورتکیه کړل او لاسونه یې پر ورنونو کېښودل، او ورته ویې ویل: ای محمده! ماته د اسلام په باره کې خبر راکړه، هغه ورته وویل: اسلام: دا دی چې ګواهي ورکړې چې له الله پرته بل معبود نشته او محمد-صلی الله علیه و سلم- د الله رسول دی، لمونځ قائم کړې، زکات ورکړې، د رمضان روژه ونیسې او د بیت الله حج وکړې ." که ورته لاره پیدا کړای شې ." ویې ویل: "ته رښتیا وایې." موږ حیران شو چې هم پوښتنه کوي او هم یې تصدیق کوي، ویې ویل: ما ته د ایمان په باره کې خبر راکړه" هغه وویل: " هغه دا چې په الله، د هغه په ملائکو، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو او د آخرت په ورځ ایمان راوړې، او په تقدیر باور ولرې؛ په خیر او شر یې" هغه وویل: "رښتیا دې وویل." هغه وویل: "د احسان په باره کې خبر

راکړه ." هغه وویل: "د الله عبادت کول په داسې حال چې ګویا کې ته الله وینې او که داسې حالت نه شې جوړولای نو بیا یقین جوړ کړه چې بیشکه الله ما ګوري." وېې وییل: ماته د قیامت په باره کې خبر راکړه، وېې ویل: پوښتل شوی له پوښتونکي څخه ډېر پوه نه دی، هغه وویل: د هغې نښې راته ووایه." وېې ویل: "دا چې کنیزه خپل مالک وزیږوي، او دا چې ته وګورې چې پښې ابل ، بربنډ ،محتاج ،شپانه یو له بله په ابادیو کې وړاندیوالی کوي." بیا هغه روان شو، یو څه وخت تیر شو، بیا یې وویل: "اې عمره! آیا ته پوهیږې چې پوښتونکی څوک و؟، ما وویل: الله او د هغه رسول ښه پوهیږي، وېې ویل: دا جبرائیل و، هغه تاسو ته راغلی و تر څو مو پر دین پوه کړي. مسلم روایت کړی دی.

د حدیث ګټې:

۱- د اسلام د پنځو رکنونو یادونه؛ او هغه: په (اشهد أن لا إله إلا الله، وأن محمدا رسول الله) ګواهي ورکول دي یعنې: له الله پرته بل په حقه معبود نشته او محمد- صلی الله علیه و سلم- د الله رسول دی.

او لمونځ قائمول.

او زکات ورکول.

او د رمضان روژه.

او د بیت الله الحرام حج کول.

۲- د ایمان د رکنونو یادونه او هغه شپږ دي:

په الله ایمان.

او د هغه پر ملایکو.

او د هغه په کتابونو.

او د هغه په رسولانو.

او د قيامت په ورځ.

او په اندازه د خير او د شر.

٣- د احسان يو ركن يې ياد كړ او هغه دا چې د الله عبادت داسې وكړئ چې ته يې وينې او كه دا حالت نه شې جوړولاى نو دا حالت خو خاماخا جوړ كړه چې الله ما وينې.

٤- د قيامت وخت، يوازې الله تعالى پرې پوهيږي.

## 4 څلورم حديث

٤. پوښتنه: دغه حديث «أكمل المؤمنين إيمانا...»، بشپړ كړئ او ځينې ګټې يې ذكر كړئ؟

ج- له ابوهريره (رضي الله عنه) څخه روايت دى، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «أكمل المؤمنين إيماناً: أحسنهم خلقاً». "د كامل ايمان خاوندان هغه څوك دي چې ښه اخلاق ولري." ترمذي روايت كړى، او ويلي دي چې حسن حديث دى.

د حديث ګټې:

١- ښو اخلاقو ته هڅول،

٢- د اخلاقو كمال د ايمان د كمال څخه دي،

٣- او دا چې ايمان زياتيږي او كميږي،

## 4 پنځم حديث:

٥. پوښتنه: دا حديث بشپړ كړئ: "«من حلف بغير الله ...»، او د هغې ځينې ګټې بيان كړئ؟

ج- له ابن عمر (رضي الله عنهما) څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې له الله پرته په بل څه قسم ياد کړي؛ هغه کفر يا شرک کړی دی.» د ترمذی روايت.

د حديث ګټې:

- د الله تعالی پرته په بل څه قسم کول جواز نلري.

- له الله پرته په بل چا قسم کول له کوچني شرک څخه دي.

4 شپږم حديث:

**۶. پوښتنه: دا حديث بشپړ کړئ چې: لا يؤمن أحدكم حتى أكون أحب إليه ...»، او د هغې ځينې ګټې بيان کړئ؟**

ج- له انس (رضي الله عنه) څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: "په تاسو کې هيڅوک تر هغه وخته مؤمن نشي کيدلی تر څو چې زه ورته د هغه له پلار، زوی او ټولو خلکو څخه ګران نه شم." د بخاري او مسلم روايت.

د حديث ګټې:

- د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره بايد د ټولو خلکو په پرتله زياته مينه وشي.

دا د ايمان کمال دی.

4 اووم حديث:

**۷. پوښتنه: دا حديث بشپړ کړئ چې: «لا يؤمن أحدكم حتى يحب لأخيه ...»، او د هغې ځينې ګټې بيان کړئ؟**

ج- له انس (رضي الله عنه) څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: "په تاسو کې هيڅوک مومن نه شی کيدلای؛ تر څو چې د خپل

وروړ لپاره هغه څه خوښ کړي چې د ځان لپاره يې خوښوي". د بخاري او مسلم روايت.

د حديث لـه ګـټـو څـخـه:

١- مؤمن ته پکار دي چې د بل مؤمن لپاره له ښېګڼو هغه څه خوښ کړي چې ځانته يې خوښوي.

دا د ايمان له کمال څخه دي.

4 اتـم حديث:

**٨. پـوښتـنـه: دا حديث بـشپړ کړئ: «والـذي نـفسي بـيده! ...»، او د هغه ځيـنـې ګـټـې ذکـر کـړئ؟**

ج – له ابو سعيد (رضي الله عنه) څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: " قسم په هغه ذات چې زما روح د هغه په لاس کې دی! دا د قرآن د دريمې برخې سره برابر دی." بخاری روايت کړی.

د حديث ځيـنـې ګـټـې:

١- د الِاخلاص سورت فضيلت.

٢- د قرآن کريم د دريمې برخې سره برابر دی.

4 نـهم حديث:

**٩. پـوښتـنـه: دا حديث بـشپړ کړئ چې «لا حول ولا قـوة إلا بـالله ...»، او ځيـنـې ګـټـې يـې ذکـر کـړئ؟**

ج- له ابو موسى (رضي الله عنه) څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: " لا حول ولا قوة إلا بالله ، د جنت له خزانو څخه يوه خزانه ده".

د بخاري او مسلم روايت.

د حديث لـه ګـټـو څـخـه:

١- د دې کلمې فضيلت او دا چې د جنت له خزانو څخه يوه خزانه ده.

2- د بنده بيزاري له خپل ځواک او قوت څخه، او يوازې په الله تعالی تکيه کول.

4 لسم حديث:

١٠. پوښتنه: دا حديث بشپړ کړئ "«ألا إن في الجسد مضغة...»، او ځيني ګټې يې ذکر کړئ؟

ج – له نعمان بن بشير (رضي الله عنهما) څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې ويل يې: "پوه شئ چې په بدن کې يوه ټوټه غوښه ده، که هغه اصلاح شی، ټول بدن به اصلاح وي، او که فاسده شي ټول بدن به فاسد شي، او هغه زړه دی." بخاري او مسلم روايت کړې دی.

د حديث ځيني ګټې:

١- د زړه په اصلاح سره ظاهر او باطن اصلاح کيږي.

٢- د زړه اصلاح ته پاملرنه، ځکه په دې کې د انسان اصلاح دی.

4 يوولسم حديث:

١١. پوښتنه: دا حديث بشپړ کړئ: من كان آخر كلامه من الدنيا: لا إله إلا الله..»، او ځيني ګټې يې ذکر کړئ؟

ج- د معاذ بن جبل (رضي الله عنه) څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هغه کس چې وروستۍ خبره يې: لا إلٰه إلا الله وي؛ جنت ته ننوځي » ابوداود روايت کړې.

د حديث ځيني ګټې:

١- د لا إلٰه إلا الله فضيلت، او دا چې بنده پرې جنت ته ننوځي.

٢- او د هغه چا فضيلت چې وروستۍ خبره يې په دنيا کې: لا إلٰه إلا الله وي

4 دولسم حديث:

### ۱۲. پوښتنه: دا حدیث بشپړ کړئ چې «لیس المؤمن بالطعان، ولا اللعان، ...»، او د نوموړي حدیث ځینې ګټې؟

ج – له عبدالله بن مسعود (رضي الله عنه) څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «لیس المؤمن بالطعان، ولا اللعان، ولا الفاحش، ولا البذيء» "مومن پیغور ورکوونکی، لعنت کوونکی، فُحش ویونکی، او بد ژبی نه وي." ترمذی روایت کړی دی.

د حدیث ځینې ګټې:

۱- د هر ډول باطلو او بدو خبرو منع.

۲- دا د مؤمن د ژبې صفت دی.

4 دیارلسم حدیث:

### ۱۳. پوښتنه: دا حدیث بشپړ کړئ «من حسن إسلام المرء ...»، او ځینې ګټې یې ذکر کړئ

ج- له ابوهریره (رضي الله عنه) څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «من حسن إسلام المرء: ترکُه ما لا یعنیه» "د انسان د ښه اسلام نښه د هر هغه څه پرېښودل دي چې ورپورې اړه نه لري" ترمذي او نورو روایت کړی.

د حدیث ګټې:

۱- د هغه څه پرېښودل چې د نورو په دین او دنیاوي چارو کې دده مربوط نه وي.

۲- پرېښودل د هغه څه چې د انسان پورې اړه نه لري، دا د هغه د اسلام له کمال څخه دي.

4 څوارلسم حدیث:

### ۱۴. پوښتنه: دا حدیث بشپړ کړئ: «من قرأ حرفاً من کتاب الله...»، او ځینې ګټې یې بیان کړئ؟

ج – له عبدالله بن مسعود (رضي الله عنه) څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «مَن قرأ حرفًا من كتاب الله فله به حسنة، والحسنة بعشر أمثالها، لا أقول: ألف لام ميم حرف، وَلَـٰكِنْ ألفٌ حرفٌ، ولامٌ حرفٌ، وميمٌ حرفٌ» څوک چې د الله له کتاب څخه یو حرف ولولي، د هغه لپاره به یوه نېکي وي او د نېکۍ لس نېکۍ ورته، زه نه وایم: الف لام میم یو حرف دی، بلکې الف یو توری دی، لام یو توری دی، او میم یو توری دی. ترمذي روایت کړی دی.

د حدیث ځینې ګټې:

**۱- د قرآنکریم د تلاوت فضیلت.**

**۲- او دا چې هر توری لولې ستا لپاره پرې نیکۍ دي.**

* * *

## د اسلامي آدابو څانګه

### له الله تعالی سره ادب :

**۱. پوښتنه: له الله تعالی سره ادب څنګه وي؟**

ج-۱- د هغه (سبحانه و تعالی ) تعظیم کول.

۲- بې له شریک څخه د هغه عبادت کول.

۳- د هغه اطاعت،

٤- د هغه نافرماني پرېښودل.

٥- د هغه د بې شمېر فضل او نعمتونو شکر او ستاینه کول.

٦- د هغه په تقدیر صبر کول.

### رسول الله (ﷺ) سره ادب:

**۲. پوښتنه: له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ادب څنګه وي؟**

ج- ۱- د هغه اقتدا او پیروي کول،

۲- د هغه اطاعت کول،

۳- د هغه نافرماني پرېښودل،

٤- پر هغه څه باور کول چې خبر يې ورکړی،

٥- د هغه په سنتو کې د زيات والی په ذريعه بدعت نه کول.

٦- له ځان او ټولو خلکو څخه له هغه سره ډېره مينه کول.

٧- د هغه تعظيم، ملاتړ او د هغه د سنتو ملاتړ کول.

**۳. پوښتنه: له والدينو سره ادب څنګه وي؟**

ج –۱–پرته له نافرمانۍ څخه د مور او پلار اطاعت.

۲- د مور او پلار خدمت کول،

٤- د مور او پلار سره مرسته کول،

٥- د مور او پلار د اړتياوو پوره کول،

٥- مور او پلار ته دعا کول،

٦- په خبرو کې له هغوی سره نرمي کول؛ حتی دا هم جواز نه لری چې ووايي: "اف"، چې تر ټولو کوچنۍ وينا ده.

٧- د مور او پلار په مخ موسکا کول او تندی نه تريوول.

٨- زه خپل غږ د مور او پلار له غږ څخه نه پورته کوم، هغوی ته غوږ ږدم، د هغوی سره خبرې کول نه قطع کوم، او په نوم ورته غږ نه کوم، بلکې دا وايم: «پلاره»، «مورې».

٩- کله چې زما مور او پلار په کوټه کې وي، له ننوتلو مخکې اجازه غواړم.

١٠- د مور او پلار د لاس او سر ښکلول.

## د خپلوی ادبونه:

### ۴. پوښتنه: خپلوي څنګه وپالم؟

ج- ١- د خپلوانو زيارت کول لکه: ورور، خور، تره، ترور، ماما، خاله او همدارنګه نور خپلوان.

٢- په قول او عمل کې ورسره احسان او مرسته کول.

٣- د هغوی له جملې څخه هغوی سره اړيکه نيول او د هغوی د حالاتو پوښتنه کول شامل دي.

## د الله تعالی لپاره د ورورولی ادبونه:

### ٥. پوښتنه: زه له خپلو ورونو (١) او ملګرو سره څنګه بايد اوسم؟

ج- ١- خوښ ګڼم: له ښو خلکو سره ملګرتيا ولرم.

٢- د شر غوښتونکو(د بدو خلکو) له ملګرتيا څخه ځان وساتم او هغوی پريږدم.

٣- خپلو ورونو ته سلام کوم او هغوی ته لاس ورکوم.

٤- د ناروغتیا پر مهال یې پوښتنه کوم او د روغتیا دعا ورته کوم.

٥- د پرنجې ځواب ورکوم.

٦- که هغه ما ته د میلمستیا بلنه راکړي زه یې قبلوم.

٧- هغه ته نصیحت کوم(١).

٨- که ظلم پرې وشي ملاتړ یې کوم، او له ظلم څخه یې ژغورم.

٩- زه د خپل مسلمان ورور لپاره هغه څه خوښوم کوم چې د ځان لپاره یې خوښوم.

١٠- که هغه زما مرستې ته اړتیا ولري زه ورسره مرسته کوم.

١١- په خبره او یا عمل سره هغه ته هیڅ ضرر نه رسوم.

١٢- د هغه راز پټ ساتم.

١٣- زه هغه ته ښکنځلې نه کوم، غیبت یې نه کوم، د هغه سپکاوی نه کوم، حسد ورسره نه کوم، د هغه جاسوسي یې نه کوم، او ورسره دوکه نه کوم.

### د ګاونډیتوب ادبونه:

### ٦. پوښتنه: د ګاونډي ادبونه کوم دي؟

ج- له ګاونډي سره په قول او عمل کې نیکي کوم او که زما مرستې ته اړتیا ولري مرسته ورسره کوم.

٢- که په اختر، واده او یا بل څه خوشحاله وي مبارکي ورته وایم.

٣- که ناروغ وي پوښتنه یې کوم، او که غم یا مصیبت ورته رسیدلی وي هغه ته ډاډ ورکوم.

٤- هغه خواړه چې ځانته یې تیاروم، تر خپلې وسې یې هغه ته هم ورلېږدي کوم.

٥- په قول او عمل ورته ضرر نه رسوم.

٦. په لوړ غږ سره یې نه څوروم او د هغه جاسوسي نه کوم او هغه سره له صبر څخه کار اخلم.

## د میلمستیا اداب:

**٧. پوښتنه: د میلمه پالنې او میلمه ادبونه کوم دي؟**

ج- ١- څوک چې د میلمستیا بلنه راکړي منم یې.

٢- که غواړئ له چا لیدنه وکړئ، اجازه او د ملاقات وخت ترې وغواړئ.

٣- له ننوتلو مخکې اجازه وغواړئ.

٤- ملاقات نه ناوخته کوم.

٥- د هغه له کورنۍ څخه خپل نظر ښکته ساتم.

٦- میلمه ته په ښه ډول، ورین تندي او په ښو الفاظو سره ښه راغلاست وایم.

٧- میلمه په مناسب ځای کې کښېنوم.

٨- په خوراک او څښاک او ښه میلمستیا عزت ورکوم.

## د ناروغۍ ادبونه:

**٨. پوښتنه: د ناروغۍ او رنځورپوښتنې آداب ذکر کړه؟**

ج- ١- کله چې درد احساس کړم؛ خپل ښۍ لاس پر هغه ځای ږدم او درې ځلې وایم: "بسم الله" او وایم: «أعوذ بعزة الله وقدرته من شر ما أجد و أحاذر» "زه د الله قدرت او ځواک ته پناه وړم د هغه څه له شر څخه چې زه یې مومم او ترې ویرېږم". اوه ځلې.

٢- په هغه څه خوښ یم چې الله تعالی راته مقدر کړی وي او صبر کوم.

٣- د خپل ناروغ ورور لیدو لپاره بیړه کوم، دعا ورته کوم، او تر ډېره وخته ورسره نه کښېنم.

٤- يې له دې چې له ما څخه وغواړي هغه دموم.

٥- زه ورته د صبر، دعاء، لمونځ، او طهارت (پاکوالی) نصيحت کوم، څومره يې چې توان ولري.

٦- د ناروغ لپاره دعاء: «أسأل الله العظيم رب العرش العظيم أن يشفيك» د لوى الله او د لوى عرش له رب څخه تا ته د شفاء غوښتنه کوم. اوه ځلې.

### د زده کړې آداب:

**٩. پوښتنه: د علم زده کړې آداب ذکر کړه؟**

ج ١- صحيح نيت(١).

٢- په هغه علم باندې عمل کوم چې زده کړی مې دی.

٣- د ښوونکي په شتون او نه شتون کې د هغه احترام او درناوی کوم.

٤- د هغه په مخ کې په ادب سره کښينم.

٥- زه ورته ښه غوږ نيسم او په درس کې يې مداخله نه کوم.

٦- په ادب سره پوښتنه کوم.

٧- زه هغه په نوم نه بولم.

### د مجلس ادبونه:

**١٠. پوښتنه: د مجلس آداب څه دي؟**

ج –١- د مجلس حاضرينو ته سلام کوم.

٢- هغه ځای کې کښينم چې مجلس پای ته رسيږي، زه له مجلس څخه څوک نه پورته کوم او له اجازې پرته د دوو کسانو تر منځ نه کښينم.

٣- مجلس ته پراښتيا ورکوم تر څو بل څوک هم کښيني.

٤- د مجلس خبرې نه قطع کوم،

٥- زه د مجلس څخه د وتلو د مخه اجازه غواړم او سلام کوم،

٦- کله چې مجلس ختم شي نو د مجلس د کفارې دعا وايم: «سبحانك اللهم وبحمدك، أشهد أن لا إله إلا أنت، أستغفرك و أتوب إليك». اى الله! ته پاک يې او تالره ستاينه ده، زه شاهدي ورکوم چې له تا پرته بل معبود نشته، زه ستا څخه بخښنه غواړم او تاته توبه کوم.

## د خوب ادبونه:

### ١١. پوښتنه: د خوب آداب ذکر کړئ؟

ج-١- زه وختي ويده کيږم.

٢- په اوداسه ويده کيږم.

٣- پرمخه نه ويده کيږم.

٤- په ښي اړخ ويده کيږم او ښى لاس د ښي انګي لاندې ږدم.

٥- زه خپله بستره څنډم.

٦- د خوب اذکار لولم:

- آيت الکرسي، د اخلاص سورت او معوذتين(١) درې ځلي تلاوت کوم. او وايم: «باسمك اللهم أموت و أحيا». "اى الله ستا په نوم، مړ او ژوندى کيږم."

٧- د سهار لمانځه ته پاځيږم.

٨- د خوبه له پاځيدو وروسته وايم: «الحمد لله الذي أحيانا بعدما أماتنا وإليه النشور».

## د ډوډى خوړلو ادبونه:

### ١٢. پوښتنه: د ډوډى خوړلو آداب څه دى؟

ج-١- په خوراک او څښاک سره د الله تعالى د اطاعت لپاره د پياوړتيا نيت کوم.

٢- له خوراک څخه وړاندې د لاسونو پرېمينځل.

٣- : بسم الله، وايم او په ښي لاس سره له خپلې مخې خوراک کوم، او د کاسو له مينځ يا د بل چا له مخې خوراک نه کوم .

٤- که بسم الله ويل مې هېر شي نو وايم : " بسم الله أوله و آخره " . د الله په نوم، په پيل او پای کې.

٥- په شته خوړو خوښ يم، او په خوړو نيوکه نه کوم، که مې خوښ شول خورم يې او که مې خوښ نه شول نو پرېږدم يې.

٦- زه څو مړی ډوډی خورم، او ډېر خوراک نه کوم.

٧- په خوراک او څښاک کې پوکی نه کوم، او تر يخېدو پورې يې پرېږدم.

٨- له کورنۍ يا مېلمه سره د خوراک لپاره هغوی سره يو ځای کينم.

٩- د بل چا څخه مخکې چې زما څخه لوی وي په خوړلو پيل نه کوم.

١٠- کله چې څښم بسم الله وايم، په ناسته يې څښم او په دريو دمو کې يې څښم.

١١- له ډوډۍ وروسته د الله شکر ادا کوم.

## د جامو ادبونه

### ١٣. پوښتنه: د جامو ادبونه وشميرئ؟

ج - ١- جامې له ښي خوا اغوندم، او د الله شکر ادا کوم.

٢- جامې د پښو له ګټيو (ښنګرو) څخه(١) نه اوږدوم.

٣- هلکان بايد د انجونو جامې وا نه غوندي او انجونې بايد د هلکانو جامې وا نه غوندي.

٤- د کافرانو او فاسقانو سره له مشابهت څخه ډډه کول.

٥- د جامو ويستلو پر مهال بسم الله وييل.

٦- لومړی د ښۍ پښې څپلۍ پښو کوم، او ويستلو کې لومړی د کيڼې پښې څخه پيل کوم.

### د سپرلۍ (سوارۍ) آداب:

**۱۴. پوښتنه: د سپرلۍ (سورلۍ) ادبونه ذکر کړئ؟**

ج- ۱- زه وايم: «بسم الله، الحمد لله»"د الله په نوم، ستاينه الله لره ده." ﴿سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ 13 وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ 14﴾ پاکي ده هغه ذات لره چې زمونږ لپاره يې دا مسخر (او تابع) کړی دی او مونږ ده لره په قابو کې راوستونکي نه يو. او بېشکه مونږ خاص خپل رب ته خامخا بېرته ورتلونکي يو. [سورة الزخرف: 13، 14].

٢- که پر يو مسلمان تيريږم، سلام پرې اچوم.

### د لارې ادبونه:

**۱۵. پوښتنه: د لارې ادبونه ذکر کړئ.**

ج-۱- زه په خاکسارۍ او عاجزۍ سره ګرځم، او د لارې ښي اړخ ته ځم.

٢- هر چا سره چې مخامخ کيږم هغه ته سلام کوم.

٣- خپل نظر ټيټ ساتم او هيچاته ضرر نه رسوم.

٤- په نېکۍ امر کوم او له بديو منع کوم.

٥- له لارې څخه مضر شيان لرې کوم.

### کور ته د ننوتلو او وتلو آداب:

**۱۶. پوښتنه: کور ته د ننوتو او وتلو آداب ذکر کړئ؟**

ج- ۱- له کور څخه د وتلو پر مهال چپه پښه مخکې کوم او وايم: «بسم الله، توكلت على الله، لا حول ولا قوة إلا بالله، اللهم

إنــي أعـوذ بـك أن أضل أو أضل، أو أزل أو أزل، أو أظلـم أو أظلم ، أو أجهل أو يـجهل علـي». د الله په نوم، زه په الله توکل کوم، ځواک او قوت نشته مګر په الله، الهی! زه تاته پناه ورم لدې چې بې لارې شم، یا مې بل څوک بې لارې کړي، یا څوک وښويوم، او یا زه اوښويولی شم، یا ظلم وکړم، او یا ظلم را سره وشی، یا خلکو ته ضرر او نقصان ورسوم، یا را ته ضرر راورسولی شي او چې زه د جهالت کار وکړم او یا زما سره وشي.

٢- کور ته د ننوتلو پرمهال ښی پښه مخکې کوم او وایم: «بسـم الله ولـجنـا ، وبسم الله خرجنـا ، وعلـى ربـنـا تـوكـلـنـا». د الله په نامه ننوتلو، او د الله په نامه سره ووتلو، او پر خپل پروردګار مو توکل او تکیه کړې ده."

٣- په مسواک پیل کوم، بیا پر کورنۍ سلام اچوم.

## د قضای حاجت آداب:

## ١٧. پوښتنه: د قضای حاجت آداب ذکر کړئ؟

ج- ١- په چپه پښه ننوځم.

٢- او له ننوتلو مخکې وایم: «بسـم الله، اللـهم إنـي أعوذ بـك من الـخبث والـخبـائـث». "د الله په نوم، ای الله، زه پر تا پناه نیسم د نارینه او ښځینه شیطانانو څخه "

٣- زه له ځانه سره هر هغه څه چې د الله ذکر په کې شوی وي نه داخلوم.

٤- د قضای حاجت په وخت کې ځان پټوم.

٥- د قضای حاجت په ځای کې خبرې نه کوم.

٦- د قضای حاجت پر مهال مخ او شا قبلې خوا ته نه اړوم.

٧- د نجاست د لرې کولو لپاره چپ لاس کاروم، ښی لاس نه کاروم.

٨- د خلکو په لاره کې او د هغوی د سیوري ځایونو کې قضای حاجت نه کوم.

٩- له قضای حاجت څخه وروسته لاسونه مینځم.

١٠- چپه پښه راباسم او وایم: غفرانك. یعنی بخښنه وکړه.(١)

د جومات آداب:

١٨. پوښتنه: د جومات آداب ذکر کړئ؟

ج- ١- په ښی پښه جومات ته ننوځم او وایم: «بسم الله، اللهم افتح لي أبواب رحمتك». "د الله په نوم، ای الله، زما لپاره د خپل رحمت دروازې خلاصې کړه."

٢- تر هغه پورې نه کینم چې دوه رکعته لمونځ مې ادا کړی نه وي.

٣- د لمونځ کوونکو مخې ته نه تیریږم، او په جومات کې د ورک شوي شي اعلان نه کوم، او په جومات کې پلور او پیر نه کوم.

٤- په چپه پښه له جومات څخه وځم او وایم: «اللهم إني أسألك من فضلك». یا الله ستانه ستا د فضل غوښتنه کوم.

د سلام آداب:

١٩. پوښتنه: د سلام آداب ذکر کړئ؟

ج -١- کله چې له کوم مسلمان سره مخ کیږم نو په سلام سره پیل کوم او وایم: "السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته" له سلام پرته په بل شی باندې خبرې نه پیلوم، او یوازې په لاس هم اشاره نه کوم.

٢- د سلام پر مهال موسکا کوم.

٣. او په ښي لاس ورسره روغبړ کوم.

٤- که څوک ماته سلام وکړي زه په ځواب کې له هغه څخه هم ښه سلام ورکوم او یا هماغسی د سلام ځواب ورکوم.

٥- کافر ته په سلام ورکولو پیل نه کوم، او که هغه ماته سلام وکړي نو زه ورته هماغسې ځواب ورکوم.

٦- کشر پر مشر، او سپور پر پیاده، او پیاده پر ناستو، او لږ پر ډېرو باندی سلام اچوي.

### د اجازې غوښتلو آداب:

### ۲۰. پوښتنه: د اجازې آداب ذکر کړئ؟

ج- ۱- ځای ته له ننوتلو مخکې اجازه غواړم.

۲- درې ځلې اجازه غواړم؛ زیات نه، هغې نه وروسته بیرته ګرځم.

۳- دروازه په نرمۍ سره ټکوم، او د دروازې مخې ته نه ودرېږم، بلکې ښي او یا چپ لوري ته ودرېږم.

٤- د اجازې له غوښتلو مخکې خپل پلار، مور او یا د بل چا کوټې ته نه ننوځم، په ځانګړې توګه د سهار له لمانځه مخکې، د ماسپښین او ماخوستن له لمانځه وروسته.

٥- له اجازې پرته غیر مسکونه ځایونه لکه: روغتون یا پلورنځي ته ننوځم.

### په څارویو د مهربانۍ آداب:

### ۲۱. پوښتنه: په څاریو د مهربانۍ آداب ذکر کړئ؟

ج- ۱- څاروي ته خوراک او څښاک ورکوم.

۲- پر څارویو ترحم او شفقت کول، او هغه څه پرې نه بارول چې ورلی یې نشي.

۳- څارویو ته هیڅ ډول عذاب او ضرر نه رسوم.

### د لوبو آداب:

### ۲۲. پوښتنه: د لوبو آداب ذکر کړئ؟

ج-۱- لوبې په دې نیت کوم چې د الله د اطاعت او خوښۍ لپاره پیاوړی شم.

۲- د لمانځه په وخت کې لوبې نه کوم.

۳- هلکان به له نجونو سره لوبې نه کوي.

٤- زه د لوبو هغه جامې اغوندم چې زما عورت پټ کړي.

٥- له حرامو لوبو څخه ډډه کوم، لکه پر مخ وهل او د عورت ښکاره کول.

### د ټوکو آداب:

### ۲۳. پوښتنه: د ټوکې کولو لپاره ځينې آداب ذکر کړئ؟

ج ١- په ټوکو کې رېښتيا ويل او دروغ نه ويل.

۲- هغه ټوکې چې له تمسخر، اهانت، او د ضرر رسولو او ډارولو څخه خالي وي.

۳- ډېرې ټوکې نه کوم.

### د پرنجي آداب:

### ۲۴. پوښتنه: د پرنجي آداب ذکر کړئ؟

ج-١- د پرنجي پر مهال، د لاس، کالي او رومال څخه استفاده کوم.

۲- له پرنجي وروسته الحمد لله، ووايم.

۳- کله مې چې ورور يا ملګرى راته: «يرحمك الله». ووايي، يعني الله دې پر تا رحم وکړي.

نو زه ورته بيا په ځواب کې: «يهديكم الله ويصلح بالكم». وايم يعني"الله دې تاسو ته هدايت وکړي او ستا هر کار دې سم کړي".

### د خولې وازي (اركمي) آداب:

### ۲٥. پوښتنه: د اركمي آداب څه دي؟

ج-١- د اركمي (تثاوب) د مخنيوي هڅه.

۲- د «آه» «آه» کولو سره د آواز نه پورته کول.

۳- په خوله باندې لاس کېښودل.

## د قرآن کریم د تلاوت آداب:

**۲۶. پوښتنه: دقرآن کریم د تلاوت آداب ذکر کړئ؟**

ج-۱- له اوداسه وروسته په پاکوالي سره تلاوت کول

۲- په ادب او وقار سره کېنیناستل.

۳- د تلاوت په پیل کې له شیطان څخه الله تعالی ته پناه وړل.

٤- قرائت کې تدبر او فکر کوم.

* * *

## د اخلاقو څانګه

**١. پوښتنه: د ښو اخلاقو فضیلت بیان کړئ؟**

ج: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "تر ټولو کامل مؤمنان هغه دي چې ښه اخلاق ولري." امام ترمذي او احمد روایت کړی.

**٢. پوښتنه: مونږ ولې په اسلامي اخلاقو عمل وکړو؟**

ج-١- ځکه دا د الله تعالی سره د مینې لامل ګرځی.

٢- د مخلوق سره د مینې لامل ګرځي.

٣- په ترازو کې تر ټولو درووند شی دی.

٤- اجر او ثواب په ښو اخلاقو سره څو چنده زیاتیږي.

٥- دا د کامل ایمان نښه ده.

**٣. پوښتنه: اخلاق باید له کوم ځای څخه واخلو؟**

ج- له قرآن کریم څخه، الله تعالی فرمایلي دي: ﴿إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ﴾.

بیشکه دا قرآن هغې (لارې) ته ښودنه کوي چې تر ټولو برابره نېغه ده [سورة الإسراء: ٩].

او د سنت څخه: څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی: «إنَّما بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ صالحَ الأَخلاقِ» "زه د ښو اخلاقو د بشپړولو لپاره رالیږل شوی یم" احمد روایت کړی.

**٤. پوښتنه: د احسان صفت او شکلونه یې څه دي؟**

ج- احسان: تل د الله جل جلاله څارل او له مخلوقاتو سره احسان او نیکي کول.

**رسول الله (ﷺ) فرمايلي: «إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ» "الله لازم كړي چې د هر شي سره احسان کوئ"** مسلم روايت کړی.

د احسان له اشکالو څخه:

4 احسان د الله تعالی په عبادت کې، او هغه د الله په عبادت کې اخلاص کول دي.

4 له مور او پلار سره په قول او عمل کې احسان کول.

4 کورنۍ او خپلوانو سره احسان کول.

4 ګاونډي سره احسان کول.

4 يتيمانو او مسکينانو سره احسان کول.

4 د هغه چا سره احسان کول چې تاسو ځوروي.

4 په خبرو کې احسان کول.

4 په بحث او مجادله کې احسان کول.

4 حيوان سره احسان کول.

**۵. پوښتنه: د احسان ضد څه شی دی؟**

ج - د احسان ضد بدی او ناوړه برخورد دی.

له هغې جملې څخه:

4 د الله تعالی په عبادت کې د اخلاص پريښودل.

4 د مور او پلار نافرماني.

4 د خپلوی پرې کول.

4 بد ګاونډ يتوب.

4 مسکينانو او فقيرانو سره احسان نه کول او همدارنګه نورې ناوړه خبرې او بد کارونه.

**۶. پوښتنه: د امانت ډولونه او شکلونه څه دي؟**

ج-١- امانت د الله تعالى د حقونو په ساتلو كې.

شكلونه يې: امانت د عبادت په ادا كولو كې له: لمونځ، زكات، روژې، حج، او همداسې نورو كارونو څخه چې الله پر مونږ باندې فرض كړي دي.

٢- د خلكو د حقونو په ساتلو كې امانت:

- د خلكو ناموس ساتل.
- او د هغوى مالونه.
- او د هغوى وينې.
- او د هغوى رازونه، او ټول هغه څه چې خلكو درته د امانت په توګه سپارلي دي.

الله تعالى د بریالیو خلكو د ځانګړتیاو په بیانولو كې فرمايي: ﴿وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ (8)﴾.

او هغوى چې د خپلو امانتونو او ژمنو رعايت كوونكي دي [سورة المؤمنون: ٨].

**٧. پوښتنه: د امانت ضد څه شی دی؟**

**ج – خيانت دی، او هغه د الله تعالى او د خلكو حقوق ضايع كول دي.**

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: **"منافق درې نښې لري" – او له هغه څخه يې دا يادونه وكړه – "او كه امانت وركړل شي نو خيانت كوي"** بخارى او مسلم روايت كړى.

**٨. پوښتنه: د ريښتينولى خوى كوم دی؟**

**ج- په هغه څه خبر وركول چې د واقع سره موافق وي او يا د يو شي باره كې خبر وركول په دې حال كې چې دا شی همداسې وي لكه څنګه يې چې تا خبر وركړ.**

ځينې نمونې يې:

- د خلكو سره په خبرو كې ريښتيا ويل.

4 په ژمنه کې رېښتينولي.

4 په هره خبره او عمل کې رېښتونولي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «**إنَّ الصِّدقَ يَهْدي إلى البِرِّ، وإنَّ البِرَّ يَهْدي إلى الجَنَّةِ، وإنَّ الرَّجلَ لَيَصْدُقُ حتَّى يكونَ صِدِّيقًا**» " رېښتينولي نيکۍ ته لاره هواروي، او نيکي جنت ته لاره هواروي، او انسان تر هغه رښتيا وايي تر څو چې رېښتونی وګرځی." بخاری او مسلم روايت کړی دی.

## ٩. پوښتنه: د رېښتينولۍ ضد څه شی دی؟

ج- دروغ ويیل، او هغه د حقيقت خلاف دي، لکه: پر خلکو دروغ ويیل، د وعدو ماتول، او په دروغو ګواهي ورکول.

رسول الله (ﷺ) فرمايلي: "**دروغ بد اخلاقۍ ته لاره هواروي، او بې حيايي اور ته لاره هواروي، او يو سړی به تر هغه پورې دروغ وايي تر څو چې هغه د الله سره د دروغجن په توګه ثبت شي.**" بخاری او مسلم روايت کړی دی.

او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: "**منافق درې نښې لري**" - **او له هغو څخه يې ځينې دا دي - "کله چې خبرې کوي دروغ وايي، او که وعده وکړي ماتوي يې**" بخاری او مسلم روايت کړی دی.

## ١٠. پوښتنه: د صبر ډولونه ذکر کړئ؟

ج – د الله تعالى په اطاعت صبر.

- له ګناهونو صبر کول.
- په دردناکو تقديراتو صبر، او په هر حالت کې د الله ستاينه کول.

الله تعالى فرمايي: ﴿وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلصَّٰبِرِينَ (146)﴾ او الله صبر کوونکي خوښوي. [سورة آل عمران: ١٤٦].

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: **"د مؤمن کار د حيرانتيا وړ دی، هر يو کار يې د هغه په ګټه دی، او دا د بل چا لپاره نشته پرته له مؤمن څخه، که خوشحالي ورته ورسيږي نو شکر وباسي او دا د ده لپاره خير دی، او که مصيبت ورته ورسيږي صبر کوي او دا د ده لپاره خير دی"**. مسلم روايت کړی.

## ۱۱. پوښتنه: د صبر ضد څه شی دی؟

**ج - په اطاعت صبر نه کول، له ګناه څخه صبر نه کول، په وينا او يا کړنې سره په تقدير ناخوښي ښکاره کول.**

له ځينو نمونو څخه يې:

- د مرګ هيله.
- د مخونو وهل.
- د جامو څيري کول.
- د احساس خپرول.
- خپل ځان ته د هلاکت خيرې کول.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: **"ثواب(۱) د لوی مصيبت سره دی، او هر کله چې الله د کوم قوم سره مينه ولري، هغوی آزمايي، نو چا چې (د الله په تقدير) خوښي څرګنده کړه، نو د هغه لپاره (د الله له طرفه ) خوښي ده، او څوک چې ناراضه شو نو د هغه لپاره ناخوښي ده"** ترمذي او ابن ماجه روايت کړی دی.

## ۱۲. پوښتنه: خپل مينځ کې له يو بل سره د مرستې کولو خوی ذکر کړه؟

**ج – هغه په حق او خير کې د خلکو يو بل سره مرسته ده.**

د همکارۍ بېلګې:

- د حقوقو په ورکولو کې مرسته.

4 د ظالم په دفع کولو کې مرسته.

4 د اړمنو خلکو د اړتیاوو په پوره کولو کې مرسته.

4 په ټولو نیکو کارونو کی مرسته کول.

4 په ګناه، ضرر او تجاوز کې مرسته نه کول.

الله تعالى فرمايي: ﴿وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ (2)﴾ او تاسو له یو بل سره په نېکۍ او پرهېزګارۍ کې مرسته کوئ او د ګناه او ظلم په کار کې د یو بل مرسته مه کوئ او له الله نه وویرېږئ، بېشکه الله ډېر سخت عذاب ورکوونکی دی. [سورة المائدة: ۲].

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: " **یو مؤمن د بل مؤمن لپاره د ودانۍ په څیر دی؛ چې یو بل کلک نیسي او ټینګوي** » بخاري او مسلم روایت کړی دی.

او رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "**یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، نه پر هغه ظلم کوي، او نه ورسره خیانت کوي، او څوک چې د خپل ورور اړتیاوې پوره کوي، الله د هغه اړتیاوې پوره کوي، او څوک چې له مسلمان غم لرې کړي، الله به د قیامت په ورځ د سختیو څخه یوه سختي له هغه څخه لرې کړي، او څوک چې پر یو مسلمان پرده واچوي، الله به د قیامت په ورځ هغه باندې پرده واچوي.** د بخاري او مسلم روایت.

## ۱۳. پوښتنه: د حیاء د خوی ډولونه کوم دي؟

ج-۱- د الله څخه حیاء کول دا دي: د هغه پاک ذات نافرماني ونکړې.

۲- له خلکو څخه حیاء کول: له هغې جملې څخه، له پوچو او ناوړو ویناوو څخه ډډه کول او د شرمګاه له ښکاره کولو ډډه کول دي.

رسول الله (ﷺ) فرمایلی دی: **"ایمان اویا او څو " - یا: " شپیته او څو" - " څانګې دی، تر ټولو لوړه یې د : لا إِلَهَ إِلَّا اللهُ (له الله پرته بل معبود نشته). وییل دي، او ټیټه یې: له لارې څخه د ضرري شي لرې کول دي. او حیاء د ایمان یوه څانګه ده.»** مسلم روایت کړی دی.

## ۱۴. پوښتنه: د مهربانۍ د خوی ډولونه بیان کړئ؟

ج – پر لویانو مهرباني او د هغوی احترام.

- پر کوچنیانو او ماشومانو مهرباني.
- پر فقیر، مسکین او اړمن مهرباني.
- پر حیواناتو مهرباني، په خوراک ورکولو او زیان نه رسولو سره.

په دې اړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا ده: **"مؤمنان په شفقت، مینې او خواخوږۍ کې د بدن په څیر دي، که یو غړی شکایت وکړي، د بدن پاتې برخه یې په بې خوبۍ او تبې سره نور غړي دګډون لپاره رابلي."** د بخاری او مسلم روایت.

رسول الله (ﷺ) فرمایلي دي: **"رحم کوونکو باندی الله رحم کوي، تاسو د ځمکې پر خلکو رحم وکړئ ترڅو هغه ذات چې په آسمانونو کې دی پر تاسو رحم وکړي."** ابو داود او ترمذي روایت کړی دی.

## ۱۵. پوښتنه: د مینې د خصلت ډولونه څه دي؟

ج- د الله تعالی سره مینه.

الله تعالی فرمایي: ﴿**وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِلَّهِ**﴾ او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی؛ له الله سره په مینه کې ډېر سخت (او کلك) دي [سورة البقرة: ١٦٥].

د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مینه.

هغه وويل: « **قسم په هغه ذات چې زما روح د هغه په لاس کې دی، په تاسو کې هیڅوک تر هغه وخته مؤمن نه شی کیدلای تر څو چې زه ورته له پلار او زوی څخه ګران نه شم**». بخاري روایت کړی دی.

له مؤمنانو سره مینه کول او د هغوی لپاره داسې ښېګڼه خوښول لکه د ځان لپاره.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "**په تاسو کې هیڅوک تر هغې پورې مؤمن نه شي جوړیدلی چې د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ نه کړي چې د ځان لپاره يې خوښوي.**" بخاری روایت کړی دی.

## ۱۶. پوښتنه: بشاشت (ورین تندی او په مخ کې د خوښی اظهار) تعریف کړي.

ج – دا د مخ پراخي، د خوښۍ، موسکا، او مهربانۍ سره، او د خلکو سره د مخکېدو پر مهال د خوښۍ ښکندول دي.

دا د خلکو په مخ کې د تریو تندي نیولو مخالف عمل دی، هغه چې خلک زړه توري کوي.

پدې اړه حدیثونه راغلي دي ، له ابوذر (رضي الله عنه) څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وویل : **له ښېګڼې څخه هیڅ شی سپک مه ګڼه، اګر که د خپل ورور سره په ورین تندي مخامخ شئ.** مسلم روایت کړی دی.

رسول الله (ﷺ) فرمایلي دي: " **د خپل ورور په مخ کې موسکا کول ستا لپاره صدقه ده.**" ترمذي روایت کړی دی.

## ۱۷. پوښتنه: کینه څه شی دی؟

ج– له نورو څخه د نعمت د لرې کیدلو تمه ساتل او یا په نورو د لورینې بد ګڼل.

الله تعالی فرمایلي دی: ﴿وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ (5)﴾ او د کینه کوونکي له شر نه کله چې دی کینه (شروع او ښکاره) کړي. [سورة الفلق: ٥].

له انس بن مالک (رضي الله عنه) څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "**له یو بل سره دښمني، کینه او مخالفت مه کوئ، او یو بل سره - د الله بندګان - ورونه شئ**" بخاري او مسلم روایت کړی دی.

## ١٨. پوښتنه: ملنډې څه شی دی؟

**ج – د خپل مسلمان ورور مسخره کول او سپکول دي، او دا کار روا ندی.**

الله جل جلاله د دې د نهي په اړه فرمایلي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْرًا مِنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ عَسَى أَنْ يَكُنَّ خَيْرًا مِنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (11)﴾.

ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! هېڅ قوم دې په بل قوم پورې مسخرې نه کوي، کېدی شي چې هغوی لده نه ډېر غوره وي، او نه (دې) ښځې په نورو ښځو پورې (مسخرې کوي)، کېدی شي چې هغوی له دوی نه ډېرې غوره وي او تاسو د خپلو ځانونو عیب پلټنه مه کوئ او یو بل په بدو لقبونو (او نومونو) سره مه بلئ، له ایمان راوړو نه وروسته د فسق نامه بده ده او چا چې توبه ونه ویستله، نو هم دغه کسان ظالمان دي. [سورة الحجرات: ١١].

## ١٩. پوښتنه: تواضع او عاجزي تعریف کړئ؟

**ج – دا چې انسان د خلکو په مخ کې خپل ځان اوچت او لوړ و نه شمیري، تر څو خلکو ته سپکاوی او له حق څخه انکار ونه کړي.**

- الله تعالی فرمايي: ﴿وَعِبَادُ الرَّحْمَنِ الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا﴾ او د رحمن بنده ګان هغه دي چې په ځمکه ورو ګرځي. [سورة الفرقان: ٦٣]، یعنی: تواضع کوونکي.

- رسول الله (ﷺ) فرمايلي دي: **"هر څوک چې د الله په وړاندې تواضع وکړي، الله د هغه مقام لوړ او اوچتوي."** مسلم روايت کړی.

- رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: **"الله تعالى ماته وحې وکړه چې تاسو تواضع وکړئ، ترڅو هيڅوک يو پر بل باندې فخر ونه کړي، او هيڅوک يو بل باندې ظلم ونه کړي."** مسلم روايت کړی.

## ۲۰. پوښتنه: حرام تکبر څو ډوله دی؟

ج-۱- حق باندې تکبر، او هغه د حق ردول او نه منل دي.

۲- په خلکو تکبر، او هغه دا چې هغوی کم ګڼل او سپکاوی يې کول.

رسول الله (ﷺ) فرمايلي دي: **"د هغه چا په زړه کې چې د ذرې په اندازه کبر وي جنت ته به داخل نشي."** **يو سړي وويل: آيا يو سړی دا خوښوي چې جامې يې ښې وي او بوټونه يې ښه وي؟ هغه وويل: "الله ښکلی دی او ښکلا خوښوي، تکبر: حق نه منل او خلکو ته په سپکه کتل دی."** مسلم روايت کړی.

**- بَطَرُ الحَقِّ: د حق رد کول، يا له حق څخه انکار کول.**

**- غَمْطُ النَّاسِ: خلکو ته په سپکه کتل.**

**- ښې جامې او ښه بوټان تکبر نه دی.**

## ۲۱. پوښتنه: د حرامې درغلۍ او دوکې څو ډولونه ياد کړئ؟

ج- په پير او پلور کې دوکه کول، او هغه په شيانو کې د عيب پټول دي.

- په زده کړه کې درغلي کول، او همدارنګه د زده کوونکو درغلي (نقل) په آزموينو کې.

- په خبرو کې درغلی لکه په درواغو ګواهی ورکول او دروغ ويل دي.

- په خپلو خبرو او هوکړو باندی عمل او وفا نه کول.

او د درغلۍ ځخه د منعې په اړه، رسول الله صلى الله عليه وسلم د خوراک په يو ډيري تېرييده، او خپل لاس يې په هغه کې د ننه کړ، ګوتې يې لمدې شوې، نو ويې ويل: **اى د خوراک مالکه دا څه دي؟" هغه ويې وويل: د الله رسوله، باران پرې وريدلى دى. هغه وويل: "آيا بهتره نه وه چې دا دې د خوړو په سر کيښودلى وى ترڅو چې خلک يې وګوري؟ څوک چې درغلى وکړى زمونږ له جملې ځخه نه دى.»** مسلم روايت کړى.

**الصبرة: ډيرى.**

## ۲۲. پوښتنه: غيبت څه شى دى؟

**ج د مسلمان وررور په غياب کې هغه په هغه څه يادول چې بد يې ګڼي.**

الله تعالى فرمايي: ﴿**وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ (21)**﴾ او غيبت دې نه کوي ځينې ستاسې د ځينو نورو، آيا په تاسو کې يو کس دا خوښوي چې د خپل وررور غوښه وخوري، په داسې حال کې چې هغه مړ وي، نو تاسو دغه (خوراك) بدګڼئ(١) او له الله نه ووېرېږئ، بېشکه الله ښه توبه قبلوونکى، بې حده رحم کوونکى دى. [سورة الحجرات: ١٢].

## ۲۳. پوښتنه: چغلي تعريف کړه؟

**ج- هغه د خلکو په مينځ کى د خبرو وړل راوړل (شيطانت کول)دي، ترڅو سره خپلو کې وران شي.**

- رسول الله (ﷺ) فرمايلي دي: " **نمام (چغلخور) به جنت ته داخل نشي"** مسلم روايت کړى.

## ۲۴. پوښتنه: تنبلي او سستي څه شى دى؟

**ج- دا د ښه کار کولو په اړه سستي ده، او هغه څه چې انسان يې بايد تر سره کړي.**

د هغې له جملې څخه: په فرایضو او واجباتو کې سستي کول دي.

الله تعالی فرمایلي: ﴿إِنَّ الْمُنَافِقِينَ يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ وَإِذَا قَامُوا إِلَى الصَّلَاةِ قَامُوا كُسَالَى يُرَاءُونَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا (142)﴾.

بېشکه منافقان له الله سره دوکه کوي او الله له دوی سره دوکه کوونکی دی او کله چې دوی لمانځه ته پاځېږي سست(لټې) سره پاځېږي، خلقو ته ځانونه ښيي او الله نه يادوي مګر ډېر لږ. [سورة النساء: ١٤٢].

مؤمن باید سستي، تنبلي، او کښيناستل پرېږدي، او کار او حرکت کې هڅه وکړي او په دې ژوند کې د الله جل جلاله د خوښې په لاره کې زيار وباسي.

٢٥. پوښتنه: د غوسې او قهر دولونه څه دي؟

ج ١- ستايل شوې غوسه: هغه د الله لپاره غوسه کول دي، لکه په کافرانو، منافقانو او يا نورو چې د الله د حرمتونو(عزتمندو شيانو) سپکاوی کوي او تر پښو لاندې کوي يې.

٢- بده غوسه: هغه غوسه ده چې انسان هغه څه وکړي يا يې ووايي چې باید و نه ويل شي.

د نامطلوبې غصې درملنه:

اودس کول.

کېناستل که ولاړ وي ، او څملاستل که ناست وي (استراحت).

په دې اړه باید د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وصیت عملي کړي، چې فرمايي: «غصه مه کوه».

د غوسې پر مهال دې خپل ځان کنټرول کړي.

اعوذ بالله من الشيطان الرجيم، ويل.

چوپتيا(١).

## ۲۶. پوښتنه: جاسوسي څه شی دی؟

ج – د خلکو د عیبونو او رازونو ښکاره کول او لټول دي، هغه څه چې خلک یې له نورو څخه پټوي.

له حرامو بڼو څخه یې:

- د خلکو د کورونو څخه د هغوی د رازونو او خصوصیاتو څخه ځان خبرول.

د خلکو خبرو ته غوږ نیول پرته لدې چې هغوی خبر اوسي.

الله تعالی فرمایي: ﴿وَلَا تَجَسَّسُوا ...﴾ او جاسوسي مه کوئ. [سورة الحجرات: ۱۲].

## ۲۷. پوښتنه: اسراف، بُخل، او سخاوت څه شی دی؟

ج- اسراف: په ناحقه مال لګول.

او ضد یې بُخل دی: د ضرورت په ځای کې مال نه لګول.

او هغه څه چې صحیح دي د هغو ترمینځ حالت دی چې مسلمان باید سخاوت ولري.

الله تعالی فرمایلي: ﴿وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُوا لَمۡ يُسۡرِفُوا وَلَمۡ يَقۡتُرُوا وَكَانَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا (67)﴾.

او هغه کسان دي چې کله انفاق کوي (مال لګوي نو) اسراف نه کوي او بخل هم نه کوي او د دغو (دواړو حالتونو) په مینځ کې میانه حاله وي. [سورة الفرقان ٦٧].

## ۲۸. پوښتنه: بزدلي څه شی دی؟ او زړورتیا څه شی دی؟

ج- بزدلي: له هغه شي څخه ویریدل دي چې ویره ترې په کار نده.

لکه له حق ویلو څخه ویره او په منکر رد نه کول د خلکو له ویرې.

زړورتیا: پر حق اقدام کول، لکه د اسلام او مسلمانانو د دفاع لپاره د جهاد په ډګرونو کې وړاندی کیدل.

**رسول الله صلى الله عليه وسلم به په خپله دعا کې وییل: "ای الله! زه له بزدلۍ څخه تا ته پناه وړم..."**

**رسول الله (ﷺ) فرمايلي دي: "قوی مؤمن د کمزوري مؤمن په پرتله الله ته غوره او محبوب دی، او په ټولوکې خير دی."** مسلم روايت کړی.

## ۲۹. پوښتنه: د ژبې څو ناروا خبرې ذکر کړئ؟

ج – لکه لعنت ويل او ښکنځلې کول.

او يا داسې چې څوک ووايي "حيوان" يا ورته الفاظو په څير.

يا په فحش او بدو الفاظو سره شرمګاه يادول.

رسول الله صلى الله عليه وسلم لدې ټولو څخه منعه کړې ده او فرمايي: **"مؤمن پيغور ورکوونکی او لعنت ويونکی نه وي او نه ښکنځل کوونکی، او بد ژبی"** ترمذي او ابن حبان روايت کړی دی.

## ۳۰. پوښتنه: هغه لاملونه ذکر کړئ چې پر مټ يې مسلمان په ځان کې غوره اخلاق درلودلی شي.

ج-۱- دعا کول، چې الله تا د ښو اخلاقو خاوند کړي او په دې کې درسره مرسته وکړي.

۲- د الله جل جلاله څارنه او دا چې هغه ذات پر تا باندی پوه دی، ستا اوري او تا ويني.

۳- په ياد لره چې غوره اخلاق ثواب لري، او جنت ته د داخليدو لامل ګرځي.

٤- د بد اخلاقو عواقب په ياد ولره او دا چې اور ته د ننوتلو لامل ګرځي.

٥- ښه اخلاق د الله جل جلاله سره مينه او د مخلوق سره مينه پيدا کوي، او بد اخلاق د الله جل جلاله او د مخلوق کرکه راپاروي.

٦- د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سيرت لوستل او د هغه پيروی کول.

۷- له ښو خلکو سره ملګرتيا او د بدو خلکو له ملګرتيا ډډه کول.

* * *

## د دعاګانو او اذکارو څانګه

### ۱. پوښتنه: د ذکر فضیلت څه دی؟

ج- رسول الله (ﷺ) فرمايلي دي: "د هغه چا مثال چې خپل رب يادوي او هغه څوک چې خپل رب نه يادوي د ژوندي او مړي دی." بخاری روايت کړی دی.

- دا ځکه چې د انسان د ژوند ارزښت همدومره دی څومره چې د الله تعالی ذکر کوي.

### ۲. پوښتنه: د ذکر څو ګټې بيان کړئ؟

ج-۱- الله (رحمن) راضي کوي.

۲- شيطان شړي.

۳- مسلمان له شر څخه ساتي.

٤- هغه باندی اجر او ثواب رسيږي.

### ۳. پوښتنه: غوره ذکر کوم دی؟

ج - «لا إله إلا الله» " د الله څخه پرته بل معبود نشته" ترمذي او ابن ماجه روايت کړی دی.

### ۴. پوښتنه: کله چې له خوبه پاڅيږئ څه وايئ؟

ج - «الحمد لله الذي أحيانا بعد ما أماتنا، وإليه النشور»، "د الله ستاينه ده چې موږ يې له مرګ نه وروسته بيا را ژوندي کړو." د بخاری او مسلم روايت.

### ۵. پوښتنه: کله چې خپلې جامې واغوندې څه وايې؟

ج- الحمد لله الذي كساني هذا الثوب ورزقنيه من غير حول مني ولا قوة» د ابوداود او ترمذي او نورو روايت.

### ۶. پوښتنه: کله چې خپلې جامې وباسې څه وايې؟

ج- «بسم الله»، "د الله په نوم". د ترمذي روايت.

### ٧. پوښتنه: د نويو کاليو اغوستلو دعاء څه ده؟

ج – «اللَّهُمَّ لك الحمد أنت كسوتنيه، أسألك خيره وخير ما صنع له، وأعوذ بك من شره وشر ما صنع له». اى الله ستا ستاينه ده، تا ماته جامې واغوستې، زه له تا څخه د هغې د خير او هغه خير چې د هغه لپاره جوړې شوې دي غوښتنه کوم، او د هغه له شر او هغه څه له شر څخه چې د هغه لپاره جوړې شوې ده پناه غواړم ." د ابو داود او ترمذي روايت.

### ٨. پوښتنه: چا چې نوې جامې واغوستې څنګه دعا ورته کوئ؟

ج – هر کله چې دې د چا پر تن نوې جامې وليدلې نو دعا ورته وکړه، او ووايه: «تُبْلِي ويُخلف الله تعالى» يعنى الله دې تاسو ته ډير عمر درکړي چې دا جامې ډيرې مودې لپاره واغوندې تر دې چې زړې شي، او الله دې نورې جامې در کړي. ابوداود روايت کړى.

### ٩. پوښتنه: تشناب ته د ننوتلو دعا ذکر کړئ، چې هغه د قضاى حاجت ځاى دى؟

ج – «اللَّهُمَّ إني أعوذ بك من الخبث والخبائث» اى الله زه پر تا له نارينه او ښځينه شيطانانو څخه پناه غواړم. د بخارى او مسلم روايت.

### ١٠. پوښتنه: له تشناب نه د وتلو دعا څه ده؟

ج – «غفرانك»، "اى الله تانه بخښنه غواړم" د ابو داود او ترمذي روايت .

### ١١. پوښتنه: له اودس نه مخکې څه وايې؟

ج– "بسم الله". د الله په نوم. ابو داود او نورو روايت کړى

۱۲. پوښتنه: له اودس نه وروسته ذکر څه دی؟

ج – «أشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله»

زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته، یوازې او بې شریک دی، او

شاهدي ورکوم چې محمد د هغه بنده او رسول دی. مسلم روایت کړی.

۱۳. پوښتنه: له کور څخه د وتلو په وخت کې دعا ذکر کړئ؟

ج – «بسم الله، توكلت على الله، ولا حول ولا قوة إلا بالله» "د الله په نوم، زه په الله

توکل کوم، او پرته له الله بل هیڅ ځواک او قوت نشته." د ابو داود او ترمذي روایت.

۱۴. پوښتنه: کور ته د ننوتلو لپاره کوم ذکر دی؟

ج – بسم الله ولجنا، وبسم الله خرجنا، وعلى الله ربنا توكلنا "موږ د الله په نوم

داخل شو، او د الله په نوم ووتلو، او په الله مو چې زموږ رب دی توکل کړی." بیا

خپلې کورنۍ ته سلام کوي. د ابو داود روایت.

۱۵. پوښتنه: مسجد ته د ننوتلو دعا څه ده؟

ج – اللَّهُمَّ افتح لي أبواب رحمتك. ای الله زما لپاره د خپل رحمت دروازې

خلاصې کړه.» مسلم روایت کړی دی.

۱۶. پوښتنه: له مسجد څخه د وتلو دعا ذکر کړئ؟

ج – اللَّهُمَّ إني أسألك من فضلك. "اې الله، زه ستا له فضل څخه غواړم." مسلم

روایت کړی.

۱۷. پوښتنه: د اذان د اوریدلو پر مهال څه وایې؟

ج – زه هم هغه څه وایم چې مؤذن یې وایي، پرته لدې: " حي على الصلاة " او "

حي على الفلاح» " نو زه وایم: لا حول ولا قوة إلا بالله. د بخاری او مسلم روایت.

### ۱۸. پوښتنه: له اذان وروسته څه وايې؟

ج- رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې درود، مسلم روايت کړی دی.

او بيا وايې: «اللهم رب هذه الدعوة التامة، والصلاة القائمة، آت محمدًا الوسيلة والفضيلة، وابعثه مقامًا محمودًا الذي وعدته»" **اې الله، د دې کاملې بلنې او د لمانځه ښتنه، محمد ته وسيلې او فضيلت ورکړه، او هغه د ستاينې ځای ته يې ولېږه چې تا ورسره ژمنه کړې وه.**" بخاري روايت کړی دی.

او د اذان او اقامت تر منځ دعاء، ځکه په دې وخت کې دعاء قبلیږی .

### ۱۹. پوښتنه: سهار او ماښام کوم اذکار وايې؟

ج-۱- آيت الكرسي لوستل: ﴿اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ 255﴾

الله (چې دی) نشته هيڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټول عالم انتظام کوونکی دی، پر ده نه پرکالې راځي، او نه خوب، خاص همده لره دي هغه څه چې په آسمانونو کې دي، او هغه څه چې په ځمکه کې دي، څوك دی هغه کس چې د ده په وړاندې به سفارش کوي مګر د ده په اجازت سره؟ هغه پوهېږي پر هر هغه څه چې د دوی په وړاندې دي او پر هر هغه څه چې له دوی وروسته دي، او دوی (مخلوق) د هغه له علم نه هيڅ شی هم نشي راګېرولی، مګر هغه څه چې هغه (الله) يې وغواړي، د هغه کرسی د اسمانونو او د ځمکې ښخه پراخه ده او د دې دواړو ساتنه هغه (الله) نه ستړی کوي، او هم هغه ډېر اوچت دی(۱)، ډېر لوی دی. [سورة البقرة: ۲۵۵].

٢- او دا قرائت کوم: بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (1). (اى نبي!) ته (دوى ته) ووايه: شان دا دى چې الله يو دى.

اللَّهُ الصَّمَدُ (2). هم دا الله بې نيازه (بې حاجته) دى. لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (3). نه يې (څوك) زيږولى دى او نه دى (له چا) زيږول شوى دى.

وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ (4)﴾ او د ده هيڅوك سيال (او) برابر نشته درى ځلې.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ (1). (اى نبي) ته ووايه: زه په رب د سبا پورې پناه نيسم.

مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ (2). د هر هغه شي له شر نه چې ده پيدا کړى دى.

وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ (3). او د تيارې شپې له شر نه کله چې تکه توره (او خوره) شي.

وَمِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ (4). او له شره د هغو (جادوګرو) ښځو چې په غوټو کې پوکې وهونکې دي.

وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ (5)﴾ او د کينه کوونکي له شر څخه کله چې دى کينه (شروع او ښکاره) کړي درى ځلې.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ (1). (اى نبي) ته ووايه: زه د خلقو په رب پورې پناه نيسم.

مَلِكِ النَّاسِ (2). چې د خلقو بادشاه دى.

إِلَٰهِ النَّاسِ (3). د خلقو (حقيقي) معبود دى.

مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ (4). له شره د وسوسې اچوونکي، تښتېدونکي.

الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ (5). هغه چې د خلقو په سينو کې وسوسې اچوي.

مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ (6)﴾. چې (دغه وسوسې اچوونکي) له پېريانو او انسانانو څخه دي درى ځلې.

٣- «اللهم أنت ربي لا إله إلا أنت، خلقتني وأنا عبدك، وأنا على عهدك ووعدك ما استطعت، أعوذ بك من شر ما صنعت، أبوء لك بنعمتك علي، وأبوء بذنبي، فاغفر لي، فإنه لا يغفر الذنوب إلا أنت»

– اى الله! ته زما رب يې، له تا پرته بل معبود نشته، تا زه پيدا کړی يم او زه ستا بنده يم او زه ستا په هوکړې او وعدې باندې تر هغه حده پابند يم چې زه يې توان لرم، زه له تا څخه پناه غواړم له هر هغه څه چې ما کړي دي، پر ما باندې ستا د احسان اعتراف کوم، او په خپله ګناه اقرار کوم، نو ما ته بخښنه وکړه، ځکه چې له تا پرته بل څوک ګناهونه نه بخښي. بخاري روايت کړی.

## ٢٠. پوښتنه: د ويدو کېدو پر مهال څه وايې؟

ج- «باسمك اللهم أموت وأحيا» – اى الله! ستا په نوم، مرم او ژوندی کيږم. متفق عليه.

## ٢١. پوښتنه: د ډوډۍ خوړلو نه مخکې څه وايئ؟

ج- «بسم الله». "د الله په نوم."

**او که په پيل کې مو هېر شول، نو ووايه:**

«بسم الله في أوله وآخره» "د الله په نوم په پيل او پای کې" ابو داود او ترمذي روايت کړی دی

## ٢٢. پوښتنه: کله چې تا خوړل پای ته ورسول څه وايې؟

ج – «الحمد لله الذي أطعمني هذا، ورزقنيه، من غير حول مني ولا قوة» " د الله ستاينه ده چې ما ته يې دا خواړه راکړل، او روزي يې راکړه، پرته زما له کوم ځواک او قوت څخه." ابو داود، ابن ماجه او نورو روايت کړی.

## ٢٣. پوښتنه: د مېلمه د دعا د خوراک د خاوند (کوربه) لپاره څه ده؟

ج- «اللهم بارك لهم فيما رزقتهم، واغفر لهم وارحمهم» "اې الله، په هغه څه چې تا دوی ته ورکړي دي، دوی ته برکت ورکړه، او دوی ته بخښنه وکړه او په دوی رحم وکړه." مسلم روایت کړی دی.

## ۲۴. پوښتنه: کله چې يو انسان وپرنجيږي څه بايد ووايي؟

ج- «الحمد لله». "ستاينه الله لره ده."

او د هغه ورور يا ملګری دې ورته ووايي: «يرحمک الله». "الله دې په تا رحم وکړي."

کله چې ورته دا ووايي: نو هغه دې بيا ورته ووايي: «يهديكم الله ويصلح بالكم».

الله دې تاته هدايت وکړي او چارې دې سمې کړه. بخاري روايت کړی.

## ۲۵. پوښتنه: کله چې تاسو پورته شئ او مجلس پای ته ورسيږي "د مجلس د کفارې دعا" څه وايئ؟

ج – «سبحانك اللهم وبحمدك، أشهد أن لا إله إلا أنت، أستغفرك وأتوب إليك». ای الله ته پاک يې او ستا ستاينه کوم، زه شاهدي ورکوم چې له تا پرته بل معبود نشته، زه ستا څخه بخښنه غواړم او تاته توبه کوم. ابوداود، ترمذي او نورو روايت کړی دی.

## ۲۶. پوښتنه: د سورلۍ دعا څه ده؟

ج - بسم الله، والحمد لله ﴿سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ 13 وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ (14)﴾، «الحمد لله، الحمد لله، الحمد لله، الله أكبر، الله أكبر، الله أكبر، سبحانك اللهم إني ظلمت نفسي فاغفر لي؛ فإنه لا يغفر الذنوب إلا أنت» د الله په نوم، او ثنا خاص الله لره دی. پاکي ده هغه ذات لره چې زمونږ لپاره يې دا مسخر

کړې دی او مونږ ده لره په قابو کې راوستونکي نه یو(۱۳). او بېشکه مونږ خاص خپل رب ته خامخا بېرته ورتلونکي یو. ستاینه خاص الله لره ده، ستاینه خاص الله لره ده، ستاینه خاص الله لره ده، یا الله پاکي تا لره ده، ما خپل نفس باندې ظلم کړی دی نو ما وبخښه؛ ځکه له تا پرته بل څوک ګناهونه نه بخښي.»
ابو داود او ترمذي روایت کړی دی.

## ۲۷. پوښتنه: د سفر دعا ذکر کړه؟

ج – – «الله أكبر، الله أكبر، الله أكبر ﴿سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ 13 وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ 14﴾، اللهم إنا نسألك في سفرنا هذا البر والتقوى ومن العمل ما ترضى، اللهم هون علينا سفرنا هذا، واطو عنا بعده، اللهم أنت الصاحب في السفر، والخليفة في الأهل، اللهم إني أعوذ بك من وعثاء السفر، وكآبة المنظر، وسوء المنقلب، في المال والأهل». – "الله لوی دی، الله لوی دی ، الله لوی دی. پاکي ده هغه ذات لره چې زمونږ لپاره يې دا (سوارلۍ) تابع کړې ده او مونږ د هغه مهاروونکي نه یو(۱۳). او بېشکه مونږ خاص خپل رب ته خامخا بېرته ورتلونکي یو. یا الله په دې سفر کې ستا نه د نیکیو او تقوا غوښتنه کوو او هغه عمل چې ستا خوښ وي، یا الله مونږ ته دغه سفر آسانه کړې، او ددې سفر اوږد والی له مونږ څخه لرې کړې، اې الله ته په سفر کې ملګری یې او په کور کی سرپرست یې، اې الله زه تا ته پناه وړم د سفر له سختیو، له زړه بوګنوونکي منظر او کور ته د ستنیدو پر مهال له ناوړه پېښې څخه په مال او اولاد کې.

**او کله چې بیرته راستون شي، همدغه دعا دې ووايي، او زیاته دې کړي:**

«آيبون، تائبون، عابدون، لربنا حامدون» "مونږ په خير راغلو، له ګناهونو څخه توبه كوونكي، د الله خاص عبادت كوونكي، او د الله په نعمتونو شكر ويستونكي" مسلم روايت كړی.

### ۲۸. پوښتنه: د مسافر دعاء د مقيم لپاره څه ده؟

ج -«أستودعكم الله الذي لا تضيع ودائعه» "زه تاسو الله ته سپارم، هغه ذات چې سپارنې نه ضايع كوي." احمد او ابن ماجه روايت كړی.

### ۲۹. پوښتنه: د مسافر لپاره د اوسيدونكي دعا څه ده؟

ج – «أستودع الله دينك، وأمانتك، وخواتيم عملك» زه ستا دين، امانت او د كار پايله الله ته سپارم. احمد او ترمذي روايت كړی.

### ۳۰. پوښتنه: بازار ته د ننوتلو دعا څه ده؟

ج – «لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك، وله الحمد، يحيي ويميت، وهو حي لا يموت، بيده الخير، وهو على كل شيء قدير» له الله پرته بل معبود نشته، هغه يواځی دی، شريک نه لري، پاچاهي هغه لره ده، او ستاينه هغه لپاره ده، هغه ژوند او مرګ وركوي، هغه ژوندی دی او نه مري، د هغه په لاس كې خير دی، او هغه پر هر څه باندی قادر دی» ترمذي او ابن ماجه روايت كړی دی.

### ۳۱. پوښتنه: د غصې پر مهال دعا ذكر كړئ ؟

ج – «أعوذ بالله من الشيطان الرجيم» "زه الله ته پناه ورم د رټل شوي شيطان څخه" متفق عليه.

### ۳۲. پوښتنه: هغه چاته څه بايد ووايې چې تا سره يې احسان كړی وي؟

ج- «جزاك الله خيرا». "الله دې خير درکړي" ترمذي روايت کړې دی.

**۳۳. پوښتنه: که سوارلۍ ستړي شي څه دعا لري؟**

ج- «بسم الله». "د الله په نوم" ابوداود روايت کړی.

**۳۴. پوښتنه: که ستا لپاره خير پيښ شي نو څه به وايې؟**

ج- «الحمد لله الذي بنعمته تتم الصالحات»" ستاينه الله تعالى لره ده، چې د هغه په فضل سره نيک کارونه سرته رسيږي." حاکم او نورو روايت کړی.

**۳۵. پوښتنه: که تا ته داسې څه پېښ شي چې بد يې ګڼې نو څه به وايې؟**

ج - «الحمد لله على كل حال» "په هر حال، د الله شکر دی." صحيح الجامع

**۳۶. پوښتنه: د سلام کولو او د هغه ځواب په څه شکل وي؟**

ج- مسلمان وايي: السلام عليكم ورحمة الله وبركته.

او ورور يې ورته په ځواب کې وايي: وعليكم السلام ورحمة الله وبركاته. په ترمذي او ابوداود او نورو کې.

**۳۷. پوښتنه: د باران په وخت کې دعا څه ده؟**

ج – «اللهم صيباً نافعاً» "اې الله، دغه باران ګټور کړې." بخاري.

**۳۸. پوښتنه: له باران وروسته دعا څه ده؟**

ج – «مطرنا بفضل الله ورحمته» د الله په فضل او رحمت پر مونږ باران وورید. بخاري او مسلم.

**۳۹. پوښتنه: د باد او سيلۍ دعا ذکر کړئ؟**

ج –«اللهم إني أسألك خيرها وأعوذ بك من شرها» الهی! له تانه د دې د خير سوال کوم، او له شر نه يې پر تا پناه غواړم. أبو داود وابن ماجه

### ۴۰. پوښتنه: کله چې اسمان کې ګړزارۍ شي کومه دعا وايې؟

ج – «سبحان الذي يسبح الرعد بحمده والملائكة من خيفته» "پاکي ده هغه ذات لره چې رعد(۱) يې پاکي وايي سره د هغه د ستايني او ټول ملايک د هغه د ويرې له وجهې " موطأ مالك.

### ۴۱. پوښتنه: کومه دعا (وايې) کله چې کوم مصيبت ځپلی وګورې؟

ج- «الحمد لله الذي عافلي مما ابتلاك به، وفضلني على كثير ممن خلق تفضيلاً» " الله لره ستاينه ده چې زه يې له هغه څه څخه ژغورلی يم چې ته يې وربانديې ګرفتار کړې يې، او ماته يې له ډيرو خلکو څخه په غوره شکل باندی فضيلت راکړی." ترمذي روايت کړی.

### ۴۲. پوښتنه: د هغه چا لپاره دعا چې له نظر کيدلو څخه ويره ولري؟

ج- په حديث کې راغلي دي چې: «**که له تاسو څخه څوک د خپل ورور او يا په خپل ځان کې او يا خپل مال کې څه وګوري چې د هغه خوښ شي، [نو د برکت دعا دې وکړي] ځکه چې بد نظر حق دی.** د احمد، ابن ماجه او نورو روايت.

### ۴۳. پوښتنه: پر رسول الله صلی الله عليه وسلم څنګه درود وايې؟

«اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ»

ياالله! پر محمد صلی الله عليه وسلم او د هغه پرکورنۍ رحمت وورووه لکه پر ابراهيم عليه السلام او د هغه پرکورنۍ دې چې لورولی و، بېشکه ته ستايلی او لوی يې .يا الله !پر محمد او د هغه پر کورنۍ

برکتونه وورو،لکه پر ابراهیم – علیه السلام – او د هغه پرکورنۍ دې چې وروليٰ وو،بیشکه ته ستايلی او لوی یې. متفق علیه.

* * *

## د مختلفو مواردو څانګه

### ۱. پنځه تکلیفي حکمونه کوم دي؟

ج-

1. واجب.
2. مستحب.
3. حرام.
4. مکروه.
5. مباح.

### ۲. پوښتنه: دا پنځه احکام تشریح کړه؟

ج-

۱- فرض: لکه پنځه وخته لمونځ، د رمضان روژه، مور او پلار سره نیکي کول.

**- فرض اداء کوونکي ته اجر او نه کوونکي ته یې سزا ورکول کیږي.**

۲- مستحب: لکه راتبه سنت(۱) لمونځونه، د شپې لمونځ، ډوډۍ او سلام ورکول. او دې ته سنت او مندوب ویل کیږي.

**- د مستحب عمل کوونکي ته اجر ورکول کیږي او نه کوونکي ته یې سزا نه ورکول کیږي.**

مهمه یادونه:

کله چې یو مسلمان واوري چې دا کار سنت یا مستحب دی، په هغه باید په چټکۍ سره عمل وکړي، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیروي وکړي.

۳- حرام: لکه شراب څښل، د مور او پلار نافرماني او د خپلوۍ پرې کول.

- په حرامو عمل نه کوونکي ته اجر ورکول کیږي او عمل کوونکي ته پرې سزا ورکول کیږي.

٤- مکروه - لکه په چپ لاس سره راکړه ورکړه او په لمانځه کې د جامو راټولول.

- د مکروه په پرېښودلو اجر ورکول کیږي او عمل کوونکي ته پرې سزا نه ورکول کیږي.

٥- مباح : لکه د منې خوړل او چای څښل، او دې ته روا او حلال ویل کیږي.

- د مباح په پریښودلو سره جزا نه ورکول کیږي او عمل کوونکي ته یې ثواب نه ورکول کیږي.

### ٣. پوښتنه: د خرڅلاو او راکړې ورکړې حکم څه دی؟

ج – د راکړې ورکړې په ټولو معاملاتو کې اصل دای چې حلال دي، پرته له څینو هغو شیانو څخه چې الله تعالی حرام کړي دي.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰاْۚ﴾ حال دا چې الله اخيستل خرڅول (بيع) حلال کړي دي او سود يې حرام کړی دی [سورة البقرة: ٢٧٥].

### ٤. پوښتنه: د حرامو راکړه ورکړه او معاملاتو ډولونه ذکر کړئ؟

ج-١- دوکه ، د هغه له جملې څخه: په شیانو کې د عیب پټول.

له ابوهريره (رضي الله عنه) څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خوراکي شیانو په یو ډېري تيريده، نو لاس يې پکې دننه کړ، تر دې چې ګوتې

يې لندې شوې. هغه وویل: **دا څه شی دی، اې د خوړو مالکه؟ هغه وویل: باران وهلې دې ای د الله رسوله! هغه وویل: "آیا ښه به نه وه چې دا (لانده)خواړه دې په سر اېښودلې و تر څو يې خلک وګورې؟ څوک چې دوکه کوي زما څخه نه دی.»** مسلم روایت کړی.

**۲- سود : او له هغه جملې څخه دا چې له یو کس څخه زر واخلم او دوه زره بیرته ورکړم.**

**دغه زیاتوالی حرام سود دی.**

الله تعالی فرمايي: ﴿وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰاْۚ﴾ حال دا چې الله اخیستل خرڅول (بیع) حلال کړي دي او سود يې حرام کړی دی [سورة البقرة: ۲۷۵].

**۳- دوکه او جهالت: لکه چې زه د پسه په غولانځه کې شیدې او یا په اوبو کې ماهي په تاسي خرخ کړم او تر اوسه مې نه وي نیولی.**

په حدیث کې: **(رسول الله صلی الله علیه وسلم د غرر له خرڅلاو منع کړې ده)** مسلم روایت کړی.

## ۵. پوښتنه: پر تا د الله تعالی د ځینو نعمتونو یادونه وکړه؟

ج- ۱- د اسلام نعمت، **او دا چې ته له کافرانو څخه نه يې.**

۲- د سنت نعمت، **او دا چې ته له بدعتیانو څخه نه يې.**

۳- د صحت او روغتیا نعمت، **دا چې اورې، ګورې، ګرځې، او داسې نور.**

۴- د خوراک، څښاک او جامو نعمت.

او پر موږ باندې د الله تعالى نعمتونه بې شمېره او بې حسابه دي.

الله تعالى فرمايي: ﴿وإن تَعُدُّوا نِعۡمَةَ ٱللَّهِ لَا تُحۡصُوهَآۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ (18)﴾. او كه چېرې تاسو د الله نعمتونه شمېرل شروع كړئ، (، نو) هغه به ونشمېرلى شئ، بېشكه الله يقينًا ډېر بخښونكى، بې حده رحم كوونكى دى.

[سورة النحل: ١٨].

## ۶. پوښتنه: د نعمتونو په مقابل كې مسؤوليت څه دى؟ د هغې شكر څنګه ادا كړو ؟

ج- زموږ مسوليت: **د هغې شكر ادا كول د الله تعالى په حمد او ثنا په ژبې سره او دا چې يوازې هغه د دې احسان مستحق دى، او له دغو نعمتونو څخه په داسې طريقه ګټه اخيستل چې د الله تعالى رضا وي، نه د هغه په نافرمانۍ كې.**

## ۷. پوښتنه: د مسلمانانو اخترونه كوم دي؟

ج- كوچنى اختر او لوى اختر.

لكه څنګه چې له انس (رضي الله عنه) څخه روايت دى، وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم مدينى ته تشريف راوړ او هغوى د لوبې لپاره دوه ورځې درلودې، هغه پوښتنه وكړه: دا دوه ورځې د څه دي؟ هغوى وويل: د جاهليت په وخت كې مونږ په دې دوو ورځو كې لوبې كولې، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: **"الله د دې په بدل كې تاسو ته دوه غوره شيان دركړل: د لوى اختر ورځ او د كوچني اختر ورځ."** ابوداود روايت كړى.

**او پرته له هغو څخه نور اخترونه بدعت دى.**

## ۸. پوښتنه: غوره مياشت كومه ده؟

ج- د روژې مياشت.

**۹. پوښتنه: غوره ورځ کومه ده؟**

ج- د جمعې ورځ.

**۱۰. پوښتنه: د کال غوره ورځ کومه ده؟**

ج- د عرفې ورځ.

**۱۱. پوښتنه: د کال غوره شپه کومه ده؟**

ج- د قدر شپه.

**۱۲. پوښتنه: که پردی ښځه (نامحرمه) ووينې نو څه بايد وکړې؟**

ج: د سترګو ټيټول واجب دي، الله تعالى فرمايي: ﴿قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ﴾. ته مومنانو ته ووايه چې خپلې سترګې دې (له نامحرمو نه) ټيټې ساتي. [سورة النور: ۳۰].

**۱۳. پوښتنه: د انسان دښمنان څوک دي؟**

- هغه نفس چې د بدی امر کوي ورته: تر څو انسان د هغه څه پيروي وکړي چې د هغه نفس او خواهشات ورته د الله پاک په نافرمانۍ حکم کوي، الله تعالى فرمايي: ﴿إِنَّ ٱلنَّفْسَ لَأَمَّارَةُۢ بِٱلسُّوٓءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓۚ إِنَّ رَبِّي غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾. يقيناً نفس خو په بدۍ سره ډېر حکم کوونکی دی، مګر هغه چې زما رب پرې رحم وکړي، يقيناً زما رب ښه مغفرت کوونکی، بې حده رحم کوونکی دی [سورة يوسف: ۵۳].

۲- شيطان: د بني آدم دښمن دی او هدف يې دا دی چې انسان ګمراه کړي او د بديو په اړه هغه ته وسوسه وکړي ترڅو يې دوزخ ته داخل کړي. الله

تعالی فرمايي: ﴿وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٌ﴾. او د شيطان د قدمونو پيروي مه کوئ، يقيناً هغه ستاسو ښکاره دښمن دی [سورة البقرة: ١٦٨].

٣- بد ملګري: هغه څوک چې بدی ته هڅول کوي او د ښو مخه نيسي.

الله تعالی فرمايي: ﴿الْأَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ﴾. په دغې ورځ کې به خواږه ياران، د دوی ځيني به د ځينو نورو دښمنان وي، غير له متقيانو نه. [سورة الزخرف: 67].

## ١٤. پوښتنه: توبه څه شی دی؟

ج- توبه: د الله تعالی له نافرمانۍ څخه د هغه اطاعت ته راستنېدل دي.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَإِنِّي لَغَفَّارٞ لِّمَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا ثُمَّ ٱهۡتَدَىٰ﴾. او بېشکه زه خامخا ډېر بخښونکی يم هغه چا ته چې توبه وباسي او ايمان راوړي او نېك عمل کوي، بيا په نېغه لار روان اوسي [سورة طه: ٨٢].

## ١٥. پوښتنه: د توبې لپاره کوم شرطونه دي؟

ج-١- د ګناه پرېښودل.

٢- په هغه څه پښيمانه کېدل چې تېر شوي دي.

٣- هغه ته د نه ورګرځيدلو کلکه اراده.

٤- د خلکو د حقونو او شکايتونو ورسپارل او جبرانول.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَٱلَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَٰحِشَةً أَوۡ ظَلَمُوٓا أَنفُسَهُمۡ ذَكَرُوا ٱللَّهَ فَٱسۡتَغۡفَرُوا لِذُنُوبِهِمۡ وَمَن يَغۡفِرُ ٱلذُّنُوبَ إِلَّا ٱللَّهُ وَلَمۡ يُصِرُّوا عَلَىٰ مَا فَعَلُوا وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ (135)﴾. او هغه کسان چې کله څه فاحش کار وکړي، يا پر خپلو ځانونو (بل) ظلم وکړي (نو) الله ياد کړي، (او) وريسې د خپلو ګناهونو لپاره بخښنه وغواړي، او بل څوك دی چې ګناهونه وبخښي پرته له الله نه؟ او څه چې دوی کړي وي په هغو هميشوالی و نه کړي، په دې حال کې چې دوی پوهېږي. [سورة آل عمران: ١٣٥].

۱۶. پوښتنه: پر رسول الله صلی الله علیه وسلم د درود معنی څه ده؟

ج– مطلب دا دی چې ته د الله تعالی څخه وغواړې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ستاینه په آسمان کې وکړي.

۱۷. پوښتنه: د سبحان الله معنی څه ده؟

ج- تسبیح دېته وایي چې الله تعالی له ټولو نیمګړتیاوو، عیبونو او بدیو څخه پاک او منزه دی.

۱۸. پوښتنه: د الحمد لله معنی څه ده؟

ج- د الله جل جلاله ستاینه کول او د کمال په ټولو صفتونو سره بیانول دي.

۱۹. پوښتنه: د الله اکبر څه معنی ده؟

ج- معنی دا چې الله تعالی له هر څه نه لوی، لوړ، او د عزت خاوند دی.

۲۰. پوښتنه: د لا حول ولا قوة الا بالله څه معنی ده؟

ج – معنی یې : بنده له یو حالت څخه بل حالت ته نه بدلیږي، او د الله پرته هغه د بدلولو قدرت نلري.

۲۱. پوښتنه: د أستغفر الله څه معنی ده؟

ج- یعنی: بنده له خپل رب څخه د ګناهونو د پاکولو او د هغه د عیبونو د پټولو غوښتنه کوي.

* * *

## پــا ی

او پــه پــا ی کــې:

دا هغه پوښتنې دی چې مور او پلار یې باید کوچنیانو ته تشریح او تکرار کړي تر څو دوی په سمه وینا، عمل او عقیدې سره لوی شي، او د هغوی پالنه او تربیه له خوراک او پوښاک څخه ډېره اړینه ده، الله تعالى فرمايي: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ قُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَـٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ (6)﴾. ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو خپل ځانونه او خپلې کورنۍ له داسې اور نه وساتئ چې د هغه خشاک خلک او کاڼي دي، په دې باندې ډېر سخت خویه، ځواکمنې ملایکې مقررې دي، چې دوی په هغه څه کې د الله نافرماني نه کوي چې دوی ته یې حکم کړی وي او دوی هغه څه کوي چې دوی ته یې حکم کولی شي. [سورة التحريم: ٦].

رسول الله (ﷺ) فرمایلي دي: **"او سړی په خپل کور کې ساتونکی دی او د لاس لاندې کسانو مسؤول دی، او ښځه د خپل خاوند په کور کې ساتونکې ده او د لاس لاندې کسانو مسؤوله ده.**(۱) د بخاري او مسلم روایت.

او درود دې وي زموږ پر آقا محمد (صلى الله عليه وسلم) او د هغه په کورنۍ او اصحابو.

هغه څه چې مسلمان ماشومان ترې باید ناخبره پاتې نه شي

سریزه ........................................................................ 4
د عقیدې څانګه ........................................................................ 7
د فقهې څانګه ........................................................................ 26
د سیرت النبي څانګه ........................................................................ 50
د تفسیر څانګه ........................................................................ 57
د حدیث څانګه........................................................................ 81
د اسلامي آدابو څانګه........................................................................ 90
د اخلاقو څانګه........................................................................ 103
د دعاګانو او اذکارو څانګه ........................................................................ 118
د مختلفو مواردو څانګه ........................................................................ 130
پای........................................................................ 137

# تعرف على الإسلام

# بأكثر من 100 لغة

موسوعة القرآن الكريم
QuranEnc.com

موسوعة تراجم معاني وتفاسير القرآن الكريم

IslamHouse.com

مرجعية شاملة للتعريف بالإسلام بلغات العالم

موسوعة الأحاديث النبوية
HadeethEnc.com

موسوعة ترجمات الأحاديث النبوية وشروحها

بيان الإسلام
byenah.com

بوابة مبسطة للتعريف بالإسلام وتعلم أحكامه

موسوعة المحتوى الإسلامي
IslamEnc.com


منتقى المحتوى الإسلامي المترجم

ما لا يسع أطفال المسلمين جهله
kids.islamenc.com

منصة ما لا يسع أطفال المسلمين جهله

جمعية الدعوة وتوعية الجاليات بالربوة

جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات




Ps215

978-603-8402-80-1